په ډیره کچه د سږو امبولی به د شدید ستړنوم شاوخوا درد سره میګړی وي، دا ستونزه به ښاپې چې د ښي بطین اسکیمیا له کبله منځته راغلی وي.

Musculoskeletal Chest Pain:

د Musculoskeletal سینې دردونه د یو شمیر حالتونو؛ لکه Costochondritis له کبله وي.

اعراض:

1. درد د ستړنوم هدوکي په یو اړخ کې وي.
2. د سینې خوځښت، سا اخیستلو او ټوخي سره درد ډیریږي.
3. درد به د څو ثانیو تر څو ساعتونو وغځیږي.
4. له تمرین سره تړاو نه لري.
5. ناروغ به د دوایروسي انتاناتو عمومي اعراض لري.

نښې:

1. د ستړنوم هډوکي په یو اړخ کې به څرګند حساسووی یعنې په Chostochondral برخو کې شتون لري.

پلټنې:

نورمال وي.

Dissection of the Aorta:

وینه د ابهر په دیوالونو کې دننه کیږي او د ابهر لومن خرابوي، لنډه دا چې د ابهر څیرې کیدلو له کبله نورې ستونزې منځته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

1. په ناروغ کې ناڅاپي شدید او ځیرې کوونکي دردونه منځته راځی، دا درد د وروستنۍ دواړو Intersoapular برخو ته ولیږدیږي.
2. Carotid او Radial Pluses به نه وي.
3. په دواړو اوږو کې به د وینې فشار توپیر مومي.
4. په ناروغ کې نیورولوژیک افتونه منځته راتلی شي.
5. په ناروغ کې د ابهر Regurgitation شته وي.

پلټنې:

1. د M.I لپاره باید ECG تر سره شي، همدا راز به د کین بطین هایپرترفي د فشار لوړوالي سره یو ځای وي.
2. د سینې ایکسری به پراخ حجاب حاجز وښي.
3. Transesophageal ایکو کارډیو ګرافي به د ابهر څیرې کیدنه وښي.
4. MRI/CT او انجیو ګرافي به وروستۍ تشخیص غوره کړي.

Non Specific Chest Pain:

ځینې وختونه دردونه د نامعلومو لاملونو له کبله منځته راځي، ناروغان نه پوهیږي چې درد د زړه ده او کنه؟

اعراض:

1. ناروغ منځنی عمر لري، خو د اسکمیک ناروغیو کورنۍ تاریخچه به لري.
2. درد به ځیرې کوونکی وي، خو یوازې څو دقیقې دوام کوي.
3. درد به تمرین پورې اړه نه لري.
4. په یخ او بادي هوا پورې درد اړیکه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. د ژبې لاندې نایتریت درد وروسته له 30-20 دقیقو څخه ارام کړي.

نښې:

1. ځانکړې نښې د ازموینو پر مټ پیدا کوو.

پلټنې:

1. ECG به نورمال وي.
2. ETT ته د اسکمیک ناروغیو د شتون پرمهال اړتیا موندل کیږي.

Precordial Catch:

د سینې درد عام ډول دی، چې ناروغ د زړه د ناروغیو د شک له کبله روغتون ته راځي، سبب یې نامعلوم دی.

اعراض:

1. درد به تیز (Sharp)، شدید او کینې ټدیه خواکې وي.
2. د درد دوام له څو ثانیو تر څو دقیقو وي.
3. درد په تمرین او تنفسي خوځښتونو پورې اړه نه لري.
4.

نښې:

1. ازموینې به نورمال وي.

پلټنې:

1. تشخیص په ټولنیزه توګه د کلینیکی نښو په وسیله کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Disease of the spine:

لاملونه:

1. Tuberculosis of spine.
2. Metastases.
3. Trauma.
4. Extradural Tumors of Spinal Cord.

اعراض:

1. درد د یو عصب په مسیر له شا څخه د سینې مخې خواته لیږدیږي.

نښې:

1. د Spine حساسیت او بد شکلي به شتون لري.

پلټنې:

1. په ایکسری کې به د فقراتو غیر نورمال حالت ولیدای شي.

Herpes Zoster:

د وایرس په وسیله د Dorsal Root Ganglion منتن کیدو ته وایي.
Chicken Pox ته ورته وایروس دی، چې ماشومان اخته کوي.

اعراض:

1. بې حسه کیدل، خارښت، سوځیدل، یا درد به د عصب په سیر وجود ولري.
2. یو یوې اونۍ وروسته به Rash ډوله بڼه سر راپورته کړي.

نښې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. په سیروم کې به د Varicella Zoster پروړاندې انتي باډي شتون ولري.

:Complication of Myocardial Infarction

په دوه برخو ویشل شوي دي.

1. Early Complications
2. Late Complications.

Early Complications.

1. Arrhythmias.
   a. Sinus Bradycardia.
   b. Atrial Tachycardia.
   c. Atrial Fibralation.
   d. Ventricular Tachycardia.
   e. Ventricular Defects.
2. Conductive Defects.
   a. Third Degree Heart Block, Second, First.
3. Pulmonary Edema.
4. Cardiac Shock.
5. Pericarditis.
6. Thrombo Embolism

Late Complications.

1. Heart failure.
2. Recurrent arrhythmia.
3. Ventricular aneurysm.
4. Post Myocardial Infarction Syndrome.

د زړه اسکیمیک ناروغیو لپاره پلټنې:

:Myocardial Infraction

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وینې ازموینې:

1. ESR به لوړوي.
2. Leukocytosis به شته وي.

ECG موندنې:

1. ST Segment Elevation.
2. T Wave are Inverted.
3. There are Q Waves.

Cardiac Enzymes:

CK (Creatinine Kinase): د مایوکارډ عضلې د تخریباتو به ښودلو کې رغنده رول لري. په لوکړیو 6 ساعتونو کې پورته کیږي او تر 72 ساعتونو وروسته نورمال حالت ته راځي.

AST (Aspartate Amino Transferase) : په 12 ساعتو کې وروستی برید ته لوړوالی رسوي او په دویمه ورځ نورمال حالت ته راځي.

په ځیګر کې هم شته.

LHD (Lactate Dehydrogenase) : په لومړیو 12 ساعتو کې پیلیږي او تر 3-2 ورځو خپل وروستي برید ته ځان رسوي.

Chest X-ray:

د زړه کچه نورمال وي، خو که زړه غټ شوی وي، د پخواني انفارکشن Pericardial Effusion، اوږد مهاله وینې لوړ فشار څخه ښودنه وکړي.

❋❋❋

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم څپرکی

حاده ساه لنډي

Acute Dyspnea

هغه تنفسي ستونزي چې په حاد ډول د ورځې په اوږدو کې له څو ساعتونو تر څو ورځو دوام وکړي. د زړه او رګونو ، تنفسی سیستم ناروغی د حادې ساه لندی اصلي لاملونه بلل شوی دی.

په حاد ساه لنډي کې دواړه سیستمونه باید ښه ترکتنې لاندې ونیول شي.

لاملونه:

1. Acute Attack of Bronchial Asthma.
2. Acute Pulmonary Edema Due to:
   a. Cardiac Disease (Mitral Stenosis, Acute Left Ventricular Failure).
   b. Non cardiac Disease (Acute Respiratory Distress Syndrome).
3. Pneumonia.
4. Pulmonary Embolism.
5. Spontaneous Pneumothorax.
6. Massive Pleural Effusion.
7. Airway Obstruction.
8. Metabolic Acidosis.
9. Psychogenic.

1. Acute Attack of Bronchial Asthma:

د مختلفو تنبهاتو پر وړاندې د Bronchial Tree فرط حساسیت چې د ځنډنیو التهابي ناروغیو له کبله منځته راشي، د سږو استما ورته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پتوفزیلوژي يې د هوايي لارو د ښوی عضلاتو Spasm ، د مخاطي غشا پرسوب په ډبل والی او سریخناکو افرازاتو پر شتون باندې څرخیږي.
په کلنیک کې به ناروغ پر له پسې Dyspnea ، ټوخی او Wheezing لري.

اعراض:

1. په ناروغ کې ناڅاپي د ساه لنډی حملې منځته راځي، خو ساه لنډي په تمرین پورې اړه نه لري.
2. د Wheezing شتون لري.
3. له حملي سره سم ټوخی، لومړی وچ وي، خو وروسته د سریخناکو او نه وتونکو بلغمو سره ملګری کیږي.
4. له درملنې سره ورو ورو کمښت مومي.
5. که شدیدو حملو له ورځو تر اوونیو دوام وکړي، (Acute attack of Bronchial Asthma Acute Severe) ورته وایي.
6. Nocturnal Awakening د ساه لنډی ، ټوخي او Wheezing سره یو ځای وي، چې د شپې له مخې یې پیښې ډېرې وي.
7. نورو الرژیکو افتونو تاریخچه؛ لکه: Urticarial Eczema, Rhinitis به شتون لري.
8. ناروغي، کورنۍ تاریخچه هم له یاده ونه ایستل شي.

نښې:

1. نبض او تنفس ربټ چټک وی.
2. Pulses Paradoxes به شته وي
3. Central Cyanosis به شته وي.
4. له تنفس سره د نورو مرستندویه عضلاتو برخه اخیستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. د تنفس اواز به Vesicular وي، شهیق به اوږد وي، همدا شان Expiratory-Ronchia به هم اوریدل کیږي.
6. که حمله ډیره شدیده وي، تنفسي اواز ونه نه اوریدل کیږي.
7. EET (Forced Expiratory Time) به اوږد وي، پّ نورمال حالت کې له ۱۰ ثانیو هم کم وي.

پلټنې:

1. د وینې معاینات به Eosinophilia وښيي.
2. د سینې ایکسری نورمال یا به Hyperinflation وي.
3. په بلغم کې به Eosinophilia شته وي، یعنی Crystals Charcot-Leyden بڼه ولري.
4. PEFR (Peak Expiratory Flow Rate) به ټیټ وي، نورمال کچه یې تر 400-600lit/min پاکل شوی دي.

د Bronchial Asthma د شدیدو حملو کلینکي بڼه:

1. Heart > 110 L/min.
2. Pulses Paradoxes.
3. Respiratory rate > 28 L/min
4. Active Accessory Muscle of Expiration.
5. Patient is Unable to Speek in sentences.
6. Silent Chest.
7. Central Cyanosis.
8. PEFR < 150 L/min.
9. Low paO_2 & Normal or High pa Co_2.

1. Acute Pulmonary Edema:

د کینې زړه حاده کفایه د حاد سږو پرسوب اصلی لامل جوړوي، د سږو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وریدي فشار لوړیږي، معایعات ډیریږي او نه شي کولی چې لمفاوي ډریناژ تر سره کړي.
که د سږو حاد پرسوب له زړه څخه سرچینه واخلي، ځینې وختونه دې ډول ته (Cardiac Asthma) هم وایي.

اعراض:

1. ناروغ به شدیده ساه لنډي او د زړه تپکان لري.
2. ساه لنډي په ملاستې حالت کې ډیریږي، چې دې ډول ته Orthopnea وایي.
3. له بد بویه سریخناکه بلغمو شتون سره یو ځای توخی وی.
4. ناروغ به د ساه لنډۍ تاریخچه هم لري.

نبضې:

1. Tachycardia.
2. Pulsus Alternans به شته وي، نبض به قوي او د یو کمزوري بل نبض په تعقیب منځته راځي.
3. Central Cyanosis به شته وي.
4. د زړه دریم او څلورم اوازونه به اوریدل کیږي، یعنی Gallop Rhythm یا Triple Rhythm به شته وي.
5. Crepitation ښایي واوریدل شي.
6. ښایي چې د لاندې ناروغیو نبضې هم ولیدای شي،

Congenital Heart , Valvular Heart Disease , Hypertension Disease.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلتنې:

د سینې په ایکسری کې لاندې ګډوډۍ په ګوته شي.

1. Cardiomegaly د کینې بطین د عدم کفایې له کبله.
2. Mitral Valve په ناروغیو کې د زړه کینې سرحد نیغ وي.
3. سږو په پورتنۍ برخه کې د غښتلي وریدونو ننبې.
4. Acute Pulmonary Edema.
5. Kerley's B Lines (لمفاوي غوټې غټې ښکاري.
6. Bat Wing Appearance (غښتلي وریدونه) Prominent Vascular Marking.
7. ECG به کینې اذیني هایپرتروفي ، کینې بطین هایپروفروفي راوښي.

Diffrentail Diagnosis of Bronchial Asthma & Acute Pulmonary Edema of Cardiac Origin.

د حادې ساه لنډۍ دوه اړین لاملونه د برانکیل استما شدید حملې او د سږو حاد برسوب جوړوي.

ددې دواړو لاملونو تر منځ توپیر کول د درملنې په موخه ډیر اړین دی، خو ځینې وختونه یو څه ستونزمن کیږي.

Acute Pulmonary Edema(Cardic asthma)او Bronchial Asthma تفریقی تشخیص

history	Bronchial Asthma	Cardic asthma
عمر	زیاتره ماشومانو کې پیل کوي او ځوانانو کې هم وي	متوسط عمر څخه وروسته او ځوانانو کې هم وي په تیره د زړه ولادي ناروغي او روماتیک ناروغي
تودخی	بارز وي	بارزنه وي
بلغم	لږ ،چسپناکه او پلن وي	نری،ځګ لري او وینه لري
ویزینګ	معمولا بارز وي	غیرمعمول وي
دناروغ وضیعت	ناروغ کښینی او دلاسونو په تکیه سره قدام خواته خم شوی وي او	ناروغ دملاستی وضیعت خوښوی خو نفس تنګی ورسره زیاتیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

	اضافی تنفسی عضلاتو کارزیات وی	
پخوانی تاریخچه	دعین حملی مخکینی تاریخچه لری او دپوستکی او پوزی دالرژی تاریخچه لری	دجهدی نفس تنگی ،د PND,chest pain,IHD,HTN تاریخچه لری
کورنی تاریخچه	دالرژی او داستما تاریخچه مثبت وی	د IHD,HTN تاریخچه مثبت وی
examination		
Pulse	Tachycardia in sever state Pulsus paradoxus	Tachycardia and pulsus alternance
Respiratory system	Expiratory rhonchi and silent chest in grave state	
CVS	Normal	Gallops rhythm and underlying diseases
Investigation		
Blood examination	Eosinophilia , leukocytosis	Normal
CHX	Normal , bronchovascular marking , hyper inflation	Cardiomegaly, kerly's B line, Bat wing sign
ECG	RVH,RAD	LAH,LVH ,IHD,LAD
ECHO	Normal, RV enlargement	LV enlargement , LV dysfunction , underlying heart diseases
PCWP	Normal	High

Acute Respiratory Distress Syndrome:

د سږو دا ډول پرسوب د زړه له لاملونو څخه نه وي، خو د شریانونو نفوذیه قابلیت او Alveoli ته د مایع له Leakage څخه منځته راتلای شي.

لاملونه:

1. Severe Sepsis.
2. Major Trauma.
3. Aspiration of Gastric Contents.
4. Acute Pacreatitis.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

په ناروغ کې ښکاره ډول سره د افت شتون او د ساه لنډۍ شدت ډ پریږي.

نښې:

1. ناروغ به Cyanosed وي.
2. تنفسي ریټ به ګړندی وي.
3. سینه کې به Crepitation شته وي.
4. زړه به نورمال وي.

پلټنې:

په ګوګل ایکسری کې به دوه اړخیز خپور شوی Patchy Opacities تر سترګو شي.

د سږو Wedge فشار به لوړ وي.

Pneumonias:

د سینه بغل ښودونکي نښه ښایي نمونیا جوړه کړي.

Pulmonary Embolism:

د ژورو وریدونو ترمبوزس د Embolism اصلی سرچینه جوړوي، په هغه ناروغانو کې ډ پر منځته راځي، چې په بستر محکوم وي.

نور مساعد کوونکي فکتورونه یې د حوصلې عملیاتونه، د لګن خاصرې انتانات، اوږد مهاله سفرونه، د حمل ضد درملونه او Pregnancy بللی شو.

اعراض:

1. ناروغي به د شدید ډ ساه لنډۍ سره پیل شي، ښایي پرله پسی هم شي.
2. د ستړنوم شاوخوا ناارامي، درد به د نښې بطین د اسکیمیا او د کرونري

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریانو د وینې د حرکت د کمښت له کبله منځته راتلاي شي، او له M.I سره توپیر کیدای شي.

نښې:

1. ناروغ به په ویره کې وي.
2. ناروغ به Tachycardia, Tachypnea او Hypotension ولري.
3. JVP به د (a) څپې پ لوړوالي سره ولیدای شي.
4. د نبض بطین Heave به جس شي، Gallop Rhythm اوریدل کیدای شي.
5. د ژورو وریدونو ترمبوزس به شته وي.

پلټنې:

1. د سینې ایکسری به نورمال وي.
2. په ECG کې به Right Bundle Branch, Right Axix Divation Block او د سږو امبولیزم تغیرات تر ستر ګو شي، یعني (S_1 , Q_3 , T_3 یا S1,2,3 په تغیر وي).
3. وینې ازموینې به ټیټ PO_2 او PCo_2 وښي.
4. د Plasma D-Dimer کچه به لوړه وي.
5. Echocardiography ډیره اړینه ده.
6. Pulmonary Angiography , CT , MRI به د یند شوط برخي اصلی ځای په ګوته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Pneumothorax:

د پلورا پـه تشـه کـې د هـوا شـتون تـه وا ېې، لاملونـه يـي مختلـف دي، چـې لاندې به ترې يادونه وشي.

1. دنامعلوم علت له کبله پيدا کيږي
2. کيداي شي چې د apical sub-pleural bleb دخيـري کيـدو لـه امله وي.
3. د ويمي نمو توراکس د COPD، استما ، کيستيک فبروزس د حيض په وخت کي catamenal نمو تو راکس په نوم يا ديږي.
4. کا ويتي افت.
5. دسږو کيست.
6. نوماتوسيل.

اعراض:

1. ناڅاپي درد سره بـه نـاروغ د پـه سـينه کـې د نيـوونکي درد ، سـاه لنډۍ ځخه يادونه وکړي.
2. د سيني پلوراي د رد د فعتا پيل کوي.
3. ساه لنډي.
4. تکيپنيا.
5. تکي کارد يا.
6. د سيني تناظر خراب وي (ماوف طرف بلج وي).
7. ما وفه طرف کي تنفسي اوازونه ښکته وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښې:

1. ټراخیا مقابل ته بیځایه کیږي.
2. Percussion Note به Hyperresonant وي.
3. سني خوځښت، Vocal Fremitus، د سینې اوازونه به په افت اخته شوي اړخ کې ټیټ وي، د تنفس اواز به Amphoric وي.
4. Coin test به مثبت وي.

د Pneumothorax ډولونه:

1. Spontaneous Pneumothorax: چې پرته له ضربې پ سینه کې نموتورکس جوړ شي.
2. Primary Spontaneous Pneumothorax: په ځوانو وګرو کې د Pleura له څیړې کیدو څخه منځته راځي.
3. Secondary Spontaneous Pneumothorax: د سږو د ناروغیو له کبله منځته راځي.
4. Traumatic Pneumothorax: د د Line CVP , Pleural Aspiration اختلاط له کبله منځته راځي.
5. Tension Pneumothorax: د پلورا په تشه فشار راتلو ته وایي.

په بیړني ډول درملني ته اړتیا لري، په دویمي بین الضلعي مسافه کې یو غټ Needle سینې ته داخل او د تشخیص لپاره هوا ایستل کیږي.

پلټنې:

1. د سینې د ایکسرې پ̌وسیله تشخیص اینبودل کیږي.
2. د سینې په ایکسرې کې د سږو له نښو پرته به Hypertranslucency شته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Massive Pleural Effusion:

له حادې ساه لنډۍ سره یو ځای به په ډیره کچه پلورا کې مایع راټوله شوې وي.

Airway Obstruction:

1. د غټو هوایي لارو د بندښت اصلي لامل د Laryngeal پرسوب او Foreign Body جوړوي.
2. ساه لنډي، Stridor او Cyanosis به هم تر سترګو شي.
3. بیړنۍ Tracheostomy ته اړتیا موندل کیږي.

Metabolic Acidosis:

د کاربن ډای اکساید د منځه وړلو لپاره به ناروغ ژور او چټک تنفس کوي.

لاملونه:

1. Renal Failure.
2. Diabetic Ketoacidosis.
3. Lactacidosis.
4. Salicylate Poising.

Psychogenic Dyspnea:

1. ناروغ به ویره او Hyperventilates وي، د ionized کلسیم د کمښت له کبله به ناروغ کې تنفسي Alkalosis او تیتاني منځته راتلای شي.
2. د خوب پر مهال به ساه اخیستل نورمال وي.
3. کتنې به نورمال وي.

❋❋❋

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېیم څېرکی

ځنډنی ساه لنډي

Chronic Dyspnea

په ځنډنی استما کې ناروغان په اوږد مهاله ډول سره له میاشتو تر کلونو پورې ساه لنډی لري.
په ځینو وختونو کې ځنډنی Bronchial Asthma د ناروغی په شدت کې ونډه اخلي.

لاملونه:

1. Heart failure.
2. Chronic Bronchitis, Emphysema.
3. Chronic Bronchial Asthma.
4. Intersitial Lung Disease.
5. Severe Anemia.
6. Obesity.
7. Psychogenic.

1. Heart Failure:

د نورمال دندې د خرابوالي له کبله زړه نه شي کولای، چې ټول بدن ته له اړتیا سره سم وینه ولیږدوي، ددې افت په منځته راوړلو کې د کیڼ او ښي زړه عدم کفایه ډیر رول لري.
د وخت په تیریدو سره دوه اړخیز بطیني عدم کفایه پرمختګ کوي.
د زړه احتقاني عدم کفایه بله ستونزه ده، چې د زړه عدم کفایې ته لار هواروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کین زړه عدم کفایه:

لاملونه:

1. Hypertension.
2. Ischemic Heart Disease.
3. Mitral Stenosis (There is failure of left atrium only, Left Ventricle is normal).
4. Mitral Regurgitation.
5. Aortic Stenosis.
6. Aortic Regurgitation.
7. Ventricular Septal Defect.
8. Cardiomyopathy.

اعراض:

1. ناروغ له تمرین سره یوځای ساه لنډي لري.
2. د کین زړه په خفیفه عدم کفایه کې کمه اندازه ساه لنډي وي، یعنی یوازې د منډئی وهلو او په زینه پورته کیدلو کې.
3. په شدید کین بطین عدم کفایه ناروغ د عادي قدم وهلو سره هم ساه لنډي لري.
4. ساه لنډي له هموار څملاستو سره ډیریږي، چې Orthopnea ورته وایي، لامل یې دا دی چې په ښکتني اطرافو ، ګیډه کې راټوله شوې مایه د سینې خواته راپورته کیږي او ساه لنډي منځته راوړي.
5. ځینې وختونه د شپې ناوخته ناروغ له خوب را پاڅي او د شدیدې ساه لنډۍ څخه رنځ ګالي، کله چې له خوب راویښ شي، په وینو ککړ شوی بلغم به په ټوخي کې تر سترګو شي، له خوبه ویښېدل او یادې ستونزې ته Paroxysmal Nocturnal Dyspnea وایي.
6. د زړه د عدم کفایې نور کلینیکي اعراض ستړیا ، کمزوري، بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشتهايي، د وزن بايللو او Nocturia بللی شو.

د کين زړه عدم کفايه:

اعراض:

1. Exertional Dyspnea.
2. Paraxysmal Nocturnal Dyspnea.
3. Orthopnea.

نبض:

1. Tachycardia.
2. Pulsus Alternans.
3. Gallop Rhythm.
4. Basal Crepitation.

پلتنې:

د سينې ايکسری:

1. Cardiomegaly.
2. Other Features of Acute Pulmonary Edema.

ECG:

1. Heart Disease Left Atrial, left Ventricular Hypertrophy Ischemic.

Echocardiography:

1. Abnarmalities of Function and Structure of the Heart.
2. Catheterization.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. Pulmonary Capillary Wedge Presssure is Raised.

نښې:

1. په خفیف حالت کې کومه نښه نه شو لیدلی، تشخیص د ساه لنډۍ په تاریخچه او د زړه ناروغیو تاکلی شو.
2. ناروغ به Tachycardia لري.
3. Pulsus Alternanse.
4. Apex Beat به ښکته خواته بیځایه شوی وي.
5. Gallop Rhythm (دریم او څلورم د زړه اواز) به واوریدل شي.
6. د شهیق په وروستۍ برخه کې به Crepitation واوریدل شي.
7. د Pleural Effusion نښې هم ښاپې شته وي.
8. د Valvular Heart Disease, Hypertension او Congenital Heart Disease نښې به تر سترګو شي.

پلټنې:

1. د سینې ایکسری به ټولې یا یو څو غیر نورمال حالتونه او نښې چې په Pulmonary Edema کې تر یادونه وشوه ولري.
2. په ECG کې به کین بطین غټوالي، Ischemic Heart Disease خپلې نښې راوښیي.
3. Echocardiography به پراخ زړه او (Ejection Fraction) سره وښیي.

د ښي زړه عدم کفایه:

لاملونه:

1. Secondary to Left heart Failure.
2. Ischemic heart Disease.
3. Cor-pulmonale.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. Cardiomyopathy.
5. Pulmonary Stenosis.
6. Atrial septal Defect.
7. Tricuspid Stenosis/ Regurgitation.

د نورمال کین زړه سره د ښي زړه عدم کفایي لاملونه:

1. Cor-Pulmonale.
2. Right Ventricular Infarction.
3. Pulmonary Stenosis.
4. Atrial Septal Defect.
5. Tricuspid Stenosis/ Regurgitation.

اعراض:

1. ناروغ به د تمرین پر مهال ساه لنډي او د پښو پړسوب لري.
2. زړه بدوالی به عام وي.
3. د ګیډې د ښي پورتنۍ برخې درد، چې ښایي د Hepatomegaly له وجې وي.

نښې:

1. JVP به لوړ وي، د غاړې وریدونه به نبضاني وي.
2. ځیګر به غټ او حساس وي.
3. د Sacrum او ښنګري په ساحه کې به Pitting Edema شته وي.
4. حبن او Pleural Effusion به پرمختللو ناروغیو کې عام وي.

پلټنې:

1. د سینې په ایکسری کې به پراخ ښي دهلیز تر سترګو شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښې زړه عدم کفایه:

د زړه عدم کفایه ته مساعد کوونکي فکتورونه:

1. Anemia.
2. Infection.
3. Excess Salt & Fluid Intake.
4. Thyrotoxix cosis.
5. Pregnancy.
6. Infective Endocarditis.
7. Arrythmias.
8. Physical Overexertion.
9. ECG به د ښې بطين عدم کفايه، د ښې دهليز غټوالی او Right Bundle Branch را به ګوته کړي.
10. Echocardiography به پراخ زړه وښيي.
11. په Catheterization کې به CVP (Central Venous Pressure) لوړ وي.

Pulmonary Emphysema/ Chronic Bronchitis:

Chronic Obstructive Pulmonary/ (COPD of COAD) Airway Disease د دې دواړو حالتونو لپاره کارول کيږي.

د دې ناروغيو ښودنه د هوا په محدوديت پورې تړلې ده، د سګريټ څکول يې تر ټولو عام لامل بلل شوی، خو نور لاملونه يې هم شته لکه د هوا ککړتيا، د محيط ناپاکوالی او نور.

د ځنډني Bronchitis ناروغان د وخت په تيريدو سره په Emphysema اخته کيږي، چې دا په خپله د هوا بې لارو د بندښت ښودنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Pulmonary Emphysema/ Chronic Bronchitis تفریقی تشخیص

feature	Emphysema	Chronic bronchitis
Exertional dyspnea	It is sever and main symptoms	Mild
cough	After dyspnea	Befor dyspnea
sputum	Scanty,mucoid	Copious ,mucoid,mucopurulent,
infection	Less frequent	Very frequent
Respiratory failure	In terminal event	Repeatedly ,frequently
cyanosis	In terminal event	Frequently,commonly
Pul HTN	In late event,mildly	In early,commonly
Cor pulmonal	Rarely, pinkpuffer,polycythemia,breathlessness	Common, cyanosis,blue bloater
CXR	Hyperinflation , hyperluscence,wide intercostal space, small heart,bullous seen	Bronchovascular marking is seen, cardiomegaly,
Gas transfer factor	Reduced	Normal or mildly reduced

Chronic Bronchitis:

هغه ناروغان چې د دوه کالو پورې هر کال دري میاشتې بلغم لرونکی ټوخی ولري، په Chronic Bronchitis اخته شوي، پدی شرط چی نور لاملونه لکه نری رنځ او Bronchiectasis ته وی.

دا ناروغان به هوایي لارو په تنګوالي برسېره مخاطي پرسوب او د مخاط ډېر افراز سره مخ وي.

اعراض:

1. د بلغم لرونکي ټوخي پرله پسې حملې به شته وي، په وروستیو کې ټول کال ټوخی شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. بلغم به مخاطي، قيحي مخاطي او ځيني وختونه په وينو ککړوي.
3. ساه لنډي له Wheezing سره ډيره عام وي.
4. خپلسری ټوخی (يعني د شپې له خوا خپلسري ټوخی)، د بلغم به وتلو سره ښه کيږي.

نښې:

1. د تنفس اواز به نورمال وي، يعني اوږد زفير به موجود وي.
2. د Emphysema فزيکي نښې به شته وي.
3. په شديدو حالتونو کې ناروغ Cyanosed کيږي.

پلټنې:

1. د ګوګل ايکسری به نورمال وي، Broncho vascular نښې به غښتلې وي.
2. د سږو د ندیز ټستوټونه به تنګښت را په ګوته کړي.
3. په لومړيو وختونو کې د Gas تبدیل نورمال وي، په وروستيو کې PO_2 ټيټ وي، خو PCO_2 لوړ وي.
4. دويمي Polycythemia به شته وي.

:Pulmonary Emphyema

د سږو په Emphysema کې به غير نورمال پراخوالی د انساجو په منځ کې شته وي.

اعراض:

1. ناروغ به له تمرين سره يو ځای ساه لنډي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښې:

لاندې نښې په Emphysema کې پرمختګ کوي.

1. Purse Lip Breathing
2. د سینې د مرستندویه عضلاتو کارونه زیات وی.
3. د تراخیا کچه کمیږي.
4. Indrawing of Intercostal Space
5. د سینې مخکینی او وروستنې قطر ډیریږي.
6. د سینې خوځښتونه اود سینې توسع، کمښت مومي.
7. Percussion Note به نورمال وي، د زړه او ځیګر Dullnes کمیږي.
8. زفیر اوږدیږي او په وروستیو کې Cyanosis منځته راځي.

پلټنې:

1. د سینې ایکسری د Emphysema نښې ښودلی شي.
2. دویمي Polycythemia عامه وي.
3. د سږو دندیزې ازموینې بندښت رابنودلی شي.
4. د Gas Transfer Factor به کمښت کوی.
5. د وینې ګازات نورمال وي.

د Emphysema فزیکي نښې:

ساه لنډی دامفیزیما لومړنی اعرض دی چی وروورو زیاتیږی ،لومړی دتمرین سره وی وروسته داستراحت په وخت هم وی.ټوخی نه وی اویا وروسته په لږه اندازه وی.

pink puffer د امفیزیما شدید ډول دي چې لاندي اوصاف لري

1. expiratory pursed-lip breathing په ټرلي شونډو و زفیر کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. دښه ساه اخیستلو لپاره نا روغ کیښینې قدام خواته ټوخ شوي وي او په دواړو لاسو نو تکیه کوي
3. شدید ساه لنډي وي
4. بلغم لرل او یا نه وي
5. داستراحت په حالت کې لړ ها ییپو کسیمیا وي
6. سړي خاموشه وي اضافي اوازونه نه اوریدل کیږي
7. وزن کم وي
8. دپښو پړسوپ نه وي
9. مخلوط ډول بلو بلا تر او پنګ پفر سره یو ځای وي
10. RV, FRC, TLC نارمل یا لړ زیات وي

د Emphysema رادیولوژیک نښې:

د سږو اکسری (سږی hyperluscence او hyperinflation وي او بولا نښای موجود ، vascular marking کم شوی وی او TLC (total lungs capacity) زیات وی. زړه کوچنی ښکاری. که چیرې د residual valium (RV) او total lung capacity(TLC) نسبت زیات وي (RV/ TLC ratio) دهوا په بند ید و (امفیزیما) باندې دلالت کوي.

د COPD اختلاطات:

1. Pulmonary Bullae.
2. Spontaneous Pneumothorax.
3. Respiratory Failure.
4. Cor-Pulmonale.
5. Secondary Polycythemia.
6.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Chronic Bronchial Asthma:

حملوي او ځنډني بڼې سره برانکیل استما منځته راتلای شي، حملوي ډول سره بندښت ښه والی مومي او ناروغ اصلي حالت ته ګرځي، په ځنډني حالت کی هوایي لارې تنګیږي او د ژوند تر وروستې برخې پورې انسان نه ښه کیږي.

ډیر وخت ناروغانو کې بلغم لرونکی ټوخی هم موجود وي، ټوپیري تشخیص د Chronic Bronchial asthma او Chronic Asthamic Bronchial د تاریخچې له مخې کوو.

په Chronic Asthmaric Bronchial کې د بلغم لرونکي ټوخی اوږده تاریخچه، چې په وروستیو Wheezing ورسره ملګری وي منځته راځي، خو په Chronic Bronchial Asthma کې د Wheezing اوږدې تاریخچې سره چې په وروستیو کې بلغم لرونکی ټوخی منځته راځي، ښه ټوپیر کولای شو.

Interstitial Lung Disease:

یو شمیر بیل بیلې ناروغې دي، چې په خپور ډول د سږو پرانکمیل اخته کوی.

اعراض:

1. Extertional Dyspnea شتون.
2. د دوه اړخیز شهیقي Crepitation شتون، چې له ټوخي سره اړیکه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاملونه:

1. Environmental lung diseases or pneumoconiosis
2. Interstitial pneumonia
3. Drugs(antibiotics,amiodarone)
4. Radiation
5. Connective tissue diseases
6. sarcoidosis

پلټنې:

1. د مچیو د ځالو په څیر سوري لرونکي جوړښتونه به په ایکسری کې ولیدای شي.
2. CT سکن د تشخیص په تاکلو کې مرسته کوي.
3. FEV_1 او FVC به اوږد وي.

Anemia:

1. د هیموګلوبین غلظت په وینه کې د اکسیجن لیږد کثافت رابنودلی شي.

Obesity: په چاقو وګړو کې د ساه لنډۍ پیښې ډیرې وي.

Psychogenic Dyspnea:

ځینې ناروغان پرته له دې چې نورې ناروغۍ ولري، له ساه لنډې څخه یادونه کوي، دلته ښه ده، چې بشپړه او سمه تاریخچه واخیستل شي.

د ښي زړه عدم کفایه توپیري تشخیص:

1. Pericardial Effusion.
2. Constrictive Pericarditis.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. *Pericardial Effusion:*

لاملونه:

1. Tuberculosis.
2. Pyogenic Infection.
3. Viral Infection.
4. Malignancy.
5. Uremia.
6. Connective Tissue Disorders.
7. Myxedema.
8. Idiopathic.

اعراض:

1. د پریکارډ د التهاب له کبله به د سینې درد موجود وي.
2. ساه لنډي به عام عرض نه وي، ناروغ به Orthopnea ولري.

نبني:

1. نبض به د کم حجم درلودونکی وي.
2. Pulsus Paradouxus به شته وي.
3. د غاړې وریدونه غښتلی وي.
4. ځیګر به غټ او حساس وي.
5. د پښو پړسوب به تر ستړګو شي.
6. Abex Beat به نه جس کیږي.

پلټنې:

1. په سینې ایکسری کې به د زړه د سیوري نبنې به ډیرې غښتلې ښکاري.
2. ایکو کارډیګرافی به د مایع شتون را په ګوته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. د مایع را ایستل او د هغې کتنه.

2. *Constrictive Pericarditis*:

لاملونه:

1. Tuberculosis.
2. Pyogenic Pericarditis.
3. Viral Pericarditis.
4. Rheumatoid Arthritis.
5. Hemopericardium.
6. Idiopathic.

اعراض:

1. ناروغ د ګیډې پړسوب، پښو پړسوب، کمزوری، ستړیا څخه یادونه کوي.
2. تاریخچه کې به د Pericarditis له کبله د Precordial Pain شتون ولري.

نبض:

1. د نبض حجم به کمزوری وي.
2. Pulsus Paradoxus به شته وي.
3. JVP به لوړه وي.
4. Kusssmaul's Sign به شتون لري.
5. Apex Beat به هم څه کمزوری وي.
6. Pericardial Knock به اوریدل کیږي.
7. ځیکر به غټ او حساس وي.
8. توری به غټ شوي وي.
9. حبن به د پښو له پړسوب سره یو ځای وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلټنې:

1. د ګوګل ایکسری کې به زړه کوچنی وي، د پریکارډ کلسفیکشن به تر سترګو کیږي.
2. ECG به د Twave ټیټه څپه وښي.
3. ایکوکارډګرافي به د پریکارډ ډبل والی وښي، CT scan /MRI د ډبلې پلورا سره تشخیص وروستي برید ته ورسوي.

Cardiomyopathy:

هغه ناروغي ده، چې نیغ په نیغه د زړه مایوکارډ د حملې لاندې نیسي، خو دا ناروغي د Hypertension، ولادی، رګونو، کرونري شریانو یا پریکارډ ناروغیو له کبله منځته نه راځي.

Dilated Cardiomyopathy:

کله چې مایوکارډ ونه شي کولای په برابر ډول وینه پمپ کړي، نو په معاوضوي ډول سره زړه پراخیږي، دې ډول ته Remodeling وایي، چې له امله یې د زړه عدم کفایې ته لار هواریږي.

اعراض او نښې:

1. د سینې په ایکسری به زړه غټ شوی وي.
2. ECG به Arrhythmias, Sinus Tachycardia او Conductive Defects را په ګوته کړي.
3. ECHO به پراخ شوی زړه راوښیي.

Restrictive Cardiomyopathy:

د بطین دیوالونه به شخ شوي وي، او زړه به نه شي کولای د Diastole په صفحه کې پراخ شي، ځکه نو بطینات نه ډکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلینیک له مخې لاندې برخو ته پام کوو:

1. Apex Beat به اسانۍ سره جس شي.
2. د مایترل عدم کفایې مرمر به واوریدل شي.
3. Pericordial Calcification او ډبلوالی به د سینې ایکسری او ECHO پرمخ وګورو.
4. وروستی تشخیص د Endomyocardial Biopsy په وسیله کوو.

:Obstructive Cardiomyopathy

دې ته Hypertrophic Obstructive Cardiomyopathy هم وایي، ناروغان به Septal هایپرتروفي لري.

اعراض:

1. په ماشومانو او ځوانانو کی د مړینې ناڅاپي سبب جوړوي.
2. نور اعراض لکه: Syncope, Angina او ستړیا.

نبض:

1. نبض به Jerky وي.
2. Apex Beat به ډبل وي.
3. د زړه څلورم اواز به واوریدل شي.
4. Ejection Systolic Murmur به شته وي.

پلټنې:

1. په ECG کې د کین بطین هایپرتروفي، ژور Q Wave ، Arrhythmias
2. په ECHO کې به Septal Hypertrophy ولیدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Myocarditis:

1. دا افت د انتاناتو په تېره وایروسي انتاناتو له کبله منځته راځي.
2. ناروغ به د زړه عدم کفایه یا Arrhythmias لري.
3. ناڅاپي مړینه شونې ده.
4. څرګنده فزیکي نښه نه تر سترګو کیږي، Pericordial Rub به شتون ولري.
5. د نورو ناروغیو د نه شتون پر مهال به نښه تشخیص په ځوانانو کې د arrhythmias په شتون ورکړل شي.
6. ناروغ په سمه توګه له روغتیا برخمن کیدلی شي.

Pneumoconiosis:

د منرالي مواد له انشاق څخه وروسته پورته افت منځته راځي.

اعراض:

د ساه لنډۍ، ډیروالی او ځنډنی توخی یې عام اعراض دی.

نښې:

1. د Pneumoconisis کومه ځانګړې نښه نه تر سترګو کیږي.
2. Scattered Crepitation او Ronchi به واوریدل کیدای شي.

پلټنې:

1. د ګوګل ایکسری به Microndodular Opacities په خپور شوي شکل سره وښیو په وروستیو کې په ډېره کچه نوډول ته ورته جوړښتونه او Fibrosis منځته راتلای شي.
2. Egg Shell Calcification د Hilar Nodes به ولیدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. د پلورا Calcification به شتون ولري.

❋❋❋

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم څپرکی

د زړه ولادی ناروغۍ

Congenital Heart Disease

د مرکز سیانوزس ته په کتو د زړه زیږوني ناروغۍ په دوه ډلو ویشل شوي دي.

A. Acyanotic Congenital Heart Disease.
1. Ventricular Septal Defect.
2. Atrial Septal Defect.
3. Persistent Ductus Arteriousis.
4. Coarctation of The Aorta.

B. Cyanotic Congenital Heart Disease.
1. Fallot's Tetralogy.
2. Transposition of The Great Arteries.

درې اړینې کړنلارې چې له مخې یې د زړه زیږونې ناروغۍ په اسانۍ سره څرګندولی شو.

1. MRI.
2. Angiocardiography.
3. Echocardiography.

Ventricular Septal Defect(VSD):

د بطینانو ترمنځ د پردې سوري والي ته وایي، په کښې بطین کې به فشار د ښي بطین څخه لوړوي، یعني د وینې لیږد (Blood Flow) به له کښې څخه ښي خواته ډېر وي.

اعراض:

1. که VSD کچه ډېره وي، په 3-6 اوونیو کې د زړه عدم کفایه پرمختګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، په کوچني VSD کې له کوچنیوالي تر ځوانۍ کم اعراض نه وي.

نښې:

1. د نبض کچه به ډېره وي.
2. د زړه څوکه (Apex Beat) ټکان به کې خواته بیځایه شوي وي.
3. Systolic Thrill به په کې ستړنوم سرحد کې جس شي.
4. لومړی اواز به نورمال یا یو څه لوړ شوی وي.
5. Pansystolic Murmar به د ستړنوم په کې اړخ څلورمه بین الضلعی مسافه کې واوریدل شي.

د VSD نښې:

1. Apex Beat Shifted to The Left.
2. Systolic Thrill at Parasternal Border.
3. Normal S_1.
4. Pan Systolic Murmar in Forth Inter Costal Space.

پلټنې:

1. د سینې په ایکرۍ کې به Cardiomegaly ولیدای شي.
2. ECG به د کې بطین غټوالی وښیي.
3. ECHO وروستی او سم تشخیص را په ګوته کولای شي.

Persistent Ductus Atreriosus (PDA):

د رحم په دننه کې د ژوند پر مهال سږي دنده تر سره کوي، نو وینه د سږو شریان څخه د Ducuts له لاري ابحر ته ځي، په نورمال حالت کې Ductus د زیږون وروسته بند یږي، خو ځینې وختونه خلاص پاتې شي.
په ابحر کې د سږو شریان (pulmonary Artery) په پرتله فشار لوړوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه پر له پسې Shunting له ابحر څخه د سږو شریان ته دوام مومي.

اعراض:

1. د ماشوم وده ځنډني وي.
2. په ناروغ کې د زړه عدم کفایه منځته راځي.

نبني:

1. یو Systolic Thrill به د کینې دویمې پښتې په سټرنوم برخه کې واوریدل شي.
2. پرله پسې (Machinery) مرمر به له Systolic Accentuation سره یو ځای واوریدل شي.

پلټنې:

1. سینې به د سږو شریان پراخیدل را به ګوته کړي.
2. ECG به نورمال وي.
3. ECHO به اخته شوي د سام برخه راوښیي.

Coaractation of the Aorta:

ناروغ به Systolic Hypertension ولري.

نبني:

1. Femural نبض به د Radial نبض په پرتله کمزوری یا وروسته اوریدل کیږي. (Radio-Femural Delay)
2. پورتنې اطراف کې به فشار لوړ په ښکتني اطراف کې ټیټ یا نورمال وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلټنې:

1. سینې ایکسری به د پښتیو آره ډوله (Notching) جوړښتونه وښیي.
2. په ECG کې به کین بطین غټوالی تر سترګو شي.

Fallot's Tetralogy:

د زړه ډېره عامه زیږوني ده، چې زړه به لاندې جوړښتیزې ستونزې لري.

1. Pulmonary Stenosis.
2. Ventricular Septal Defect.
3. Overriding of Aorta.
4. Right Ventricular Hypertrophy.

اعراض:

1. Cyanosis د زیږون پرمهال نه وي، خو وروسته له یوې اوونۍ یا میاشتې پرمختګ کوي.
2. په ماشومانو کې ساه لنډې، ستړیا منځته راځي.

نبضې:

1. مرکزي سیانوزس.
2. په کین درییمه، څلورمه بین الضلعي مسافه کې به Systolic Thrill اوریدل کیږي.
3. P_2 به نرم یا نه اوریدل کیږي.

پلټنې:

1. د سینې ایکسری کې نورمال د سږو انحنا نه تر سترګو کیږي.
2. ECG د کین بطین غټوالی ښیي.
3. د وروستي تشخیص لپاره ECHO ډیره اړینه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Transposition of the Great Arteries:

ابحر له ښي بطين سره نښي او د سږو شريان د کيڼ بطين سره نښتی، کله چې د دهليزونو تر منځ يا هم د بطيناتو تر منځ غټ سوری (Defect) منځته راغلی وي، نو پاکه وينه (Oxygenated Blood) د کيڼ زړه څخه ښي زړه او ابحر ته تيريږي، چې دې ستونزې ته Transposition Great arteries وايي.

اعراض:

1. د ساه بندوالي او Blue Discoloration يې عام اعراض دي.

نښې:

1. مرکزي سيانوزس (Central Cyanosis) به له زيږون ورځې راهيسې شته وي.
2. نورې نښې د ASD او VSD د افت په شتون پورې اړه لري.

پلټنې:

1. د سينې ايکسری او ECG به د افت پوره ښودنه وکړي.
2. ECHO به تشخيص وروستي بريد ته ورسوي.
3. Venography به د زړه د رګونو اناټومي او ستونزې راوښيي.

Eisenmeger's Syndrome:

هغه ناروغان چې Ventricular Septal Defect ، Atrial Septal Defect او Ductus Atreiosus لري.

هغوی کې په تدريجي ډول Pulmonary Hypertension منځته راځی، کله چې د سږو فشار لوړ شي وينه واپس را ګرځي دلته نو وينه له کيڼ څخه ښي او بيا له ښي څخه کيڼ زړه ته ځي يعنی سره ګډوډه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ستونزې په پایله کې Cyanosis منځته راځي چې دې حالت ته Eisenmenger's Syndrome وایي.

Pulmonary Hypertension:

د سږو د شریان نورمال منځنی فشار 25/10 (Mean 15mm) ده، که دا فشار 30/15 (Mean 20mmHg) ته پورته شي Pulmonary Hypertension ورته وایي.

لاملونه:

د سږو لومړنی هایپرتنشن لامل دزړه او سږو ناروغی نه دی. په ځوانانو او متوسط عمر ښځینو وکی وی چی دښئي زړه دعدم کفایي لامل کیږی.

د سږو دثانوی هایپرتنشن اسباب عبارت دی له:

1. د سږو مزمن ناروغی
   a. مزمن برانکایتس
   b. امفزیما
   c. د سږو فبروزس
2. د سږو دوینی جریان زیاتوالی
   a. Left to right shunt (ASD,VSD,PDA)
3. د سږو وریدی فشار زیاتوالی
   a. مترال دسام تنګوالی
   b. کین زړه عدم کفایه
   c. مترال دسام عدم کفایه
   d. د سږو ترومبو امبولیزم
4.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

1. د ښي زړه د عدم کفایې نښې ډیرې غښتلې وي.
2. نور اعراض یې د سږو لوړوالي پورې اړه لري؛ لکه Syncope ، د سینې درد او پر له پسې Hemoptysis.

نښې:

1. د غاړې وریدجس کیدل او غښتلی (a) څپه د ښي بطین غټوالی له کبله.
2. P_2 به د جس وړ وي.
3. کین Parasternal Heave به د ښي بطین د غټوالي له امله واوریدل شي.
4. د سږو په ساحه کې Ejection غږ واوریدل شي.
5. P_2 به لوړ وي.
6. د زړه دوهم غږ (S_2) به Split وي.
7. Diastolic Murmar به Pulmonary Regurgitation له کبله واوریدل شي، چې دې ډول مرمر ته Graham-Steel Murmar هم وایي.

پلټنې:

1. ECG به د ښي بطین او ښې دهلیز غټوالی را په ګوته کړي.
2. Echocardiography به د ښي بطین غټوالی راوښي.
3. د Catheter په وسیله نیغ د سږو شریان فشار تاکلی شو.

Systemic Hypertension:

د روغتیایي ستونزو یوه اړینه برخه جوړوي، د عمر په ډیریدو سره فشار هم لوړیږي پ هتیره Systolic Pressure په نارینه وو کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وینې نورمال فشار له 130/85mmHg څخه کم دی، که د وینې فشار 140/90mmHg یا له دې پورته شو Hypertension ورته وایي.
د 130-139mmHg سیستولیک او 85-89mmHg ډیاستولیک ترمنځ فشار ته لوړ نورمال فشار وایي.
د نورو خطر فکتورونو په پام کې نیول؛ لکه د کرونري شریان ناروغی، د سګریټ څکول، Hyperlipidemia، Ischemia Heart Disease او Diabetes Mellitus سره کا بو شي.

د لوړ فشار به څرنګه تشخیص کوو:

د فشار کتلو دمخه باید ناروغ دمه وي، د وینې فشار به دواړو متونو کې وکتل شي، نورمالې کچې په نظر کې ونیول شي، خو که په ځینو وګړو فشار تر 210/120 وي، نو Target Organ Damage به شتون لري.

Labile (borderline) Hypertension:

د وینې فشار ځینې وختونه لوړ وي، خو هر وخت نه وي.

Malignant Hypertension:

دې ډل وینې فشار لوړوالي سره به ناروغ Paplledema هم لري.

Accelerated Hypertension:

په 90-85 سلنه وګړو کې د دې ډول فشار لوړوالي لامل نه وي څرکند.

Hypertensive Crisis: پدی حالت کی اکسلریتد هایپرتنشن د زړه او رګونو د ستونځو (Sequel) سره یوځای وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

White Coat Hypertension: پدی حالت کي د وينې فشار داکتر ته د مراجعي په وخت کي د سترس له کبله لوړيږي.

Mask hypertension

هغه حالت ته وايي چی دوينی فشار په کور کی زيات شی .

Hypertensive Urgency & Emergency

دHypertensive Urgency په پېښو کې فشار بايد د څو لړو ساعتونو په موده کې بايد کنترول شي،چې په دی کې شديد بی عرضه هايپرتنشن (SBP>220 او DBP> 125mmhg) د Optic disck edema او Sever Perioperative HTN ګډون لری. په دی حالت کې زرقي درملنی ته اړتيا نشته.

په Emergency Hypertensive کې د مړينی او معيوبيت د کمولو په موخه فشار بايد د يو ساعت څخه په لړه موده کې کنترول کړائ شي. په دی حالت کي دياستوليک فشار د 130 څخه لوړ وي . په ايمرجنسی کې هايپرتنسيف Encephalopathy ، هايپرتنسيف نفروپتي، intracranial hemorrhage ، aortic dissection ، preeclampsia- eclampsia ، pulmonary edema ، unstable angina او myocardial infarction ناروغان شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هایپرتنسیف کې ایمرجنسی معمولا زرقی درملنی توصیه کیږی په تېره بیا چی انسفالوپتی موجود وي. د ایمرجنسی د درملنی لومړنی موخه داده چې د دقیقو اویا یو الا دوه ساعتو موده کې د وینی فشار د 25% څخه زیات ټیټ نه شي او وروسته د 6 -2 ساعتو موده کې فشار 160/100 حدودو ته راوستل شي. د فشار ډېر ټیټول د قلبي، دماغي او کلیوي اسکیمیا د تشدید سبب کیږي.

Classification of Blood Pressure for Adults:

Classification (JNC7)	Systolic pressure	Diastolic pressure
	mmHg	mmHg
Normal	90–119	60–79
High normal or prehypertension	120–139	80–89
Stage 1 hypertension	140–159	90–99
Stage 2 hypertension	≥160	≥100
Isolated systolic hypertension	≥140	<90

(c) ketabton.com: The Digital Library

Secondary Hypertension:

په 15-10 سلنه ناروغانو کې د څرکندو ناروغیو له کبله فشار لوړیږي، چې دې ډول فشار لوړوالي ته secondary Hypertension وایي.

د Secondary Hypertension لاملونه:

1. Coarctation of aorta
2. Renal disease
3. Endocrine disorders
4. Neurologic disorders

Primary Hypertension

Contributing factors

1. SNS activity
2. Diabetes mellitus
3. Sodium intake
4. Excessive alcohol intake

Risk Factors for Primary Hypertension

1. Age (> 55 for men; > 65 for women)
2. Alcohol
3. Cigarette smoking
4. Diabetes mellitus

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. Elevated serum lipids

6. Excess dietary sodium

7. Gender

8. history

9. Obesity (BMI >30)

10. Ethnicity (African Americans)

11. Sedentary lifestyle

12. Socioeconomic status

13. Stress

اعراض:

1. په شدید فشار لوړوالي کې ناروغان د سهار له مخې د Occipital ناحيې درد لری، چې د څو ساعتو لپاره دوام کوي.
2. ناروغ به ګنګسیت، زړه ټکان، Impotance ژر ستړي کیدو څخه سر ټکوي.
3. ناروغ به د فشار اوړوالي اختلاطات؛ لکه Epistaxis، Hematuria ، Bluring Vision، Angina، Heart failure او Transient Ischemic Disease.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Secondary Hypertension منځته راتلو کلنیکي بڼه:

نبني:

1. Puffines of Face.
2. Edema Feet.
3. Fundoscopy for Retina.
4. Palpation & Ascultation of Carotiol for Narrowing.
5. Heaving Apex Beat, Loud A_2 . 3^{rd} , 4^{rd} Heart Sound.
6. Basal Crepitation.

پلتنې:

1. Urine Analysis (Proteins, Red Cell, Costs).
2. Hemoglobin.
3. Fasting Glucose.
4. Potassium, Sodium, Serum Creatinine, Blood Urea.
5. Fasting Lipid Profile.
6. ECG.

Effect of Hypertension:

1. Effects on the Heart.
    1. Concentric Hypertension.
    2. Heart Failure.
    3. Ischemic on the Heart Disease.
2. Effects on the Nervous System.
    1. Retinopathy.
    2. Cerebral Infarction.
    3. Hypertensive Encephalopathy.
3. Effects on the Kidney.

- Arteriolar Nephrosclerosis & Renal Failure.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Hypertensive Encephalopathy:

د وينې فشار شديد لوړوالي سره يوځای د شعور له منځه تلل، Retinopathy، Papiledema او احتلاج شتون ته وايي.

د سیستیک فشار لوړوالي اختلاطات:

1. Cronary Artery Disease.
2. Cerebrovascular Disease.
3. Peripheral Vascular Disease.
4. Chronic Renal Failure.
5. Hypertensive Retinopathy.



(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم څپرکی

د زړه ددسامونواو ولادی ناروغی

Valvular & Congenital Heart

Valvular Heart Disease

د زړه والونه داسې جوړ شوي چې کولای شي یوازې یو اړخ ته وینه ولیږدوي، یعنې له دهلیزونو څخه بطیناتو ته Mitral, Tricuspid په وسیله او له بطیناتو څخه غټو شریانو ته د (Aortic, Pulmonary)له لارې وینه لیږدوي.ځینې وختونه والونه تنګیږي (Stenosis) چې نه شي کولای وینه په کې جیریان ومومي.ددې افتونو تر ټولو عام لامل د والونو تخریب او Rheumatic Fever بلل شوي.

Mitral Stenosis:

د مایټرال د سام تنګوالي ته وایي، چې د Rheumatic تبه یې مهم لامل دی. د وخت په تیریدو سره د سام تنک او فایبروزس په کې منځته راځي.

اعراض:

1. ناروغ به Exertional Dyspnea یا د دمې پر مهال د سږو د پرسوب له کبله شدیده ساه لنډي.
2. Hemoptysis په نرډي وختونو کې.
3. په وروستیو مرحلو کې د سږو Hypertension له کبله پّ ناروغ کې د ښې زړه عدم کفایه منځته راځي.
4. په تیرو وختونو کې به د بندونو له درد سره یو ځای تبې (Rheumatic Fever) تاریخچه شته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبض:

1. نبض به Irregulary Irregular (Atrial Fibrillation) وي.
2. Apex Beat به Tapping وي.
3. Diastolic Thrill به د زړه په قاعده کې جس کيږي.
4. د زړه لومړني اواز به لوړ وي.
5. د زړه دويم اواز پسې به څيرمه Opening Snap اوريدل کيږي.
6. د زړه په قاعده کې به Mid Diastolic Murmar د Pre-Systolic Accentuation سره واوريدل شي.
7. د سږو د فشار لوړوالی نبض به شتون ولري.

پلتنې:

1. د سينې په ايکسری کې به زړه کې سرحد نيغ ښکاري.
2. ECG به P-Mitral (P-Bifid Wave) ښکاري، د ښي بطين هايپروهروفي هم تر سترګو کيږي.

د Pulmonary Hypertension نبض:

1. Prominent “O” Wave in the Jugalar Venous pulse.
2. Palpable P2.
3. Left Parasternal Heave.
4. Loud P2.
5. Closely Split S2.
6. Graham-Steel Murmur.

د Mitral Stenosis نبض:

1. Tapping Apex Beat.
2. Diastolic Thrill ay Apex.
3. Loud First Heart Sound.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. Opening Snap.
5. Mid Diastolic.

د Mitral Stenosis اختلاطات:

1. Acute Pulmonary Edema.
2. Pulonary Hypertension Due to Right Heart Failure.
3. Atrial Fibrillation.
4. Thrombo-Embolism.
5. Infective Endocarditis.
6. Hemoptysis.
7. Dysphagia Due to Compression of Esophagus.

د Atrial Fibrillation لاملونه:

1. Mitral Stenosis.
2. Ischemia Heart Disease.
3. Thyrotoxicosis.
4. Hypertension.

Mitral Regurgitation:

Rheumatic Fever يې غوره لامل دی، د Papillary عضلاتو اسکیمیا او د کین بطین پراخوالی هم د مایټرال د سام عدم کفایه منځته راوړي.

اعراض:

1. د مایټرال د سام تنګوالي ته ورته اعراض ورکوي.

نبض:

1. نبض به High Volume وي.
2. د زړه څوکه (Apex Beat) کین اړخ ته لیږدیږي.
3. د زړه په قاعده کې Systolic Thrill اوریدل کیږي.
4. S_1 د زړه لومړنی اواز به ټیټ اوریدل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. Pan Systolic Murmur به هم تر غوږو کیږي.

د Mitral Regurgitation نښې:

1. Apex Beat Shifted To The Left.
2. Systolic Thrill at The Apex.
3. Soft S_1.
4. Pan systolic Murmur at The Apex.

1. د سینې په ایکسری کې به کین بطین غټوالی او د زړه کین سرحد نیغ والی تر سترګو شي.
2. ECG به P-Mitral ، د کین دهلیز او کین بطین غټوالی وښیي.
3. وروستی تشخیص د ECHO په وسیله کوو.

Tricuspid Stenosis:

Tricuspid د سام هر وخت د Mitral د سام تنګوالي له کبله تنګیږي، د مرمر بڼه یې د Mitral د سام تنګوالي سره توپیر نه لري.

Tricuspid Regurgatation:

د نبي بطین پراخوالی یې اصلي لامل جوړوي.

اعراض:

1. د نبي زړه عدم کفایه سره ورته اعراض کوي.

نښې:

1. د غاړې وریدحس کې به اوږد Systolic څپه جس شي.
2. ځیګر به Pulsatile وي.
3. د نبي بطین Heave به شته وي.
4. Pan Systolic مرمر اوریدل کیدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Tricuspid Regurgatation نښې:

1. Large Systolic Wave in The Jugulav Venous Pulse.
2. Pulsatile Liver.
3. Right Ventricular Heave.
4. Pansystolic Murmar.

پلټنې:

1. د سينې ايکسری به د ښي بطين غټوالي.
2. ECG کې به د ښي بطين غټوالی وښيي.
3. وروستی تشخيص په ECHO ښايو.

Aortic Stenosis:

د ابحر عدم کفايه ښايي چې زيږوني يا هم د Rheumatic Fever له کبله منځته راشي، په ابحر د سام کې استحالوي تغيرات يې بل لامل ګڼل شوي.

Stenosis هر وخت لپاره د سامي وي، خم ځيني وختونه د سام پورتنۍ او ښکتنۍ برخه هم په افت اخته کيږي.

اعراض:

1. د کينې زړه د عدم کفايې امراضو سره يو ځای به وګړي Angina, Syncope يا Arrhythmias لري.

نښې:

1. نبض به ورو ورو پورته غورځي.
2. د نبض فشار به کم وي.
3. د زړه څوکه به بيځايه شوی وي، په غاړه کې Thrill هم ښايي واوريدل شي (Carotid Shudder).

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. د ابحر په ساحه کې Systolic Thrill اوریدل کیږي.
5. Ejection Systolic Murmor به د اوریدو وړ وي، غاړې ته خپریږي له زفیر سره لوړوالی مومي.
6. په د سامي ابحر تنګوالي کې Systolic Click هم اوریدلی شو.

د ابحر تنګوالي نښې:

1. Slow Rising Pulse.
2. Well Sustained Heave.
3. Systolic Thrill at The Aortic Area.
4. Carotid Shudder.
5. Ejection Systolic Murmor.
6. Soft A_2.

پلټنې:

1. د سینې په ایکسری به کې بطین غټ شوی ښکاري.
2. ECG به د کې بطین غټوالی وښیي.
3. ECHO وروستی تشخیص تاکي.

Aortic Regurgitation:

د ابحر عدم کفایه د Rheumatic fever ، Congenital Bicuspid Valve ، Infection Endocarditis او Marfan's Syndrome له کبله منځته راځي.

اعراض:

1. د کې زړه عدم کفایې او Angina په څېر اعراض لري.

نښې:

1. نبض به collapsing وي، یعنې Pistol Shot اواز به په Femural

(c) ketabton.com: The Digital Library

Artery کې اوریدلی شو.
2. د نبض فشار به پراخ وي.
3. د زړه څوکه به کین خواته بیځایه شوی وي.
4. A_2 به یو څه لوړ وي.
5. یو Earlydiastolic Murmor به اوریدل کیږي خو په کینه درییمه بین الضلعي مسافه کې.

د ابحر عدم کفایي نښې:

1. Collapsing Pulse.
2. Soft A_2.
3. Early Diastolic Murmor.

پلټنې:

1. د سینې ایکسری به د کین بطین غټوالی وښیي.
2. ECG کې به د کین بطین غټوالی څرګند شي.
3. ECHO به تشخیص وروستی کړي.

:Pulmonary Stenosis

اعراض:

1. ځینې وختونه ناروغان بې اعراضو وي.
2. په شدید سړو وریدتنګوالی کې ناروغ د شدیدې ساه لنډی او Syncope څخه ښه ورځ نه لري.

نښې:

1. د ښي بطین Heave به جس شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. د Pulmonary ساحه کې به Systolic Thrill جس شي.
3. P_2 به کمزوری وي.
4. Systolic Click به اوریدل کیږي.
5. Ejection Systolic Murmor به اوریدل شي، چې کینې اوږې خواته هم خپریږي.

پلټنې:

1. د سینې ایکسری د پلمو نري دسام تنګوالی او د شریان پراخوالی ښیي.
2. په ECG کې به د ښي دهلیز او ښي بطین غټوالی وښیي.
3. ECHO به تشخیص وروستی کړي.

Pulmonary Regurgitation:

په Pulmonary ساحه کې به Early Diastolic Murmor اوریدلی شي. هغه مهال ښه اوریدل کیږي، چې ناروغ ساه اخلي او مخې خواته ټیټ شي، ډیرې پیښېدونکي لامل یې د سږو د دسام پراخوالی د Pulmonary Hypertension له کبله ده، دې ډول مرمر ته چې د سږو د وریدد عدم کفایې سبب شي، Grahamsteel Murmar ورته وایي.

❊❊❊

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم څپرکی

د پلورا تشه کې د مایع راټولېدنه

Pleural Effusion

Pleural Effusion مانا د پلورا په تشه کې د مایع راغونډېل، خو Empyema (Pus د پلورا په تشه کې) او Hemothorax (وینه د پلورا په تشه کې) په دې برخه کې ګډون نه لري.

د پلورايي مايع او د هغه د پروټين غلظت ته په کتو سره په دوه برخو وېشل شوی.

لاملونه:

A. Exudate (More Then 3 Grams Proteins/dl).
1. Tuberculosis.
2. Malignancy.
3. Para Pneumonie.
4. Pulmonary Infarction.
5. (Rheumatoid Arthritis. SLE) Connective Tissue Disorder.
B. Transudate (Less Then 3 Grams Proteins/dl)
1. Congestive Cardiac Failure.
2. Hypoproteinemia Including Nephrotic Syndrome.
3. Hypothyroidism.
4. Meig's Syndrome (Can Be Exudate Too).

5. Exudate: چې د پروټين کچه له 3grams/dl څخه ډېره وي.

6. Transudate: د پروټين کچه به له 3grams/dl څخه لږه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Exudate مایع به د لاندې درپیو Crieteria درلودونکی وي:

a. د پلورایي مایع د پروټین او سیروم پروټین نسبت به له 0.5< څخه ډېر وي.

b. د پلورایي مایع، LDH او سیروم LDH نسبت به له 0.6< څخه ډېر وي.

c. د پلورایي مایع LDH به درې برابره له پورتني سیروم مچې څخه ډېر وي.

په پلورایي مایع کې د X-Ray موندنې:

د سږو په قاعده او Costophrenic زاویه کې به سپین رنګه کثافت ولیدای شي، پورتنی سرحد به یې یو څه محدب وي.

د مایع کچه به ډېره وي، چې له املې به یې منصف (Mediastinum) بې ځایه شوی وي.

Ultrasound تر ټولو ښه معاینه ده، چې په کمه کچه مایع هم څرګندولی شي.

د پلورا په تشه کې د مایع د راټولېدو فزیکي نښې:

1. په افت ککړ شوی اړخ به Bulging لري.
2. د سینې خوځښتونو به کمښت کړی وي.
3. تراخیا او Apex Beat به مقابل خواته بېځایه شوی وي.
4. Vocal Frematus به کمښت کړی وي.
5. Percussion Note به Stony Dull وي.
6. Breath Sound به له منځه تللی وي.
7. Vocal Resonale به ښکته شوی وي.

1. Tuberculosis:

توبرکلوز (نری رنځ) کولای شي، چې پلورا او د هغه مایع اخته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

د سږو نوری رنځ کلنیکي بڼه یې د یادولو وړ ده، چې ناروغ به Dyspnea او د سینې پلوریټیک دردونه لري.

نښې:

په فزیکي معاینه کې به یو اړخیز د مایع راټولېدنې ټولې نښې شته وي.

پلټنې:

1. ESR به لوړ شوی وي.
2. Tuberculine ټسټ به مثبت وي.
3. د ګوګل په X-Ray کې به د سږو د څوکې په برخه کې Infiltration د سږو د توبرکلوز په څېر نښې ورکړي.
4. د مایع ایستل او د هغې بېلا بېلې ازموینې د تشخیص وروستی بریدراته ټاکلی شي.
5. (توبرکلوزیک مایع کې به مایع بوس رنګه (Strew Color) وي، چې Exudative او لمفوسایتیک حجرات به ولري.
6. په پلورایي مایع کې به لوړه کچه Markers of Tuberculosis شته وي، چې Adenosine Deaminas به له 45IU/L څخه لوړ او Gamma Interferon به له 140pg/ml< څخه لوړ وي.
7. په بلغم کې به Tubercle Bacilli په کرنه او رنګ (Staining) کې شته وي.
8. د پلورا Biopsy به وروستی تشخیص وټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. Malignancy:

اعراض:

ناروغ به د پلورا له درد سره یو ځای یا پرته له درده د اشتها کموالی، وزن بایلل، ټولیزه کمزوري او ساه لنډي ولري.

لاملونه:

1. Bronchial Carcinoma.
2. Metastases.
3. Lymphomo.
4. Leukemia.
5. Mesothelioma.

نښې:

1. ناروغ به په افت ککړ او کمزوری ښکاري.
2. ناروغ کې به د Pleural Effusion ټولې نښې شته وي.
3. که افت خپور شوی وي، د بدن نورو برخو کې هم نښې رابرسېره کولی شي.

پلټنې:

1. ESR به لوړ شوی وي.
2. د ګوګل X-Ray کې به د Pleural Effusion څرګندې نښې پرتې وي.
3. د پلورا مایع به په وینه ککړ شوی (Blood Stain) رنګ ولري، چې په خبیثو پېښو کې به پلورایي مایع کې د RBC_s کچه ډېره غښتلې وي.
4. د پلورا Biopsy به وروستی تشخیص غوره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وینه لرونکي پلورايي مایع د منځته راتلو لاملونه:

1. Tuberculosis.
2. Malignancy.
3. Pulmonary Infarction.

3. Para Pneumonic:

اعراض:

- ناروغ به د ساه لنډۍ، سینې درد سره یو خای په لوړه درجه تبه ولري.

نښې:

- د یو اړخیز Pleural Effusion نښې به پرتې وي.
- Bronchial Breath Sound به د پلورايي مایع لپاسه تر غوږو شي.

پلټنې:

1. د TLC د وینې سپینو حجراتو کچه به وړه وي.
2. د مایع د راټولېدو له کبله به دواړه خواوو کې د Consolidation مشابه نښې ولیدای شي.
3. پلورا مایع به Straw Color ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکزو داتیف مایع اوصاف:

- *Light's criteria*

1. د پلورا د مایع پروتین اوسیروم پروتین نسبت د 0.5 څخه زیات وي
2. د پلورا د مایع LDH او سیروم LDH نسبت د 0.6څخه زیات وي
3. د پلورا دمایع ال ډي . ایچ د سیروم د نارمل لوړ اندازي څخه ۳/۲ په اندازه لوړ وي
4. د پلورا د مایع کولسترول 60mg/dl څخه زیات وي .
5. دسیروم البومین او پلورا مایع البومین نسبت د 1.2mg/dl څخه کم یا مساوي وي

ترانسوداتیف پلورال ایفوژن اوصاف:

1. د اکزوداتیف پلورال ایفو ژن د لابراتواري مایعناتو بر خلاف وي
2. ګلو کوز یي دسیروم سره مساوي وي
3. پي ایچ یي د ۷.۴۰او ۷.۵۵ تر مینځ وي
4. دسپینوحجراتو شمیر یي په یومایکرولیتر کي د $۱۰^{۵}$x۱۰څخه کم وي چي زیا تره یي مونو نیوکلیر حجرا ت وي

Indication of Tube Thoracostomy:

1. Frank Pus.
2. Recurrence After Two Therapeutic Aspirations.
3. Organisms Seen on Staining/ Culture of Fluid.
4. Loculated Fluid (Decortication Maybe Requird).

.4 Pulmonary Infarction:

1. په کمه کچه به Pleural Effusion شتون ولري.
2. مایع به په وینو ککړه شوې وي.
3. د نورو ناروغیو د تشخیصولو پرمهال تشخیص کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. Connective Tissue Disorders:

1. د ډېرو سیستمونو ګډه ناروغي ده، چې د SLE، Rheumatoid Arthritis په څېر کلنیکي بڼه لري.
2. مایع راټولېدنه به دوه اړخیزه وي.
3. بڼه تشخیص د کلنیک له مخې کولای شو.

Hypoproteinemia:

په Hypoproteinemia کې دوه اړخیز Pleural Effusion شتون لري.

Meig's Syndrome:

- په ځینو ناروغانو کې د تخمدانونو سلیم Fibroma پرمختګ کوي او له مخې یې په ناروغ کې Pleural Effusion او حبن منځته راځي.
- د پلورا مایع او د حبن مایع به Transudate وي، خو ښایي چې Exudate هم وي.
- د تخمدانونو کتلې په التراسونډ معاینه کې لیدل کېدای شي.

Empyema Thorax:

د پلورا جوف (تشه) کې د Puss راټولېدلو ته وایي.

اعراض:

ناروغان به تبه لري، چې د میکروب ضد (Antibiotic) درملو سره به ځواب نه وایي. د نمونیا اعراض دوامداره کیږي د تداوي سره اعراض له مینځه نه ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبنې:

سمه او پرځای کلنیکي کتنه د تشخیص وروستی برید ټاکلی شي.

پلټنې:

لومړي وخت کي مایع روښانه وي WBC >500 cell/µL، gravity >1.08، LDH 1000 IU/L، ph < 7.2، protein > 2.5 g/dL خځه لوړ وي وروسته مایع خیرن کیږي WBC 15000 ، ph < 7.0 ، glucose < 50 mg/dL، LDH > 1000 IU/L

1. ESR به لوړ وي.
2. Leukocytosis به شته وي.
3. په X-Ray کې د Plueral Effusion نښې څرګندې وي.
4. د پلورا مایع به زوې لرونکي، ډبله او Polys درلودونکی وي.
5. که د پلورا مایع توبرکلوزیک وي، نو Leukocytes به شتون لري.

❊❊❊

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم څپرکی

ټوخی

Cough

د تنفسي ناروغیو له عامو ستونزو څخه دی، چې د ناروغۍ بڼې ته په کتو به ټوخی بلغم لرونکی (Productive) یا هم وچ (Dry) اوسي.
د ټوخي غځېدنه د ناروغۍ په بڼه پورې اړه لري، د حاد Pharyngitis ټوخی له درې اوونیو څخه لږ او د ساه لنډۍ (Asthma) او ځنډني Bronchitis ټوخی له درې اوونیو څخه ډېر غځېږي.

Pharyngitis:

ټوخی به وچ او پرله پسې وي، چې ناروغ نه د ستوني د خارښت او پوزې بهېدنې څخه هم سر ټکوي.

Laryngitis:

وچ او دردناکه ټوخی به د اواز له خپلوالي سره یو ځای شته وي.

Laryngeal Paralysis:

ټوخی به اوږد مهاله او د نورمال په پرتله Low Pitch وي، چې دې ډول ته Bovin Cough وایي. (د اواز خپوالی هم شته وي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاملونه:

Dry (No Sputum is Produced)

1. Pharyngitis.
2. Laryngitis.
3. Laryngeal Paralysis.
4. Fibrosing Alveolitis.
5. Angiotensin Converting Enzyme.

Dry Intially, Productive Later

1. Tracheitis.
2. Obstruction of Trachea.
3. Acut Bronchitis.
4. Bronchial Asthma.
5. Pneumonia.
6. Tuberculosis.
7. Lung Abscess.
8. Bronchial Carcinoma.

Productive (Sputum is Produced)

1. Chronic Bronchitis
2. Bronchiectasis.
3. Acute Pulmonay Edema.

لاملونه:

Acute (Less Then 3 Weeks)

1. Upper Respiratory Infection.
2. Pneumonia.
3. Pulmonary Embolism.
4. Heart Failure.

Chronic (More Then 3 Weeks)

1. Chronic Bronchitis.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. Bronchial Asthma.
3. Bronchial Carcinoma.
4. Gastroesophageal Reflux.
5. Post Nasal Drip.

:Angiotensin Converting Enzyme Inhibitors

دا عام درملونه دي، چې په 10 سلنه ناروغانو کې وچ تخریش کوونکی ټوخی منځته راوړي.

:Tracheitis

د ټټر شاوخوا برخو د درد سره یو ځای به ناروغ وچ، Harsh او بلغم لرونکی ټوخی لري.

:Obstruction of Trachea

د ترخیا نیمایي بندښت د تومور او د ابحر د انیورېزم له کبله منځته راتلی شي، چې له املې یې ټوخی او Stridor اوربدل کېږي.

:Acute Bronchitis

د سینې له شخوالي سره یو ځای به ناروغ وچ ټوخی لري.

:Bronchial Asthma

د ساه لنډۍ ښه عرض ټوخی دی، سریخناکه او په کمه کچه به بلغم شتون ولري.

ځینې وختونه په کوچنیو ماشومانو کې د Wheez، Dyspnea سربېره خپلسرې ټوخی د اعراضو د ډېرښت سبب ګرځي.

د شپې د وروستۍ برخې ټوخی له Dyspnea سره یو ځای د (Proxysmal Nocturnal Dyspnea) PND او د کین زړه د حادې عدم کفایې سره توپیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي.

:Pneumonias

ټوخی لومړی وچ وي، خو د Cavitation په جوړېدو سره بلغم قیحي کېږي.

:Lung Abscess

ټوخی به وچ او وروسته به بلغم لرونکی ټوخی له قیحي او بدبویه بلغمو سره یوځای وي.

:Bronchial Carcinoma

ټوخی یې پیلیز عرض دی، چې وچ او لنډ مهاله به وي، هغه وخت ډېر شدید او بلغم لرونکی وي، چې د تومور په وسیله برانکس بند او انتاني شوی وي.

:Chronic Bronchitis

د برانکسونو په ځنډني التهاب کې ناروغان د شپې ویده کېدو او سهار له خوبه د راپاڅېدو پرمهال د ډېرو بلغمو له شتون څخه سر ټکوي.
بلغم به سرېخناک او قیحي بلغمي وي، چې Wheezing او Dyspnea به ورسره ملګری وي.

:Bronchiectasis

بلغم لرونکی ټوخی به له وضعیتي بدلونو سره یو ځای وي، چې ناروغ به هڅه کوي، په افت اخته اړخ ډېر څملي، ناروغ به د سهار له مخې په پاڅېدو کې د ډېرو بد بویه بلغمو له شتون څخه ډېر ستونزمن وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Acute Pulmonary Edema:

دا ناروغان به لنډ مهاله، قیحي، اوبیز، بدبویه او په وینو ککړ بلغم لري.

Gastro Esophageal Reflux Disease:

په ډیره کچه ناروغان له معدې څخه د مرۍ خواته د محتویاتو د راګرځېدو له کبله خپلسری ټوخی پیدا کوي، چې دا ستونزه د ساه لنډۍ او سینه بغل په توپیري تشخیص کې ډیره پاملرنه وشي.

Sputum:

د بلغمو د کتنې لپاره لاندې ټکي ډیر اړین دي، چې له پامه ونه ایستل شي.

Amount کچه:

د بلغمو د کچې د ټاکلو لپاره تر ټولو ښه لار دا ده، چې ناروغ ښه 24 ساعتو کې خپل بلغم په یوه قطۍ (Can) کې راغونډ او وټاکي، یاده دې وي، چې په ساه لنډۍ کې بلغم لږ په Bronciectasis او Lung Absces کې ډیر وي.

Character بڼه:

Serous: شفاف او بد بویه، بلغم د سږو په حاد پرسوب کې منځته راځي، ښایي چې بلغم په وینه ککړ شوی هم وي.

Mucoid: سپین رنګه یا خاورو ته ورته رنګ لرونکی بلغم د ځنډني Bronchitis ښودنه کوي.

Purulent: ژیړ رنګه او شین ته ورته بلغم د سږو په انتاناتو دلالت کوي، لکه (Bronchiectasis, Pneumonia, Lung Absce).

Mucopurulent: د مخاطي او قیحی بلغمو ټولیزه ده، چې په ځنډني Bronchitis او دویمي انتاناتو کې د لیدو وړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Viscosity: بلغم به نری او اوبیزه بڼه ولري، مخاطي به یو څه سرپخناکه وي.

Taste odour: د سړو ابسي، Bronchiectasis، د An Erobic بکتریایي انتاناتو سره یو ځای به ډیر بد بویه بلغم د ناروغانو عامه ستونزه ده.

❊❊❊

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم څپرکی

Hemoptysis

وینه لرونکي توخي ته Hemoptysis وایي چې وینه به روښانه سور رنګه وي، ښایي بلغم سره ګډه شوې اوسي، له ناروغ څخه د Hemoptysis د ډول، درجې، Frequency او دوام په هکله پوښتنې وشي.

لاملونه:

1. Pulmonary Tuberculosis.
2. Chronic Bronchitis.
3. Brochiectasis.
4. Lung Abscess.
5. Bronchial Carcinoma.
6. Pulmonary Infarction.
7. Mitral Stenosis.
8. Pneumonias.
9. Adenoma.
10. Bleeding Disorders.
11. Arteriovenous Malformation.
12. Good Pasture's Syndrome.

2. *Pulmonary Tuberculosis:*

یو اسید فاست سیل دی (AFB) دی، چې د Mycobacterium Tubeculosis په وسیله منځته راځي، ښه ښودونه یې د انتاني انساجو په منځ کې د Granulomas شتون دی، سږې یې تر ټولو عام ځایونه دي، خو د بدن نورې برخې هم اخته کولی شي.

لومړنی توبرکلوز Asymptomatic وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

1. ناروغ د مابنام له خوا له تیتپ درجې تبې څخه یادونه کوي، چې د شپې له خوا ورسره سړه خوله هم یو ځای وي.
2. په ځنډنی بڼه له ټوخي سره بلغم وي، بلغم، په غیر قیحي یا ژیړ/شین ته ورته بڼه لري.
3. Hemoptysis د کرښې ډوله وینو سره شونی دی.
4. د زړه بدوالی، بې اشتهایي او وزن بایللو تاریخچه به هم شته وي.
5. د کورنی په دننه کې د توبرکلوز تاریخچه هم تر سترګو کیږي.

نښې:

1. ناروغ به خاسف ویی، په افت اخته شوی ښکاري.
2. په لومړیو وختونو کې ګوګل نورمال وي.
3. په سینه کې یوازینی ښه نښه د Past- Tussive Crepitation بلل شوې ده.
4. د Fibrosis پرمهال ترخیا مقابل خواته بې ځایه کیږي.
5. په وروستیو کې د Cavitation له کبله Bronchial Breating اوربدلی شو.

د Hemoptysis ډولونه:

frank : **ټول بلغم وینه وی لکه تبرکلوز ، برانکیکتازس او دسړو انفارکشن**

1 - hemoptysis

2 – blood stained sputum : بلغم د وینی په واسطه رنګ شوی وی . لکه دبرانکسونوسرطان

(c) ketabton.com: The Digital Library

3 – blood streaked sputum : وینه په بلغم کی دلیکی په شان وی . تبرکلوز او د برانکسونو سرطان
4 – rusty sputum : زنګ وهلی بلغم لکه په نمونیا کی .

پلټنې:

- ESR به لوړ وي.
- Tuberculin ازمویښه به مثبت وي، په تبره هغه وګړو، چې د BCG واکسین ورته نه وي تطبیق شوی.

په ځوانانو کې د ټیسټ مثبتوالی دا مانا، چې ناروغ له فعال توبرکلوز څخه سر ټکوي.

ځینې وختونه Tuberculin ټیسټ منفي وي، چې دا په دې مانا نه دی ګواکې ناروغ په افت نه دی اخته، ولې دا ښایي چې ناروغ معافیت ځپلی، ناروغ ډوله وي، همدا راز د Tuberculin ټیسټ د Miliary Tuberculosis په پښنو کې هم منفي کېدای شي.

- د سینې په ایکسری کې به د سږې په څوکه کې Apical Infiltration منځته راغلی وي.
- که Tubercle Bacills ایزولیټ وي، تشخیص سم دی، بسیل په بلغم کې موندلی شو، بلغم باید د سهار له خوا راټول او لابراتوار ته واستول شي.

که بلغم نه و، نو په نهاري دې له معدې څخه مواد، Laryngeal Swab، Bronchial Lavago واخیستل شي.

د بسیل لیدنه د Ziehl-Neelsen تګلارې په ډول ډېر په اسانۍ سره کېږي.

- په AFB مثبت پښنو کې د CSF، Ascitic Fluid/Pleural لپاره PCR ډېر اړین دی، خو په AFB منفي پښنو کې اړتیا نه لیدل کېږي.
- سیرالوژیک ازموینې د انتي باډي پر وړاندې ډېرې حساسې نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. Chronic Bronchitis:

د ناروغۍ په اني منځته راتلو سره د بلغم بڼه قيحي او د ينو سره ګډه شوې وي، Hemophilus Influenzae يې تر عامافت توليدوونکی لامل دی.

3. *Bronchiectais*:

د برانکس غير نورمال او پرله پسې پراخوالي ته وايي، چې د التهاب له کبله د برانکسونو د دېوال تخريب منځته راځي.

دا مهال به برانکس کې د دويمې ډول انتان مداخله په ډېره اسانۍ سره کېږي، ښايي په وروستيو کې د سږو خنځو (Lung Abscess) ته هم لاره جوړه شي.

اعراض:

1. اوږد مهاله او پرله پسې بلغم لرونکي توخي تاريخچه پرته وي.
2. بلغم به په ډېره کچه او بد بويه وي، کچه يې د سهار له خوا ډېرېږي.

لاملونه:

1. Viral Infections. Particularly Measles. Whooping Cough & Influenza.
2. Severe Bacterial Infections. Particularly Stappylococcus Aureus Klebsiella.
3. Pulmonary Tuberculosis.
4. Recurent Respiratory Infection in Patients with Cystic Fibrosis.
5. Primary Ciliary Dyskinesia (Kartagener's Syndrome).
6. Allergic Bronchopulmonary Aspergillosis.
7. Foreign Body.

- د سږو د ټولو انساجو د اختې له کبله Febrile Illness التهاب ته لار

(c) ketabton.com: The Digital Library

هواروي.

نښې:

1. Clubbing به تر سترګو شي.
2. Coarse Crepitation سره یو ځای به Rhonchi به اورېدل کېږي.

پلټنې:

1. د سینې په ایکسری کې ګرد سیوري لرونکي جوړښتونه یا د مچیو ځالې ته ورته جوړښتونه راښکاره شي.
2. په Bronchography به د برانکس پراخوالی ولیدای شي، خو په CT کې به له پراخ شوي برانکس سره یو ځای د برانکس پنډ شوی دېوال هم ولیدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. Lung Abscess:

د سږو ابسې ښه تشخیص د خالیګاه په جوړېدو سره کولای شو.
تر تولو عام لامل یې د موادو خپلسري تېرېدل (Aspiration) دی، خو ښایي چې تومورونه د برانکس بندښت هم په سږو کې ابسې منځته راوړي.
د سږو ابسې د اختلاطاتو له ډلې څخه نمونیات چې د Staphy Pyogenes او Klebsiell Pneumonia له کبله منځته راځي، د یادولو وړ ده.

اعراض:

1. ناروغ به د لوړې درجې تبې سره یو ځای خولې او لړزه لري.
2. بلغم لرونکی ټوخی، چې بلغم به ډېر وینه لرونکی او بد بویه وي.

نښې:

1. د ګوتو Clubbing تر سترګو کېږي.
2. په سږو کې د Consolidation یا Cavitation نښې شته وي.

پلټنې:

1. Leukocytosis به شته وي.
2. ESR به لوړ وي.
3. د ګوګل ایکسری کې به ګرد اوبه ته ورته خاورین ډوله کثافت ولیدای شي، خو ابسې څېړې شوې وي، په ټولو برخو کې ورته بڼه نښکاري.

5. Bronchial Carcinoma:

د نورو وګړو په پرتله په سګریټ څکونکو کې 40 سلنه ډېره عامه پېښېږي، ناروغان له 40 کلنۍ ډېر عمره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

1. لومړنی عرض يې توخی دی.
2. که دويمې انتان او Cavitation منځته راغلی وي، بلغم به قيحي ډوله وي.
3. په پرلپسې ډول به Hemoptysis شته وي.
4. د پلورا په اخته کېدو يا نه اخته کېدو سره سره د سينې درد شته وي.
5. په ځنډنې Bronchitis کې Dyspnea هم منځته راتلی شي.
6. د اشتها له لاسه ورکول.

نښې:

1. ناروغ به په افت اخته شوی او کمزوری ښکاري.
2. د ګوتو Clubbing به شته وي.
3. Supraclavicular لمفاوي غوټې به غټې شوې وي.
4. په لومړنيو وختونو کې سينه د کلينيکي نښو له مخې نورمال وي.
5. د Pleural Effusion نښې ډېرې عامې ليدلی شو.
6. Stridors او Wheeze به د Bronchus د بندوالي له وجې واورېدل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلینیکی لوحه

اعراض او علایم	
توخی	8-75%
وزن بایلل	0-68%
نفس تنګی	3-60%
د سینی د رد	20-49%
وینه لرونکی بلغم	6-35%
دهډو کو درد	6-25%
د ګوتو کلابینګ	0-20%
تبه	0-20%
ضعیفی	0-10%
دسفا ژ یا	0-2%
ویزینګ او سترایدور	0-2%

د Bronchial Carcinoma کلنیکي اختلاطات:

دسږو کنسر نوروبرخو ته میتاستاس :

1. Esophageal compression (dysphagia)
2. Laryngeal nerve paralysis (hoarseness)
3. Symptomatic nerve paralysis Horner's syndrome (enophthalmos, ptosis, miosis, and anhidrosis)

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. Cervical/thoracic nerve invasion(Pancoast syndrome)
5. pleural effusion(Lymphatic obstruction)
6. Vascular obstruction SVC syndrome
7. Pericardial/cardiac extension effusion, tamponade

سندرومونه Paraneoplastic:

1. Secreation inapropriated of antidiuretic hormon(SIADH) Hyponatremia
2. PTH – Squamous cell – Hypercalcemia

اعراض)زړه بد والي ,کانګي ، د ګیډې ي د درد ,قبضیت , پالي یوریا ,تنده ، شعوري حالت خرابوالي

3. Calcitonin زیاتوالي
4. Gonadotropin زیاتوالي
5. Serotonin زیاتوالي

Skeletal- اختلاطات :

1. Clubbing - 30%
2. Hypertrophic primary osteoarthropathy - 1–10% adenocarcinomas).
3. Periostitis

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوستکي تظاهرات :

a. Dermatomyositis
b. Acanthosis nigricans
c. polymyositis

عصبي تظاهرات :

1. Myopathic syndromes
2. Myasthenic Eaton-Lambert syndrome and retinal blindness .
3. Peripheral neuropathies
4. Subacute cerebellar degeneration
5. Cortical degeneration
6. Polymyositis

د و يني تظاهرات :

1 -Migratory venous thrombophlebiti (Trousseau'ssyndrome),
2 -Nonbacterial Thrombotic (marantic) endocarditis with arterial emboli,
3 -Disseminated intravascular coagulation
4 -Thrombotic disease complicating cancer is usually a poor prognostic sign.
5-Hypocalcemia

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتورګو تظاهرات :

1 - Nephrotic syndrome
2 - Glomerulonephritis

دسږو دکنسر میتاستازس:

1. Adrenals - ~50% of cancers
2. Liver – 30-50%
3. Brain – 20%
4. Bone – 20%

پلټنې:

1. Leukcytosis به شته وي.
2. د سینې په ایکسری کې به محیطي کثافت تر سترګو شي، د پلورا مایع به وینه لرونکی او Exudative وي.
3. Plasma D-dimer کچه به لوړه وي.
4. د لینګي Doppler کتنه به DVT را په ګوته کړي.
5. وروستی او بشپړ تشخیص د MRI/CT په وسیله ترسره کوو.

7. Mitral Stenosis:

د Mitral تنګوالی یوه عامه نښه په پرله پسې ډول د Hemoptysis شتون دی.

8. Pneumonia:

د سږو التهاب ته نمونیا وایي، په Lober Pneumonia کې یو څو لوبونه اخته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په Bronchopneumonia کې دواړو سږو کې پراخ Patchy ډوله التهابي نښې تر سترګو کېږي.
ښايي چې Typical(عام پتوجن يې S.Pneumonia او H.Influenza دی) يا Atypical (عام پتوجن يې Mycoplasma Pneumonia يا Legionella Pneumophilig دی).

Typical Pneumonia:

اعراض:

1. ناروغ کې به په اني ډول شديده او په لوړه درجه تبه منځته راشي.
2. ټوخی به وچ او په وروستيو کې بلغم لرونکی شي.
3. بلغم به قيحي وي.
4. پلوريټيک سينې دردونه، چې درد به شديد، ژور او د ټوخي يا ساه اخيستلو سره ډېرېږي.
5. ناروغ به ساه لنډي لري.

نښې:

1. په Lobar نمونيا کې به د تکاثف Consolidation نښې ښکاري.
2. Pleural Rub به شتون لري، که پلورا اخته شوی وي.
3. په Bronchopneumonia کې دواړو سږو کې پراخ ډول Coarse Crepitation اوربدلی شي.

د Consolidation نښې:

1. Chest Movement are Decreased.
2. Trachea is Normal.
3. Vocal Frematus is Increased.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. Percussion Note is Impaired or Dull.
5. Breath Sound are Bronchial in Character.
6. Vocal Resonance is Increased.
7. Whispering Pectoriloquy is Present.
8. Coarse Crepitations Maybe Present.

پلټنې:

1. Leukocytosis به شته وي.
2. ESR او CRP (C-Reactive Protein) به لوړ وي.
3. د سينې په ایکسری کې به په ډېره کچه یو شان کثافت تر سترګو شي، کـه نمونیـا وي، نـو دوه اړخیـز Patchy ډولـه جوړښـتونه راښکاري.
4. سببي ارګانېزمونه د بلغم په کلچر کې موندلی شو.

Atypical Pneumonia:

اعراض:

1. د ناروغۍ اعراض تدریجي وي.
2. ټوخی به وچ وي.
3. د ناروغ تنفس به لنډ وي.
4. له سږو څخه بهر اعراض، لکه سردرد ، درونه، زړه بدوالی، کانګې او نس ناستی ډېر احساسېږي.

نښې:

- د سږو د اخته کېدو نښې په رونبانه توګه ښکاري.

پلټنې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. Leukocytosis به شته وي.
2. د سينې په ايکسری په Labor Pneumonla تر سترګو شي.
3. سيرالوژيک ازموينې د انتي باډي ټايټر راته په ګوته کولی شي.

9. *Adenoma:*

په ځوانو وګړو کې ډېره پېښېدونکې ناروغي ده، ناروغ به پرلپسې Hemoptysis لري، د سينې ايکسری او Bronchoscopy وروستی تشخيص غوره کولی شي.

10. *Bleeding Disorders:*

د Hemoptysis د وينې بهېدنې يوه ښه کلينيکي نښه ده.

11. *Arteriovenous Malformaions:*

په دې ناروغۍ کې د Hemoptysis برسېره ناروغ د Epistaxis او Hematemesis تاريخچه لري.

12. *Goodposture's Syndrome:*

په دې ډول سنډروم کې ناروغ په پرلپسې ډول سره Hemoptysis او Glomerulonephritis (Hematuria، Hypertension، Azotemia) لري.

❋❋❋

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم څپرکی

د سږو نوډولونه

Pulmonary Nodules

د سږو یو یا څو هغه افتونه، چې کابو 2-6cm قطرولري او په X-Ray کې ښکاره شي، د سږو نوډولونه ورته وایي.

لاملونه:

1. Bronchogenic Carcinoma.
2. Metastases.
3. Granuloma.
4. Adenoma.
5. Lung Absces.
6. Hydatid Cyst.
7. Arteriovenous Malformation.
8. Hamartoma.

1. Bronchogenic Carcinoma:

د سږو د سرطان لپاره تر ټولو ښه کلینیکي نښه د نوډولونو منځته راتلل دي، پېښې یې له 35 کلنۍ څخه په ډېر عمره وګړو کې د FNAB (Fine Needle Aspiration Biopsy) او Bronchoscopy په وسیله ښه تاکلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. Metastases:

a. سیوري یې څو ځایونو کې ښکاري.
b. د لومړني Neoplasm پېښې یې ډېر تر سترګو شي.
c. کـه یـوه سـیوره (Shaeow) د لیـدلو وړ وي، نـو تشـخیص د بشـپړ کولـو لپـاره ښـه معاینـات Biopsy او Bronchoscopy بلل شوی.

3. Granuloma:

ښایي چې توبرکلوزیک او فنګسي سرچینه ولري.

4. Tuberculous Granuloma:

دلته عامه نښه Calcification ده، چې د سږو د توبرکلوز سره ورته کلنیک بڼه لري.

5. Fungal Granuloma Aspergilloma:

تر ټولو ډېر عام فنګسي انتان چې سږي په افت اخته کوي Aspergillosis. دا فنګس ډېر کله د بدن بېلا بېلې تشې اخته کوي، چې په پایله کې یې یوه کتله چې Aspergilloma یې بولي منځته راځي.

اعراض:

1. ناروغ به پرلپسې ډول Hemoptysis (په خړاسکو کې وینه) لري.
2. د وزن بایلل او cachexia ولري.

نښې:

موضعي Crepitationa او Bronchial Breathing به شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلټنې:

1. د X-Ray بڼه يې ځانګړی شکل لري، يانې داسې چې له تشې (Cavity) سره په يوه تور رنګه هوايي خيال تر سترګو شي.
2. په سيروم کې به هر وخت Precipitins شته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. Adenoma:

په ځوانو وګړو کې یې پښښې ډېرې موندل کېږي.

اعراض:

تر ټولو ښه او پېژندونکې نښه یې تخریشي ټوخی، د پرلپسې Hemoptysis سره یو ځای وي.

نښې:

یو اړخیز Wheeze او هم به د برانکس د لومن د بندوالي پرمهال به Collapse نښې هم شته وي.

پلټنې:

1. په X-Ray کې به د سږي د کولپس نښه ډېره روښانه پرته وي.
2. وروستی تشخیص یې Bronchoscopy او Biopsy په وسیله کولای شو.

5. Lung Abssces:

د سږو خنځې (Absce) چې له برانکس سره اړیکه ونه لري او ګرد جوړښتیز بڼه یې تر سترګو شي، له نورو افتونو سره یې توپیر یو څه ستونزمن کېږي، خو ښایي چې یو څو دانې اووسي، تشخیص یې د CTscan په وسیله کوو.

6. Hydatid Cyst:

سږي په دویمه ډله کې د Hydatid Cyst د جوړېدو لپاره ټاکلی ځای دی.

اعراض:

1. په روښانه توګه کوم ځانګړی عرض نه ورکوي.
2. که Cyst د برانکس خواته څیرې شوی وي، ناروغ به پرلپسې بلغم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرونکی توخی لري.

3. تبه، د اشتها کمښت او د وزن بایلل به ناروغ کې منځته نه راځي.

نښې:

کومه ځانګړې فزیکي نښه نه ترسترګو کېږي.

پلټنې:

1. په X-Ray کې به روښانه ګرد جوړښت، چې څنډې به یې روښانه ښکاري ترسترګو شي.
2. التراسونوګرافی به ځانګړی انځور د تشخیص لپاره وړاندې کړي.
3. Casoni's او Agglutination ازموینه به مثبت وي.

7. Arteriovenous Malformations:

په AV Malformation کې Hemoptysis نه لیدل کېږي، خو ښایي Telangiectasis شتون ولري، په تبره په پوستکي، ژبه او د پوزې په مخاطي برخه کې.

د Shunt د شتون پر مهال د سینې لپاسه د Bruit او از اوریدل کېږي، چې له کبله به یې ښایي ناروغان Cyanosis او Clubbing هم ولري.

- د سینې په ایکسری کې به Round Opacity ښکاره شي.

د Calcification د ستون پرمهال وروستی تشخیص د سږو د Angiography په وسیله ترسره کوو.

8. Hamartoma:

دا یوه زېږوني ستونزه ده، چې د یو غړي نورمال جوړښتونه او ترکیبي مواد تخریب شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړي اعراض نه ورکوي، خو د ګوګل په X-Ray کې به Round Opacity د کلسیم تر سترګو شي، د سم او وروستي تشخص لپاره غوره ازموینې CTscan او Bronchoscopy ده.

❊❊❊

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم څپرکی

Dysphagia

په ستونزمن ډول سره د خوړو بلغ کولو ته Dysphagia وايي، Dysphagia د ستوني د تنګوالي او د دندې د خرابوالي له کبله منځته راتلی شي.
په جوړښتیز خرابوالي کې کلک مواد نه تېرېږي، په داسې حال کې چې د ستوني دندې په خرابېدو سره نرم مواد هم نه شي تېرېدای، د بلع کولو دردناک حالت ته Odynophagia وايي.

لاملونه:

A. Structural Dysphagia.

1. Painful Conditions of Oral Cavity.
2. Reflux Esophagitis.
3. Benign Esophageal Stricutre.
4. Carcinoma Esophagus.
5. Scleroderma.
6. Plummer Vinson Syndrome.
7. Compression of the Esophagus from out side.

B. Paralytic Dysphagia.

1. Bulbar/Pseudobulbar Palsy.
2. Myasthenia Gravis.
3. Polymyositis & Dermatomyositis.
4. Achalasia & Other Motility Disorders.
5. Oculo-Pharyngeal Myopathy.

C. Globus Hystericus.

1. Painful Condition of Oral Cavity:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. د خولې هر درد ډوله لامل (Stomatitis. Tonsillitis) کولای شي Dysphagia منځته راوړي.
2. د خولې په کتنه کې افت ښه لیدلی شو.

2. *Reflux Esophagitis*

له معدې څخه په غیر نورمال ډول سره د محتویاتو راګرځېدل د ستوني په لور د Reflux Esophagitis سبب ګرځي، په تېره هغه وګړو کې چې مزې او سګریټ څکونکي وي.

دا ډول Dysphagia د مرۍ تنګوالی او یا نورو لاملونو پرته هم منځته راتلی شي.

د Reflux Esophagitis په اختلاطاتو کې د مرۍ تنګوالی Aspiration Pnumonia، وینه بهېدنه او Barret's Esophagits د یادولو وړ دي.

اعراض:

1. ناروغ په خپله تاریخچه کې د ستړنوم شاوخوا درد څخه یادونه کوي، کوم چې مخې خواته په ټیټېدو سره ډېرښت کوي.
2. له Antacids سره کمښت مومي.
3. د Esophageal دردونه په سختۍ سره د Angina Pictoris دردونو سره توپیر ږدي.
4. خولې د تروش ډوله اوبو راپورته کېدل هم د یادونه ایستل شي (Regurgatation).
5. په معده کې د اسیدو له ډېرښت سره سم په خولې کې د لاړو غدواتو خپل فعالیت ډېروي.
6. Bitter ازمونیه د سهال له خوا ډېره اړینه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

7. لـه معـدې څخـه خپلسـري مـواد خـولې خواتـه راتلـل او هغـه ببرتـه تبـــرول د Laryngitis ســـبب ګرځـــي، همـــدا راز Aspiration Pneumonia وبره هم له یاده ونه ایستل شي.

نښې:

- کومه ځانګړې نښه نه ترسترګو کېږي، خو یوازې ناروغ خاسف ښکاري.

پلټنې:

1. د Barium بلع به Reflux او ټپ په هکله مالومات راکړي.
2. اندوسکوپي به Hyperemic مخاطي غشا له ټپ سره یا پرته له ټپه را په ګوته کړي.

د پلټنو استطباب:

1. Age >40.
2. Atypical Chest pain.
3. Anemia.
4. Dysphagia.
5. Weight Loss.

2. *Benign Esophageal Stricture:*

د Fibrosis له کبله د ستوني تنګوالي ته وایي، ترټولو عام لامل یې Reflux Esophagitis بلل شوی.

اعراض:

1. د Reflux Esophagitis مخکینۍ تاریخچه.
2. د نیم جامدو موادو له تېرولو سره یو څه ستونزه حِس کول.
3. د خوړیزو پارچو پاتې کېدل په ستوني کې، چې د اوبو په وسیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېر او معدې ته تېر شي.

نښې:

1. د ناروغۍ کومه ځانګړې نښه په سترګو نه لیدل کېږي.
2. ناروغ به خاسف او سوء تغذیه وي.

پلټنې:

1. د Barium په بلع کولو سره به د مرۍ تنګوالی ښکاره شي، په داسې حال کې چې د تنګوالي څنډې به ښوی وي.
2. اندوسکوپي هم د مرۍ تنګوای راپه ګوته کولای شي، د ستوني لپاره میکوزا به سور رنګه وي، د خباثت لپاره Biopsy اړینه ده.

4. *Carcinom Esophagus*:

د زړو وګړو ناروغي ده، چې مساعد کوونکي فکتورونه یې سګریټ څکول، Barret's Esophagus او Achalasia بلل شوی.

په Barret's Esophagus کې د ستوني نورمال Squamous Epithelium په Columnar Epithelium اوړي، چې دا پېښه د Reflus Esophagitis د یو اختلاط په ډول رامنځته کېږي.

اعراض:

1. د جامدو موادو په تېرېدو سره بندښت.
2. ښایي د ستوني لار په بشپړ ډول بند شي.
3. د وزن ځرګند بایلل.

نښې:

1. ناروغ به خاسف وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. ناروغ به په څرګند ډول کمزوری ښکاري.

پلټنې:

1. د Barium بلع کول به د ستوني تنګوالی د غیر منظمو څنډو په درلودلو سره وښیي.
2. اندوسکوپي به تنګوالی، کتله د ټپ یا پرته له ټپه وښیي، وروستی تشخیص د Brush Cytology او Multiple Biopsy په وسیله کولای شو.

B. *Paralytic Dysphagia:*

د Pharyngeal عضلاتو د کمزورۍ له کبله پورته ستونزه منځته راځي.

لاملونه:

1. Bulbar/Pseudobulbar Palsy.
2. Myasthenia Gravis.
3. Polymyositis & Dermatomyositis.
4. Oculo-Pharyngeal Myopathy.

اعراض:

1. د مایع موادو په تېرېدلو سره هم Dysphagia احساسېږي.
2. Nasal Regurgatation تاریخچه به شته وي.

نښې:

- د لسم قحفي عصب د فلج نښې به شتون لري، یاني نرم تالو به خپل خوځښت له لاسه ورکړی وي، ناروغ به (ah) نه شي تلفظ کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Achalasia:

د ټول مری Motility کمښت مومي، د مری ښکتنۍ معصره نه شي کولای چې د خه تېرولو پر وړاندې غبرګون وښيي.

يو زېږوني ناروغي ده، چې د مري يو شمېر Ganglion Cell خپله دنده له لاسه ورکوي، ورته کلنيکي بڼه په (Chagas Disease) کې منځته راځي.

اعراض:

1. د جامدو او مايع موادو په تېرولو کې د ستونزې اوږده تاريخچه موجوده وي.
2. کانګې هم شوني دي، چې د څو ورځو پاتې شوي بد بويه خواړه به له کانګو سره يو ځای راووځي.
3. ناروغ به د سږو پرلپسې انتاناتو تاريخچه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښې:

- کلنیکي کتنې به نورمال وي.

پلټنې:

1. د سینې په ایکسری کې به منصف پراخه ښکاري.
2. د Barium په بلع سره به پراخ ستونی تر سترګو شي.
3. په اندوسکوپي کې پراخ مری دې نرم Mucosa سره.
4. د مری حرکتونه ټاکونکي ازموینو کې به د ستوني حرکتونه خراب وي.

Scleroderma (Systemic Sclerosis):

د منظم انساجو ټولیزه ستونزه، چې پوستکی او داخلي غړي اخته کوي. Degeneration او Fibrosis د کولمو د حرکتونه کمیږی .

اعراض:

1. د Reflux Esophagitis او Dysphagia اعراض عام دي.
2. پرلپسې ګډې دردونه، د ګډې پرسوب او قبضیت سره یو ځای وي، ځکه چې د کولمو خوځښت کم شوی.
3. ګوتې پرسبدلې، شخې او د ګوتو څوکې ټپي ډوله وي.
4. په پوستکي Calcinosis.
5. د خولې خلاصول ګرانېږي.
6. په ناروغ کې Raynaud's Phenomenon (ګوتې یخ کېږي، بیا ګوتې خاسفوالی مومي، چې په وروستیو کې Cyanosis او سوروالی منځته راځي) شته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

7. د عضلاتو سستوالی.
8. د پښتورګو عدم کفایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبني:

1. ګوتې به پرسېدلي او له خوځولو سره به درد کوي.
2. د ګوتو په څوک کې به تپونه روښانه ښکاري.
3. پوستکی به ډبل، نه غونجېدونکی وي.
4. د پوستکي صباغات او Telangiectasis به شته وي.

پلتنې:

1. ESR به نورمال وي.
2. د اوسپنې او Vitamin B_{12} د کموالی انیمیا به وی.
3. Anti Nuclear Antibody به مثبت وي.
4. د پوستکي لاندې برخو کې Calcinosis خو په ایکسری کې.
5. Barium بلع سره به مری پراخوالی تر سترګو شي.
6. Motility کتنې به د حرکت کمښت راوښيي.
7. د پوستکي Biopsy وروستی تشخیص رابنيي.

Pulmonary Vinson Syndrome:

د Raynaud's Phenomenon لاملونه:

1. Collagen Vascular Disorders' Particularly Scleroderma.
2. Thrombo Angitis Abliterans.
3. Cervical Rib.
4. Trauma (Vibrating Machine Operators).
5. Circulating Cryoglobulins, Cold Agglutinins.
6. Drugs (Ergotamine. Propranolol).
7. Primary Pulmonary Hypertension.
8. Occult Carcinoma.
9. Primary (Also Called Raynaud's Disease).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې سنډروم د کلینیکو نښو څخه dysphagia، Iron Deficiency Anemia او Glossitis د یادولو وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

:Compression of the Esophagus from out Side

لاملونه:

1. Retrosternal Thyroid.
2. Enlarged Mediastinal Lymph Nodes due to Lymphomas, Leukemias & Mestastase.
3. Enlarged left Atrium due to Mitral Stenosis.

اعراض:

1. ناروغ جامد مواد نه شي بلع کولی.
2. کـه Superior Vena Cava تنگـه شوې وي، د نـاروغ مـخ بـه سـور رنگه وي.

نښې:

1. Thyroid به غټه شوې وي.
2. Pemberton's Sign(retrosternal goiter) کی به مثبت وي.(ناروغ ته ویل کیږی چی لاسونه دخپل سر څخه پورته کړه په دی وخت کی دناروغ مخ احتقانی کیږی ، ناروغ ته سټرائیدو ر پیدا کیږی او دغاړی ورید برجسته کیږی خو نبضانی به نه وی.
3. د Superior Vena Cava د تنګوالي نښې به شته وي.
4. د Mitral Stenosis نښې هم د یادولو وړ دي.

پلټنې:

1. د ګوګل ایکسری به پراخ منصف راوښيي.
2. Barium Swallow به د مری تنګوالی راوښيي.
3. اندوسکوپي به د مری افتونه را په ګوته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. CTscan، Bronchoscopy، Mediastinoscopy او Biopsies به وروستی تشخیص راته غوره کړي.
5. د superior venacava obstruction علایم به مثبت وی (مخ ،علوی اطراف اوغاړه به پرسیدلی وی ،ناروغ به ټوخی او تنفسی زجرت لری ، اواز به خپ ،ژبه پرسید لی او د سفاژیا به لری) اعراض هغه وخت زیاتیږی چی ناروغ قدام خواته ټوغ شی او یا ستون ستاخ پریوزی.
6. د Mitral Stenosis د تشخیص لپاره لومړی څپرکی وګورئ.

C. *Globus Hystercus*:

1. ناروغ به په ستونی کی داسې احساسوي، چې یو څه شته، خو چې کله د تبرولو عملیه ترسره کوي، څه نه وي.
2. Dysphagia نه وي.
3. ناروغ له Anxiolytic درملو سره ښه ځواب وایي.

Infectious Esophagitis:

په دوه ډوله دی:

1. Viral Esophagitis:

یو شمېر وایرسونه، لکه Herpes Simplex Virus ستونی په التهاب اخته کوي.

د ناروغ په حاد اخته کېدو سره لومړی په سینه کې درد ، د بلع سره درد او Dysphagia منځته راځي.

Candida Esophagitis:

ناروغ به له Odynophagia او Dysphagia څخه سر ټکوي، د خولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

Thrush هم شونې ده.
په اندوسکوپي کې به سوروالي سره یو ځای په ستوني کې ژبې سپین Plagues تر سترګو شي.

❊❊❊

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم څپرکی

Pain Epigastrium

د GI سیستم تر ټولو عام عرض د ګډې د پورتنۍ برخې درد دی، چې د ښې څېرنې لپاره له ناروغ څخه سمه تاریخچه او سمې فزیکي کتنې ته ډېره اړتیا لیدل کېږي.
بشپړې پلټنې کله الټراساوند، Barium Studies او اندوسکوپي ډېرې اغېزمنې تمامېدای شي.
ډېر وختونه اړتیا موندل کېږي، چې په افت اخته شوې برخې څخه Biopsy واخیستل شي، دې کړنې د ترسره کولو لپاره اندوسکوپي تر ټولو ښه لار ده.

لاملونه:

1. Peptic Ulcer.
2. Gastritis.
3. Worm Infestation.
4. Carcinoma Stomach.
5. Esophagitis.
6. Cholecystitis.
7. Hepatitis.
8. Pancreatits.
9. Carcinoma Pancrease.
10. Myocardial Infarction.
11. Basal Pleurisy.

1. *Peptic Ulcer*:

دا ډول ټپ د معدې په هغه برخو کې منځته راځي، چې له Acid سره په اړیکه کې وي، همدا راز اثنا عشر او معده یې تر ټولو عام اخته کېدونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځایونه دي، یاده دپ وي، چې د ستوني لاندینۍ برخه هم اخته کولای شي.
د معدې ټپ ښایي د اسید و د ډېرښت (Duodenal Ulcer) او یا هم د معدې د مخاطي برخې د افرازاتو د کمښت له کبله منځته راشي.
تر ټولو عام لاملونه چې معده په ټپ اخته کوي، د Helicobacter Pyloris انتان او د NSAID درملو کارول دي، خو Zolinger Elison سنډروم ډېر د یادولو وړ نه دی، یانې 1/3 برخه جوړوي.
د H-Pylori په هکله ښه ښه تیوري موجودې دي، چې څه ډول د معدې ټپ منځته راوړي.
د معدې ټپ ناروغان به د معدې التهاب لري، چې له مخې یې د معدې نورمال افرازات کمښت مومي او د معدې ټپ (Peptic Ulcer) منځته راوړي.
د اثنا عشر په ټپ کې به د Antrum د برخې التهاب شتون لري، چې له مخې یې د Somatostatin D Cell کمښرۍ او د معدې افرازات له منځه ځي او اثنا عشر په ټپ اخته کطرۍ.
بل میکانیزم دا دی، چې Gastric Metaplasia د اثنا عشر په مخاطي برخه کې منځته راځي، نبغ په نبغه د H-Pylori انتان په وسیله منتن او ځایي ټپ ته لار هواروي.
د NSAID درملو له کارولو سره د معدې د نورمال مخاطي افرازبدو مخه نیول کښرۍ او د معدې ټپ ته لار هوارښرۍ.
د معدې ټپ دردونه په Epigastrium کې احساسښرۍ، ناروغ خپله ګوته نبغ په نبغه د ټپ له پاسه نیسي او درد ځای په ګوته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Duodenal Ulcer:

دا ډول ټپ د هر وخت لپاره د اثنا عشر په لومړنۍ برخه کې منځته راځي.

اعراض:

1. درد د معدې په تشبدو سره ډېرېږي، چې د خوړو او Antacid سره له منځه ځي.
2. ځینې وختونه ناروغان د شپې په نیمایي برخه کې له خوبه ویښېږي او د درد احساس کوي (Nocturnal Pain).
3. هغه دردونه چې د سهار له خوا په معده کې احساسېږي، د معدې ټپ ورته نه شو ویلی.

نښې:

د معدې Epigastrium برخه کې ځایي حساسوالی (Localized Tenderness) شته وي.

پلټنې:

1. Barium Meal د اثنا عشر بد شکلي او ټپونه را په ګوته کولای شي.
2. اندوسکوپي شته ټپ په ګوته کولای شي.

Gastric Ulcer:

1. خوړو پورې تړلي دردونه احساسېږي.
2. ښایي له خوړ سره ډېر یا هم له منځه لاړ شي.
3. Nocturnal دردونه عام نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښې:

- د Epigastrium د برخې حساسوالی ډېره ښه نښه ده.

پلټنې:

1. Barium Meal د ټپ ښودنه کولای شي.
2. اندوسکوپي د ټپ ښودنه کولای شي.
3. د خباثت د څرګندولو لپاره Biopsy ډېره اړینه ده.

د معدې ټپ اختلاطات:

1. Bleeding.
2. Porforation.
3. Chronicity.
4. Gastirc Outlet Obstruction.

2. Gastritis:

د معدې التهاب تر ټولو عام افت دی، چې معدې اخته کوي، د دې افت په منځته راوړلو کې Helicobactor Pylori ډېره برخه اخلي.

اعراض:

1. د خوړو له خوړلو وروسته ناروغ د Epigastrium درد څخه سر ټکوي.
2. درد ځایي او څرګندوي.

نښې:

- له خفیف تر شدید پورې حساسوالی به Epigastrium کې شته وي.

پلټنې:

1. اندوسکوپي کولای شي التهابي مخاطي برخه را په ګوته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. Biopsy به د معدې التهاب او H.Pylori د شتون تشخیص تر وروستي بریده ورسوي.
3. تر ټولو ښه ازموینه په غایطه موادو کې د H.Pylori موندل دي، چې د درملنې وروسته بیا هم ازموینه له سره کېدای شي.

3. Worm Infestation:

د چینجیانو پېښې په بېلا بېلو وګړو کې ډېرې لیدل شوي، چې د دې چینجیانو ډېر لاملونه د ګېډې درد منځته راوړي.
د Hook Worm چینجیانو ډېر دردونه معدې ټپ ته ورته بڼه لري، ناروغ په روښانه توګه کمخونه ښکاري.
ښه تشخیص یې د غایطه موادو په لابراتواري ازموینو کولای شو.

4. Carcinoma Stomach:

له 40 کلنۍ وروسته یې پېښې ډېرې تر سترګو کېږي، د Pernicious Anemia ناروغان د معدې په سرطاني حالت ډېر اخته کېږي.
د معدې سرطان پېښې د Partial Gastrictomy او Gastroenterostomy څخه وروسته ډېرې منځته راځي.

اعراض:

1. له 40 کلنۍ وروسته لومړی ناروغ کې له خوړو وروسته د اشتها کمښت او زړه بدوالی منځته راځي.
2. د وزن بایلل یې ډېر څرګند اعراض دي.
3. د ډوډۍ خوړلو وروسته د معدې پرسوب.

نښې:

1. ناروغ به خاسف وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. د Epiastric برخه کې د کتلې جس کېدل.
3. په وروستیو حالتونو کې د لمفاوي غوټو غټوالی، د ځیګر غوټې او خبن د Metastatis له کبله.

پلټنې:

1. د Iron Deficiency کمخونې.
2. Barium Meal کې به د Filling Defect شته وي.
3. اندوسکوپي به د کتلې او ټپ ښودنه وکړي، د تشخیص د وروستي کولو لپاره Biopsy تر ټولو ښه لار ده.

6. Esophagitis:

درد د سټرنوم شاوخوا (Retrosternal) یا د Sternum هډوکي په ښکتنۍ برخه کې احساسېږي، همدا راز درد د Epigastrium په برخه کې هم ځای په ځای کېدلی شي.

7. *Cholecystitis*:

د صفراوي کڅوړې التهاب ته Cholecystitis وایي، ښایي حاد او یا ځنډنی بڼه ولري، چې د صفرا تیږو سره یو ځای منځته راځي.

اعراض:

1. په ښي Hypochondrium او Epigastrum کې شدید درد، کولیکي ډوله وي، لېکن شدت یې ډېر ښت مومي، چې په وروستیو کې د ګېډې په ښي پورتنۍ برخه کې ځای په ځای کېږي.
2. درد اوږې او د Scapula د څوکې خواته خپرېږي.
3. کانګې، تبه، ناارامي او خولې کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښې:

1. ښايي ناروغ د زېړي تاريخچه ولري.
2. Murphy's Sign به مثبت وي.
3. په حاد صفرا التهاب کې به د صفرا کڅوړه ښه حس کېږي.

په ځنډني صفرا التهار کې صفرا کڅوړه فايبروزس راتوله شوې او نه جس کېدونکې وی.

پلټنې:

1. TLC به لوړه وي.
2. په Plain ایکسری کې به 10 سلنه د Radio-Opague تیږې ولیدای شي.
3. USG د صفرا تیږو او د صفرا کڅوړې د ډبلوالي په اړوند مالومات راکولی شي.
4. HIDA سکن کی د صفرا د دندې د خرابوالي په هکله مالومات راکولی شي.

7. Hepatitis:

د پانکراس التهاب ته وایي، چې ښايي حاد او یا ځنډنی ښه ولري.

Acute Pancreatitis:

د صفرا تیږو او الکولو سره ډېرښت مومي.

اعراض:

1. په Epigastrium کې شدید درد احساسېږي، چې د ملا خواته هم خپرېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. درد ټولې ګېډې ته هم خپرېدای شي.
3. درد په Supin بڼه ځملاستو سره ډېرېږي.
4. د زړه بدوالي او کانګې عامې وي.
5. د ګېډې پړسوب د Chemical Peritonitis ښودنه کوي.

نښې:

1. ناروغ به په وېره او خپګان کې وي.
2. تر 3-1 ورځو پورې د سیروم امایلز کچه لوړه پاتې کېږي، چې نورماله کچه یې (60-180U/L) ښه تشخیص غوره کوي.
3. د سیروم لایپېز (Lipase) کچه تر 2-1 اوونیو لوړه پاتې کېږي، چې د Lipase او Trypsin د کچې لوړوالی ښه تشخیصي نښه ده.
4. د سیروم کلسیم کچه ټیټېږي.
5. په لومړیو څو ورځو کې Hyperglycemia عامه وي.
6. د حبن مایع به Exudative وي، د خبن مایع د Amylase فعالیت به ډېر لوړ وي، یانې تر (>20.000U/L) وي.
7. په نیمایي ناروغانو کې تر ټولو ښه تشخیص د Plain ایکسرې په واسطه کولی شو.
8. په USG کې د پانکراس غټوالی، خبن، د صفرا تیږې، کاذب سیستونه، ابسې او وینه بهېدنه ډېر ښه مالومېږي.
9. CTscan تر ټولو ښه ازمویښه ده، چې د پانکراس التهاب را په ګوته کړي.

د پانکراس حاد التهاب ته مساعد کوونکي فکتورونه:

1. Gallstones.
2. Alcohol.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. Hyperlipidemmia.
4. ERCP.
5. Fulminant Hepatic Failure.
6. Abdominal Trauma.
7. Hyper calcemia.

د پانکراس حاد التهاب اختلاطات:

1. Shock & Renal Failure.
2. Adult Respiratory Disterss Syndrome.
3. GI Hemorrhage from Gastric Erosions.
4. Pancreatic Phlegmon, Necrosis, Abscess.
5. Pseudocyst of Pancrease.

Chronic Pancreatitis:

پانکراس د حاد التهاب له حاد پرله پسې حملو وروسته ځنډنی پانکراس التهاب سر راپورته کوي، په 25 سلنه ناروغانو کې د الکولو څښلو وروسته پانکراس په ځنډني التهاب اوړي.

اعراض:

1. د Epigastric برخې پرلپسې دردونه، چې هره اوونۍ هره میاشت یې په ځانګړنو کې تغیر منځته راتلی شي.
2. د الکولو او خوړو له خوړلو وروسته دردونه ډېرېږي.
3. درد له ورځو تر اوونیو غځېږي.
4. درد د ملا خواته هم خپرېږي.
5. درد په ملا د څملاستو وروسته یو څه ارامښت کوي.
6. درد له Anticid سره کمښت نه کوي.
7. ناروغ به شکر یا Malabsorption لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبني:

1. ناروغ به سوء تغذیه وي.
2. په ګډه به خفیف خپور شوی حساسوالی شته وي.
3. د Common Bile Duct د بندښت له کبله به ناروغ زېړی لري.

پلټنې:

1. د سیروم امایلېز او Lipase کچه ډېرښت نه کوي.
2. په کمو ناروغانو کې به د پانکراس Calcification تر سترګو شي.
3. ERCP به د Pancreatic Duct او Psdudocyst ښودنه وکړي.
4. CT/USG به د غونجې شوې او کوچنۍ شوې پانکراس کشوړې ښودنه وکړي.
5. په ځینو ناروغانو کې د وینې ګلوکوز، Serum Bilicubin Serum Alkalin Phosphatose او Malabsorption ازموینې غیر نورمال وي.

9. *Carcinoma Pancrease:*

درد په Epigastrium کې وي، چې د ملا خواته هم خپرېدای شي، په خرګند ډول به د اشتها کمښت او د وزن بایلل ترسترګو کېږي.
په CT او التراساوند کې د پانکراس کتلې لیدلی شو.

10. *Myocardial Infarction:*

- Inferior Wall مړینه به د Epigastrium په دردونو کې د کومو خرګندو کلنیکي نښو پرته احساسېږي.
- که کوم بل ځانګړی او په سترګو لیدلی افت نه تر سترګو کېده، ناروغ ته ECG ډېره اړینه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

11. Basal Pleurisy:

- درد د ساه اخیستلو او ټوخي سره ډېرېږي.
- Pleural Rub به شته وي.
- د ګوګل ایکسری به د Consolidation او Effusion نبودنه وکړي.

Worm Infestation:

Hook Worm:

Ancylostom Duodenale په اثنا عشر او Jejunum کې ژوند کوي، 1cm اوږدوالی لري، چې هګۍ یې له غایطه موادو سره د باندې اوځي.

اعراض:

1. د ناروغ د ګېډې د پورتنۍ برخې درد لري.
2. کانګې او نس ناستی.
3. د کمخونۍ اعراض.
4. ناروغ به خاسف وي.
5. د ګېډې د پورتنۍ برخې حساسوالی.

پلټنې:

1. Hypochromic او Microcytic کمخونې به شته وي.
2. Esoinophile کچه به $<5000/mm^3$ وي.

د ګېډې درد لاملونه:

1) Gastrointestinal
   a) Gastroenteritis
   b) Appendicitis

(c) ketabton.com: The Digital Library

c) Intestinal obstruction
d) Peritonitis
e) Irritable bowel syndrome
f) Mesenteric vascular obstruction
2) Renal
a) Renal pain
i) Pyelonephritis
ii) Hydronephrosis
b) Urteric colic
3) Obstetric/gynecologic
a) Dysmenorrhea
b) Pelvic inflammatory disease
c) Salphangitis
d) Threatened abortion
e) Rupture ectopic pregnancy
f) Endometriosis
4) Others
a) DKA
b) Herpes zoster
c) Addisonian crisis

❊❊❊

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوولسم څپرکی

پرلپسې او بیا راګرځېدنکې کانګې

Persistent/ Recurent Vomiting

کانګې یو عام او نه څرګندېدونکی عرض ده، چې د ناڅرګندو لاملونو له کبله هم منځته راتلی شي، که کانګې پرلپسې اوسي، په هکله یو پلټنې ډېرې اړینې دي.

د کانګو ځینې لاملونه په لاندې ډول یادوو:

لاملونه:

1. Chronic Renal Failure.
2. Raised Intra Cranial Pressure.
3. Labyrinthine Disorders.
4. Gastric Outle Obstruction.
5. Subacute Intestinl Obstruction.
6. Pregnancy.
7. Postgastric Surgery.
8. Achalasia.
9. Food Allergy.
10. Psychogenic.

1. *Chronic Renal Failure:*

د پښتورګو د نورمال دندو له منځه تللو ته وایي، د پښتورګو د دندو د خرابوالي له کبله به بدن کې نور بېلا بېل اعراض هم منځته راځي.

Uremia یو کلینیکي او لابراتواري سندروم دی، چې د پښتورګو د عدم کفایې د درملنې له کبله ډېر پېښېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاملونه:

1. Chronic Glomerulonephritis.
2. Bilateral Chronic Pyelonephritis.
3. Diabetic Nephropathy.
4. Hypertension.
5. Obstructive Uropathy.
6. Drugs (Heavy Metals. Analgesics).
7. Systemic Lupus Erythematosis.
8. Polyarteritis Nodosa.
9. Scleroderma.
10. Polycystic Kidney Disease.
11. Hypercalcemia.

اعراض:

1. بې اشتهايي او کانګې يې ځانګړي اعراض دي.
2. ناروغ به د شپې له مخې Polyuria لري (Nocturia).
3. ځينو ناروغانو کې Oliguria او Puffy مخ هم شته وي.
4. د Renal Colic، ادرار سوځېدنې او Hematuria نښې هم شته وي.
5. Pruritus.
6. د فشار لوړوالی او شکر.
7. د Hemostasis د خرابېدو له کبله د بدن له بېلا بېلو برخو وينه بهېدنه شته وي.

نښې:

1. ناروغ به خاسف وي.
2. د ناروغ مخ به Puffy وي.
3. Uremic Smell (يانې متيازو ته ورته بوی).

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. د وینې فشار لوړوالی.
5. د پښتورګو کتله جس کېدای شي.
6. Pericardial Rub هم اورېدل کېدای شي.

پلټنې:

1. هیموګلوبین بېه تیټ وي، کمخونې بېه Normochromic او Norocytic وي.
2. پېه متیازو کې بېه Proteinuria، RBCs، Puss Cell او Cast شته وي.
3. د وینې یوریا او سیروم Creatinine به لوړه وي.
4. کلسیم به ښکته، فاسفیټ او Alkaline Phosphatase به لوړ وي.
5. پېه Radionuclide ازموینې بېه د پښتورګو کچه او دنده روښانه کړي.
6. پېه USG کې به د پښتورګو او د قشر کچه څرګنده شي.

همدا راز د Hydronephrosis، پښتورګو تیږې، پښتورګو کتلې، مثانې تیږې هم لیدلی شي.
د ګېډې پېه Plain ایکسری کې به uretric Stones هم ولیدای شي.

هغه فکتورونه چې د پښتورګو عدم کفایې له کبله کمخونې منځته راوړي:

1. Decreased Erythropoiesis Due to
a. Affect to Retained Toxins.
b. Diminished Synthesis of Erythropoietin by the Diseased Kidndys.
2. Hemolysis.
3. Iron Deficiency Due to.
a. Poor Intake.
b. Impaired Intestinal Absorption of Iron.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. Blood Loss Due to Increased Tendency.

د پښتورگو د ناروغيو وروستی کلنيکي بڼه:

1. Vomiting.
2. Hicough.
3. Pruritis.
4. Kusmaul's Respiration.
5. Uremic Smell in the Breath.
6. Pericardial Rub.
7. Muscular Twitching.
8. Fits.
9. Drowsiness.
10. Coma.
11. Hypotension.

2. *Raised Intra Cranial Pressure*:

د کوپرې د ننني فشار لوړوالي عمده لاملونه Tumor، Abscess او Hematoma بلل شوی.

اعراض:

1. د سر خوږ د تر ټولو بارز عرض دی، چې د کوپرې د فشار په لوړوالي کې منځته راځي، خو د خوږ د سهار له مخې ټوخی، سر ټيټولو او په لوړ اواز خبرو کولو کې ډېرښت مومي.
2. پرته له دې چې زړه بدوالی احساس شي، انې ډول سره کانګې منځته راځي؛ ځکه چې د دماغ په Medula کې د کانګو مرکز تنبه شوی وي.
3. ناروغ کې به د ميرګي او نيورولوژيک ستونزې هم منځته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبنې:

1. د Cushing reflex نبنې، لکه Bradycardia، Hypertension او غیر منظم ساه اخیستل.
2. Papilledema عامه ده.
3. د هوش کچه زیانمنېږي.
4. د شپږم عصب د فلج نبنې هم راڅرګند پدای شي.

پلټنې:

1. د کوپړۍ ایکسری به د Calcification نبې را په ګوته کړي، د Pituitary تشه به یو څه لویه شوې وي.
2. د CT او MRI په وسیله د افت اصلي ځای ټاکلی شو.

3. *Labyrinthine Disorders:*

لاملونه:

1. Vestibular Neuronitis.
2. Acoustic Neurome.
3. Meniere's Disease.
4. Head Injury.
5. Drugs (Streptomycin, Salicylates).

اعراض:

1. کانګې د سربډالی، ګنګسیت او وضعیت له توپیر سره یو ځای وي.
2. Tinitus او کونوالی ښایي شتون ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښې:

1. ګنګسیت، زړه بدوالی، کانګې له سر خوځولو سره ډېرېږي.
2. ناروغ به کونډ وي.
3. Positional nystagmous نبا یې موجود وی.

پلټنې:

د وضعیت د دندې څرنګوالی د Caloric ټیسټ په مټ کوو.

4. Gastric Outlet Obstruction:

ځانګړي لاملونه یې د اثنا عشر ځنډني ټپونه او Carcinoma بللی شو.
د معدې ټپ (Peptic Ulcer) پېښو کې د Pyloric Canal بندښت د پرسوب Spasm او فایبروزس له کبله منځته راځي.

اعراض:

1. د پرلپسې کانګو تاریخچه به شته وي.
2. د کانګو کچه به ډېره او بد بویه وي.
3. له کانګو وروسته ناروغ یو څه ارامښت احساسوي.
4. ناروغ خپل وزن له لاسه ورکوي.
5. په تېرو وختونو کې د اثنا عشر د ټپ تاریخچه شته وي.

نښې:

1. ناروغ به کمزوری او Dehydrated وي.
2. په Epigastrium کې له کین څخه نبې ارخ ته Peristaltic خوځښتونه شته وي.
3. Succussion Splash به شته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلټنې:

1. د سهار له مخې د معدې محتویاتو ایستلو پرمهال کچه له 100ml څخه نه ډ ډ برېږي.
2. Barium Meal به د پراخې معدې نښې را په ګوته کړي.
3. اندوسکوپي د اثنا عشر د تنګوالي نبودنه کولای شي.

5. Subacute Interstinal Obstruction:

1. ناروغ به په پرلپسې ډول د ګېډې پړسوب، کانګې او قبضیت لري.
2. د کولمو خوځښتونه به Stepladder ډول وي.
3. د کولمو اوازونه ډ ډ برښت مومي.
4. د ګېډې په Plain ایکسرې کې به Air- Fluid Levels او د ګېډې پړسوب تر سترګو شي.

6. Pregnancy:

1. د Amenorrhea تاریخچه به شته وي.
2. د سهار له مخې ناروغ کانګې لري.
3. د حاملګی ازموینه او USG او وروستی تشخیص ټاکي.

7. Postgastric Surgery:

1. د معدې له جراحي عملیات وروسته ناروغ کې کانګې منځته راځي.
2. نبه تشخیص له تاریخچې وروسته ټاکلی شو.

8. Achalasia:

که څه هم Dysphagia یې عام عرض دی، خو په ناروغ کې کانګې ډ ډ برې وي.

9. Food Allergy:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. کانګي له تاکلو خوړو وروسته منځته راځي.
2. له نورو الرژیکو غبرګونونو وروسته لکه Urticaria، Rhinitis، Asthma.

10. Psychogenic Vomiting:

1. له وزن بایللو پرته په ناورغ کې تر ډېر وخته د کانګو تاریخچه شته وي.
2. کلنیکي کتنې به نورمال وي، خو ناروغ به هیجاني او احساساتي ډوله وي.

RENAL OSTEODYSTROPHY

1. د پښتورګو په عدم کفایه کې دفاسفت اطراح خرابیږي او سیروم کچه لوړیږي او دکلسیوم سره وصلیږي د هایپو کلسیمیا لامل کیږي.
2. د پښتورګو په عدم کفایه کې ویتامین ډي په فعال شکل باندې نه بدلیږي Dihydrochlecalciferol خرابیږي چې ددې دخرابوالی دلاری دکولمو څخه کلسیوم نه جذبیږي دهایپو کلسیمیا لامل کیږي.
3. هایپو کلسیمیا پاراتائیروئید هورمون افراز تنبه کوي چې د ثانوي هایپر پارا تایرودیزم لامل کیږي.
4. په renal osteodystrophy کې دهډوکو بدلونونه

a. Osteomalacia (due to low Dihydrochlecalciferol)
b. Oseitis fibrosa cystica (due to secondary hyperparathyroidism)
c. Osteosclerosis

(c) ketabton.com: The Digital Library

Causes of renal failure due to obstructive uropathy

1. Renal stone
2. Tumor
3. Prostat hypertrophy
4. Bladder neck obstruction

د Hypercalcemia لاملونه:

1. Primary Hyperparathydroidism.
2. Bone Metastase.
3. Multiple Myeloma.
4. Over Dosage with Vitamin D.
5. Hyperthyroidism.

پښتورګي په لاندې حالتونو کې جس کېږي:

1. Hydronephrosis.
2. Pyonephrosis.
3. Renal Cell Carcinoma.
4. Polycystic Kidneys.

Diabetic nephropathy

1. ددیابیتیک ریتینو پاتی سره یوځایي وی
2. مهم کلینیکی څرګندونی یي microalbuminurea دی (۲۴ساعته راټول شوی تشو متیازو کی البومین ۳۰-۳۰۰ ملیګرامه یا 30-300µg/ 1mg of urine creatinin
3. څو کاله وروسته overt albuminurea بدلیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

❊❊❊

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم څپرکی

په کانګو کې وینه / په غایطه موادو کې وینه

Hematemesis/ Melena

Hematemesis مانا وینه لرونکې کانګې، چې د معدې له اسید و سره یو ځای تور رنګه، تیاره رنګ لري، ښایي چې له خوړو سره هم ګډې وي.
کله چې د یو وخت لپاره په معده کې خواړه پاتې شي هضمېږي او نصواري رنګ اختیاروي، چې بڼه یې قهوه رنګه یا (Coffee Grounds) په څېر وي.
د Hematemesis وینه بهېدنه د GI سیستم د پورتنیو برخو پاتې له Lig Treitz څخه پورته برخو Esophagus، معده او اثنا عشر څخه وي.
Melena مانا تور رنګه، بدبویه غایطه مواد، چې په کولمو کې له 14 ساعتو څخه وروسته د ډېر وخت تېر شوی وي.
ډېر وختونه داسې هم شونې ده، چې د Hematemesis له کبله وګړي پر Melena اخته شي.
ښایي چې ناروغ د شاک په حالت کې اوسي، د دماغي Anaxia له کبله ناروغ نارامه، خپه او ځای نه پېژندونکی شوی وي.
د وینې بهېدنې له کبله د وینې فشار، نبض او د ادرار اطراح تر ټولو ښه کلینیکي تشخیص ایښودلی شي، چې Tachycardia، د وینې فشار ټیټوالی او د ادرار کمښت د وینې بهېدنې په ډېرښت دلالت کوي.
دې لپاره چې وروستي او بشپړ تشخیص ته ځان ورسوو، ناروغ ته د GI Endoscopy د 24 ساعتو په اوږدو کې ترسره کوو، چې له مخې یې کوچني

(c) ketabton.com: The Digital Library

افتونه، د معدې قرحات، د معدې خيرې کېدنه او نور را په ګوته کولای شي.

لاملونه:

1. Peptic Ulcer.
2. Esophageal Uarices.
3. Fundal Varices.
4. Erosive Gastritis.
5. Esophagitis.
6. Mallory Weiss Syndrome.
7. Carcinoma Stomach.
8. Hereditary Hemorrhagic Telengiectasis.
9. Bleeding Disorder.

1. Peptic Ulcer:

د معدې تپونه په نرۍ کې تر ټولو ډېرې پېښې د Melena او Hematemesis جوړوي.

2. Esophageal Varices:

د هضمي سيستم د پورتنيو برخو د وينې بهېدنې ډېرې پېښې د Esophageal Varices جوړوي، چې په مرۍ کې د رګونو د پرسوب له کبله منځته راځي.

د پورټل سيستم او سيستميک وريدونو ترمنځ ګډې اړيکې د دې رګونو د پراخه کېدو سبب ګرځي او Portal Hypertension منځته راوړي.

د Portal Hypertension تر ټولو عالم لامل د ځيګر Cirrhosis دی.

Varices د معدې په Fundus کې هم منځته راځي، چې ډېره شديده وينه بهېدنه به لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

1. Hematemesis به ډېر او پرلپسې وي.
2. د ناروغ ګېډه به د خبن (Ascitis) له کبله پرسېدلی وي.
3. ناروغ په تېر عمر کې د زېړي Jaundice تاریخچه ولري.
4. Hematemesis ښایي، چې د Cirrhosis لومړنی کلنیکي عرض وي.

نښې:

د Cirrhosis نښې به شتون ولري.

پلټنې:

1. وروستی تشخیص د Endoscopy په وسیله کولای شو.
2. د Hematemesis پرمهال د ګېډې جس کول د معدې او اثنا عشر د تېپونو لپاره ډېر اړین او پرځای ګام دی، د معدې د Fundus د برخې Varices هم له پامه ونه ایستل شي.

3. *Erosive Gastritis:*

دا مهال به د معدې له التهاب سره یو ځای د معدې د مخاطي طبقې ډېرې برخې په Erosion اخته شوې وي.

اعراض:

1. ناروغ به د Epigastric ناحیې له درد سره یوځای یا پرته له درده Hematemesis ولري.
2. د درملو د کارولو تاریخچه به مثبت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښې:

- د Epigastrium په برخه کې به حساسوالی شتون ولري.

لاملونه:

A. Drug.

1. Aspirin / NSAIDs.
2. Theophylline.
3. Potassium Chlorid.

B. Stress.

1. Head Injury.
2. Shock.
3. Trauma.
4. Burns.
5. Sepsis.
6. Hepatic Encephalopathy.

پلټنې:

په اندوسکوپي کې به د مخاطي غشا له پاسه تازه وینه بهبدونکي کوچني، افتونه تر سترګو شي.

4. Esophagitis:

وینه بهبدنه د Esophagitis تر ټولو عام اختلاط دی، چې Melena یې عامه نښه ده.

5. Mallory Weiss Syndrome:

په ناروغانو کې د پرلپسې شدیدو کانګو له کبله د معدې او مری (Gastro-Esophageal) ګډ ټرون ځای (Junction) څیري کېږي، چې دې حالت ته Mallory Weiss Syndrome وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

له Hematemesis څخه دمخه به ناروغان د پرلپسې کانګو تاریخچه ولري.

نښې:

- په Epigastrium ناحیه کې به روښانه حساسوالی پروت وي.

پلټنې:

- اندوسکوپي کولای شي، چې وروسته تشخیص وتاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

6. Carcinoma Stomach:

د معدې په سرطان کې Hematemesis کوم ځانګړی رول نه ښندي.

7. Hereditrary Hemorrhagic Talangiectasis:

په دې افت کې Hematemesis رول لري، چې وروستی تشخیص یې د اندوسکوپي په وسیله ترسره کوو.

8. Bleeding Disorder:

که ناروغ د ببلا ببلو برخو څخه وینه بهېدنه درلودله، تشخیص په خپله روښانه او وټاکل شي، یانې د اړونده پلټنو له مخې ځان تشخیص ته ورسوو.

❋❋❋

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیارلسم څپرکی

له مقعد څخه د وینې راتګ

Bleeding Per Rectum

کله چې یو ناروغ له مقعد څخه تازه وینه بهېدنه ولري، نو تاسو له هغه څخه وپوښتئ، چې وینه له تغوط څخه وړاندې او که وروسته منځته راغلې دا هم پوښتنه وکړئ، چې وینه د غایطه موادو سره ګډه شوې او که د غایطه موادو له پاسه پرته وي.

لاملونه:

1. Carcinoma Colon.
2. Polyp.
3. Hemorrhoids.
4. Anal Fisure/ Fistula.
5. Ulcerative Colitis / Corhn's Disease.
6. Arterio Venus Malformation.
7. Ischemic Colitis.
8. Bleeding Disorder.
9. Rapid Transit of Upper Gastrointestinal Bleeding.

1. *Carcinoma Colon:*

په هغه ډېر عمر لرونکو وګړو کې د کولون د سرطان پېښې ډېرې وي، چې د اوږد مهاله Ulcerative Colitis او Familial Polyposis تاریخچه ولري، خو د ځینو Adenomatos Plyps پېښې په ځوانو وګړو کې ډېرې منځته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

1. د مقعد سرطان به له مقعد څخه د وینې بهېدنې او Tenesmus سره یو ځای وي.
2. د کیڼ کولون (Left Colon) سرطاني پېښې په حاد او تحت حاد بندښتونو، لکه قبضیت، کولیکي دردونه او نورو له کبله د وینې بهېدنې سره یو ځای پېښېږي.
3. د ښي کولون (Right Colon) سرطانونه د کمخونې، وزن بایللو، نس ناستي او قبضیت له کبله منځته راتلای شي.
4. د پورته ټولو ستونزو درلودونکي کسان په تېره هغه چې له 40 کلنۍ ډېر عمر ولري، پوره وپلټل شي، ترڅو چې بشپړ او پرځای تشخیص غوره کړل شیی.

نښې:

1. ناروغ به ډېر خاسف ښکاري او په وروستیو کې کمزوري ډېرېږي.
2. د مقعد په Digital Examination کې به تومور د جس وړ وي.

پلټنې:

1. Hemoglobin به ټیټ یانې کمخوني او د اوسپنې کمښت شتون ولري.
2. ESR به لوړ شوی وي.
3. Barium Enema کې به Filling Defect موجود وي.
4. که د وروستي تشخیص لپاره د لاندې کړنلارو په وسیله Biopsy واخیستل شي، نو تشخیص به بالکل وټتاکل شي.
5. Colonoscopy/ Singmoido/ Procto.

(c) ketabton.com: The Digital Library

6. Occult Blood په غایطه موادو کې د ښکلا ښکلو ازموینو په وسیله ولیدای شي، له 10 سلنې څخه لږو پېښو کې د Occult Blood مثبتې پېښې پر کولون سرطان ښودنه کولای شي.

2. د کولون Polyp:

په اروپا کې له مقعد څخه د ویني راتګ ډېره پېښې د Polyp له کبله منځته راځي، چې Poly له سلیم حالت څخه خبیث حالت ته اوړېدلی شي. په کورني تاریخچه لرونکو Polypsis Colon کې 100 سلنه پېښې خباثت ته اوړي.

اعراض:

- ناروغان ځوانان وي، چې له مقعد څخه وینه بهېدنه لري، ښایي چې وینه بهېدنه لري، ښایي چې وینه بهېدنه پرلپسې وي.

نښې:

کومه ځانګړې فزیکي نښه د لیدلو وړ نه وي، خو یوازې به ناروغ خاسف (Pale) رنګ ولري.

پلټنې:

- ښه تشخیص یې د Barium Enema، Procto / Sigmoido او Colonoscopy په وسیله کولای شو، خو د خباثت (Malignancy) د څرګندولو لپاره Biopsy ته ډېره اړتیا موندل کېږي.

3. Hemorrhoids:

د مقعد په شاو خوا کې به غښتلي رګونه منځته راغلي وي، په ډېر عمره وګړو کې د بواسیرو پېښې له ویني بهېدنې سره ډېرې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

1. له مقعد څخه وینه بهېدنه هغه مهال ډېرښت مومي، چې کلک غایطه مواد له مقعد څخه تېر شي.
2. د غایطه موادو په یوه برخه د ویني خیال ښکاري، ځینې وختونه له تشناب کاغذ سره هم وینه نښتې او په ځینو وختونو کې د ویني کچه ډېرښت مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښې:

- د مقعد فزیکي معاینه به نورمال وي، خو د بواسیرو د شتون پرمهال جس کېدلی شي.

پلټنې:

- بواسیر (Hemorrhoids) په ډېر اسانۍ سره د Proctoscope په وسیله لیدای کېږي.

4. Anal Fissure/ Fistula:

اعراض:

- ناروغ د تغوط پرمهال له درد څخه سر ټکوي، چې غایطه مواد و سره به د وینې څرګند خیالونه ولیدای شي.

نښې:

- افت په ډېره اسانۍ سره د Proctoscopy په وسیله لیدای شو، خو ډېره هڅه وکړئ، چې د Proctoscopy کړنه ډېر په احتیاط ترسره شي، ځکه ساحه دردناکه وي.

5. Ulcerative Colitive/ Crohn's Disease:

د کولمو التهابي ناروغۍ هم هغه حالت ته وایي، چې نس ناستی له وینې سره یو ځای وي، دلته به په روښانه توګه له مقعد څخه وینه ځي.

6. Arteriovenous Malformation:

Angiodysplasia د کوچنیو اوعیو یوه استحالوي ګډوډي ده، چې د کولون هره برخه اخته کولای شي.

وینه بهېدنه له مقعد څخه په پرلپسې توګه شته وي، خو له یادونه ایستل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، چې Barium Enema او Colonoscopy معاینات بالکل نورمال وي، یوازې د Angiography په وسیله ښه تشخیص ایښودلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

7. Ischemic Colitis:

دا ستونزه په ځوانو وګړو، په تېره هغو کې چې Atherosclerosis ولري ډېرې منځته راځي، ډېر Splenic Flexure او Descendig Colon اخته کوي.

اعراض:

1. ناروغ به د ګېډې د ښکتنۍ برخې شدید دردونه لري.
2. زړه بدوالی او کانګې عام دي.
3. اعراض يې نس ناستی او وينې بهېدنې سره غښتلي کېږي.

نښې:

1. د وينې فشار ټيټېږي.
2. په کين Iliac خالیګاه کې څرګند حساسوالی.

پلټنې:

1. د ګېډې X-Ray په Plan نښه د Thumb Printing د Splenic Flexure او Decending Colon په برخه کې د پرسوب او Submucosal وينې بهېدنې له کبله موجود وي.
2. Barium Enema هم د Thumb Printing نښه را په ګوته کولای شي.
3. Colonoscopy ښايي چې Ulceration وښيي، چې د Submucosa د برخې وينه بهېدنه هم په اسانۍ تاکل کېږي.

8. Bleeding Disorders:

ځيني وختونه يو ازې له مقعد څخه وينه بهېدنه يې پيليزې نښې جوړوي.

9. Rapid Transit of uppr Gastrointestinal Bleeding:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کولمو د پورتنۍ برخې وینه بهېدنه په ډېرو حالتونو کې د Melena په ډول راڅرګندېږي، وینه باید 14 ساعته وروسته د Melena په نوم وپېژندل شي، خو که وینه بهېدنه په چټکتیا سره له کولمو څخه را روانه شوې وي، وینه به تازه او سور رنګه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوارلسم څپرکی

حاد نس ناستی

Acute Diarrhea

د تغوط د شمېر کچه په ېلا ېلو وګړو کې توپیر لري، خو نورمال حالت به وګړو کې د نس ناستي یا هم قبضیت له کبله توپیر مومي.

لاملونه:

A. Diarrhea Without Blood.

1. Viral Gastroenteritis.
2. Food Poisoning Except Bacterial Infection.
3. Giardia Lamblia.
4. Cholera.
5. Traveller's Diarrhea.
6. Spurious Diarhea.

B. Diarrhea with Blood.

1. Food Poisning (Bacterial Infection).
2. Bacterial Dysenteyr.
3. Amebic Dysentery.
4. Ulcerative Colitis/ Crohn's Disease (First Attack).
5. Pseudomembranous Colitis.
6. Yersinia Enterocolitica Colitis.
7. Ischemic Colitis.

نس ناستی په دې مانا چې نورمال غایطه مواد خپله بڼه نرم او اوبیز ډول ته واړوي، په اوونۍ کې له 2 ځلو څخه کم نس ناستي ته حاد نس ناستی وایي، په اوونۍ کې 4-2 ځلو پورې نس ناستي ته پرله پسې نس ناستی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایي، خو که له څلورو ځلو څخه هم په اوونۍ کې د نس ناستي شمېره ډېره شوه، دې ډول ته ځنډنی نس ناستی وایي.
له مقعد څخه کلکو غایطه موادو تېرېدو ته قبضیت وایي.
شدید نس ناستی (له کانګو سره یو ځای یا پرته کانګو) Dehydration منځته راوړي، همدارنګه له کولمو څخه د افرازېدونکو مایعاتو ضیاع، چې په ډېره کچه سره پوتاشیم لري، هم سبب ګرځي، چې په ناروغ Hypokalemia منځته راوړي.
که په خپل وخت سره ناروغ ته مایعات او الکترولیت ورنه کړل شي، نو فشار تیتېږي او د پښتورګو د عدم کفایه منځته راوړي.

له ویني څخه پرته نس ناستی / Diarrhea without Blood:

Viral Gastroenteritis:

په ماشومانو کې د حاد نس ناستي ځانګړی لامل جوړوي، خپله ښه کېدونکې ناروغي ده، چې په 48 ساعتو کې له منځه ځي.

اعراض:

1. ناروغ به کانګې او نس ناستی لري.
2. غایطه مواد به اوبیز وي.
3. تبه شتون نه لري.

نبښي:

له Dehydration څخه پرته کومه بله نبښه نه تر سترګو کېږي.

د Dehydration نبښي:

1. Rapid, Low volume pulse.
2. Low Blood Pressure.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. Sunken Eyes.
4. Dry Tongue.
5. Decreased Skin Elasticity.
6. Decreased Urine Output.

پلټنې:

1. غايطه موادو کې به اوبيز توته ډوله بڼه تر سترګو کېږي.
2. وينه، مخاط او Puss Cell به شته وي.
3. Leukocyte شمېر به نورمال وي.

Food Poisoning خوړيز تسمم:

يو ډله ګډوډي دي، چې له نس ناستي او کانګو سره يو ځای د Gast Enteritis له کبله په 48 ساعتو کې منځته راځي. ځينې وختونه په غايطه موادو کې وينه او ځينو وختونو کې پرته له وينې نس ناستی د خوړيز تسمم سبب ګرځي. د تسمم پېښې په تولیزه توګه په هوټلونو، کورونو او بازارونو کې د ناپاکه او ملوثو خوړو له خوړلو وروسته منځته راځي.

لاملونه:

1. (Unripe Fruit. Shellfish) Allergy to Certain Foods.
2. (Arsenic) Chemical Poisons.
3. Bacterial Toxins.
a. Staphylococcus Aureus.
b. E.Coli (Enterotoxigenic).
c. Clostridia Perfringens.
d. Clostridia Botulinum.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

Allergy to Food & Chemical Poisons:

1. له خوړو خوړلو کابو 30 دقیقې وروسته نس ناستی او کانګې.
2. تر 24 ساعتو وروسته رغېدنه منځته راځي.

Bacterial Toxins:

1. په هغه خوړو کې دا توکسین ډېر موندل شوی، چې سر یې بند وي.
2. له Staphylococcus Aureus تسمم وروسته ښه عرض کانګې دي.
3. د Clostridia Perfringens له کبله په تسمم شوو وګړو کې د ګېډې درد او نس ناستي سره یو ځایکانګې هم شته وي.
4. له Clostridia Botulinum څخه منځته راغلي تسمم ته (Botulism) وایي، پرته له کانګو په ناروغ کې کمزوري، عضلاتو سستوالی، د سترګو او حنجرې عضلاتو کمزوري او نس نه اعراض دي.

نښې:

ناروغ Dehydrated ښکاري.

پلټنې:

- د خوړیزو الرژیکو موادو، کیمیاوي موادو او بکتریایي توکسین له کبله نس ناستی په غایطه موادو کې مخاط او Puss Cell نه لري.

Giardiasis:

له Giardia Lamblia نومې پروتوزوا څخه منځته راځي، ډېره عامه ناروغي ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د خولې او غایطه موادو له لارې لېږدي، حاده او ځنډنی بڼه لري.

اعراض:

1. نس ناستی، د ګېډې درد ، Belching او نفخ به شته وي.
2. زړه بدوالی او کانګې عام اعراض دي.

نښې:

1. ناروغ به Dehydrated وي.
2. کومه بله ځانګړې او تر سترګو کېدونکې نښه نه شته.

پلټنې:

په غایطه موادو کې Cysts د مایکروسکوپ لاندې لیدلی شو.

Cholera:

د Vibrio Cholerae د Enterotoxins له کبله منځته راځي، په Epidemic ډول خپرېږي، چې د غایطه او خولې لېږې د یادولو وړ ده.
د تفریح دوره یې له څو ساعتو تر پنځو ورځو پورې ده.

اعراض:

1. شدید نس ناستی، د ګېډې له درد پرته شته وي، د غایطه موادو بڼه سپین رنګه یاني وریجو ته وي.
2. کانګې به شدیدې وي.
3. تبه نه وي.

نښې:

1. ناروغ به Dehydrat وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. کومه بله ننبه نه تر سترګو کېږي.

پلټنې:

1. غایطه مود په ببرنۍ ډول سره لابراتوار ته واستول شي او د Vibrioبسیل په کې څرګند شي.
2. د ارګانېزم کتنه په اسانۍ سره د کرنې (Culture) له لارې کېدلی شي.

Traveller's Diarrhea:

1. د نس ناستي یوه لنډه دوره منځته راځي.
2. 2-5 ورځو هم غځېدای شي.
3. د ګېډې دردونه، کانګې او د اشتها نه شتون.
4. تبه هم ښایي شته وي.
5. E.coli او Shigella یې د یادو ډ ا رګانېزمونه دي.

Spurious Diarrhea:

د نس ناستي په دې ډول د ناروغ د ګېډې له پاسه د جس او یا هم د مقعد د معاینې له لارې کلکې توتې د غایطه مواد و جس کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وینه لرونکی نس ناستی

Diarrhea with Blood

خوریز تسمم:

بکتریایي انتانات :

په بکتریا ککړ شوي خواړه په اني توګه کولای شي نس ناستی رامنځته کړي. ډېرې عام بکتریاګانې یې Salmonella Typhimurium، Campylobacter Jejuni، Enterohemorrhagic او E.coli دي.

له تسمم څخه 48-12 ساعته وروسته اعراض منځته راځي، چې ناروغ د څو ورځو پورې همداسې ناروغ ډوله ښکاري.

اعراض:

1. نس ناستی به کم یا ډېر وي، خو وینه به ورسره وي.
2. کانګې به شته وي.
3. تبه او د ګېډې درد عام اعراض دي.
4. د Salmonella Typhimurum انتاناتو له کبله ناروغ کې Septicemia منځته راځي، چې له مخې یې ښایي Osteomyelitis، Arthritis او Meningitis ته هم لاره هواره شي.
5. په Campylobacter Jejuni کې د سر خوږ عام عرض دی.

نښې:

1. ناروغ به Dehydrated وي.
2. د تودوخې درجه لوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلټنې:

1. په بکتریایي انتاناتو کې غایطه مواد وینه او مخاط لري، خو Puss Cell نه لري، په داسې حال کې چې په Bacillary Dysentery کې په ډېره کچه Puss Cell شتون لري.
2. په غایطه موادو کې د مایکروسکوپ لاندې خوځنده Campylobacter تر سترګو کېږي.
3. په اسانۍ سره د غایطه موادو په کرنه کې Salmonella او Campylobacter تر سترګو کېدای شي.
4. په شدیدو پېښو کې له وینې هم کلچر اخیستل کېږي.

:Dysentery

د Entamba Hisolytica له کبله منځته راځي.

اعراض:

1. تدریجي منځته راځي (ځینو وختونو کې حاد هم وي).
2. ورو تر شدید پورې دردونه ګډه کې منځته راتلی شي.
3. ناروغ 4-6/day ځلې تغوط کوي، بدبویه، وینه او مخاط به له غایطه موادو سره ګډ شوی وي.
4. تبه عامه نه ده، خو که وي هم ټیټه درجه سره به وي.
5. Dehydration عام نه دی.

پلټنې:

1. په مایکروسکوپ کې به د غایطه موادو منځ کې Puss Cell شتون یا هم کم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. تر توللو غوره ده، چې تازه او ګرم غایطه مواد لابراتوار ته ولېږدول شي.
3. په Sigmoidoscopy کې به څو څو ځایه د کولمو له پاسه ټپونه تر سترګو شي، که د ټپ له برخې څخه Biopsy واخیستل شي، نو په روښانه ډول به Trophozoit تر سترګو شي.
4. ELIZA ټیسټ به مثبت وي.

Bacillary Dysentery:

لامل یې Shigella بلل شوی، څلور ډولونه لري:

1. S.Dysenteriae
2. S.Flexneri
3. S. Boydii
4. S.Sonnei

اعراض:

1. په ببرني ډول پیلېږي.
2. د ګېډې کولیکي دردونه موجود وي.
3. په ورځ کې له 10 ځلو ډېر تغوط.
4. غایطه مواد به اوبیز وي.
5. په شدیدو پېښو کې وینه او مخاط له غایطه موادو سره ګډ ېږي.
6. تبه شتون لري.
7. کانګې هم منځته راتلی شي.

نښې:

1. د ګېډې په کښ Iliac خالیګاه کې حساسیت ډېر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. Dehydration به عام وي.

پلټنې:

1. په مایکروسکوپ کې به په ډېره کچه سره Puss Cell پراته وي.
2. وروستی تشخیص لـه کرنې وروسته د بسیل د پېژندنې په مټ کوو.

Crohn's Disease/ Ulcerative Colitis:

دواړه ځنډنی ناروغی دي، خو د لومړي ځل پېښېدونکي حاد نس ناستي څخه وروسته يې بايد توپيري تشخيص وشي.
د تشخیص په وروستي کولو کې وینه لرونکی نس ناستی، د غایطه موادو کرنه او Colonoscopy ډېره مرسته کوي.

Pseudomembranous Colitis:

لـه میکـروب ضـد درملنـې څخـه وروسـته منځتـه راځـي، پـه تېـره د Clindamycin او Ampicillin له کارولو وروسته چې یو ځانګړی توکسین تولیدوي او دا توکسین د نېغ افت جوړولو سبب ګرځي.

اعراض:

کله چې ناروغ میکروب ضد درمل وخوري، اوبیز نس ناستی د وینو او یا پرته له وینو منځته راځي.

نښې:

- له Dehydration پرته بله نښه نه تر سترګو کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلټنې:

1. د غایطه موادو په ازموینه کې RBCs او Puss Cell پراته وي.
2. په غایطه موادو کې د Clostridum Difficile موندل تشخیص وروستي برید ته رسوي.
3. په Colonoscopy کې به هم Adherent (سرېښناکه) پرده کولمو کې تر سترګو شي.

Yersna Enterocolitica Colitis:

1. څرګند عرض یې د ګېډې له شدید درد سره یو ځای د نس ناستي شتوالی دی.
2. په 5 سلنه پېښو کې وینه او مخاط شته وي.
3. تبه عامه نه ده.
4. د بندونو درد ښایي رامنځته شي.

نښې:

1. د Dehydration پرته کومه ځانګړې نښه نه لري.
2. Arthritis او Erythema Nodosum ښایي شته وي.

پلټنې:

د تشخیص لپاره د غایطه موادو کرنه او Serological ازموینې اړینې دي.
په ډېر عمره وګړو کې د کیڼ Iliac تشې له درد سره یو ځای ناروغانو کې کانګې هم منځته راځي.

Constipation قبضیت:

کله چې غایطه مواد کلک، سخت شي او په سختۍ سره له مقعد څخه تېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، قبضیت ښایي حاد او هم ځنډنی بڼه ولري.

لاملونه:

په ډیرو عمره وګړو کې د قبضیت ډیرښت له پامه ونه غورځول شي.

❊❊❊

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم څپرکی

ځنډنی نس ناستی

Chronic Diarrhea

هغه نس ناستی، چې له اوونیو تر میاشتو وغځېږي، ځنډنی نس ناستی ورته وایي، ډېره اړینه دا ده، چې څرګنده شي، ناروغ په غایطه موادو کې وینه لري او که نه؟

لاملونه:

A. *Diarrhea with Blood.*

1. Amebic Dysentery (Recurent).
2. Ulcerative Volitis.
3. Crohn's Disease.
4. Carcinoma Colon.

B. *Diarrhea without Blood.*

1. Malabsorption.
2. Ileocecal Tuberculosis.
3. Irritable Bowel Syndrome.
4. Diabetic Diarrhea.
5. Laxative Diarrhea.
6. Zollinger Ellison Syndrom.
7. Carcinoid Syndrome.

:Diarrhea with Blood

:Amebic Dysentery

ځنډنی Amebic Dysentery د نس ناستي له پرله پسې حملو سره یو ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځته راځي.
د غایطه موادو په لابراتواري ازموینه کې به Entameba Histolytica ولیدای شي.

Crohn's Disease / Ulcerative Colitis:

د پورته دواړو ناروغیو ټولیزې ته Inflamatory Bowel Disease وایي، دواړه د نس ناستي پرله پسې حملې منځته راوړي، چې غایطه مواد به د وینې او مخاطو سره ګډ وي.
Ulcerative Colitis یوازې په کولون کې افت منځته راوړي، خو Crohn's ناروغي دواړه یاني کولون او کوچنۍ کولمې اخته کوي.
د Inflamatory Bowel Disease تشخیص د Barium او Colonoscopy په وسیله کولای شو.

Ulcerative Colitis:

ځنډنۍ ناروغي ده، چې یوازې کولون اخته کوي، افت لومړی مقعد بیا Rectosigmoid او په وروستیو کې ټول کولون اخته کوي.
په 20 سلنه پېښو کې د Colitis التهاب تر 1-2cm رسي، خو افت د Terminal Ileum خواته پروت وي.

اعراض:

1. نس ناستی د وینې، مخاط او زوړ سره یو ځای یې عام عرض دی، د ناروغۍ هره دوره په هره اوونۍ او هره میاشت کې توپیر مومي.
2. د ګېډې Cramps ډوله دردونه، چې ناروغ به دروغجونۍ تغوط لري.
3. پرله پسې نس ناستی هغه مهال منځته راځي، چې د ځنډني Ulcerative

(c) ketabton.com: The Digital Library

Colitis له کبله د کولمو Epithelium تخریب او له مخې یې مایعات جذب نه شي.

4. د ناروغۍ له شدت سره به ناروغ کې د زړه بدوالی، بې اشتهایي، کانګې، تبه او د وزن بایلل منځته راشي.

نبضي:

1. ناروغ به خاسف او Dehydrated وي.
2. د ګېډې په کښ Iliac خالیګاه کې به خفیف حساسیت موجود وي.

پلټنې:

1. د Hemoglobin کچه به ښکته وي، ESR به لوړ وي، CRP به لوړ وي، Leukocytosis به شته وي.
2. د غایطه موادو په ازمویښه کې به سرې حجرې او Puss Cell شته وي.
3. په شدیدو پېښو کې د الکترولیت توپیرونه او Hypoalbuminemia وي.
4. Perinuclear Anti Neutrophil Cytoplasmic Antibodies (PANCA) به مثبت وي.
5. US کې به د کولون ډېلوالی تر سترګو شي.
6. Colonoscopy به خپور شوی التهابي مخاطي غشا د Hyperemia، Edema او تپونو سره یو ځای ولیدای شي، ډېرو پېښو کې مقعد اخته کېږي.
7. ښایي ځینې وختونه د Dysplasia او د کولون د سرطان پېښې هم سر راپورته کړي.
8. Biopsy یوازې د Mucosa او Sub Mucosa طبقې له اخته کېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه ښودنه کولای شي، د Crypts Epithelium له اخته کېدو سره یو ځای ناروغ کې د Crypt خنځې هم منځته راتلی شي.

د Ulcerative Colitis اختلاطات:

1. Hemorrhage.
2. Toxic Dilation of Colon.
3. Perforation of Colon.
4. Septicemia.
5. Carcinoma of Colon.

:Toxic Dilatation of Colon

د Ulcerative Colitis شدید اختلاطي حالت دی، چې ناروغ به Tachycardia لوړه درجه تبه، د ګېډې پړسوب او حساسیت لري.
د ایکسری په Plain بڼه کې به د کولون پراخوالی تر سترګو شي.

له کولمو څخه بهر د Ulcerative Colitis کلنیک:

1. Pyoderma Gangrenosum.
2. Episcleritis.
3. Iridocyclitis.
4. Arthritis.
5. Cholangitis.
6. Clubbing of Fingers.

:Crohn's Disease

ځنډنی ناروغي ده، چې له کولمو څخه معدې او مقعد ته خپرېدای شي، ډېر عام ځایونه يې کولون او Ileum دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

1. له تغوط سره یو ځای د ګېډې په ښکتنۍ برخه درد یې عام عرض دی.
2. د تحت حاد کولمو بندښت له کبله د ګېډې په منځنۍ برخه کې کولیکي دردونه د زړه بدوالي او کانګو سره یو ځای منځته راتلل یې بل عرض دی.
3. نس ناستی، خفیف تر ببړنې حالته وي، د Malaborption له کبله Steatorrhea عام وي.
4. تېټه درجه تبه.
5. د وزن بایلل او د ودې نه شتون یې بل عرض دی.

نښې:

1. په ښي Iliac تشه کې د حساسیت او کتلې شتون یې ښه نښه ده.
2. د مقعد شاو خوا د Fistula شتون، ابسې او د Anal تنګوالی یې عام وي.
3. په شدیدو حالتونو کې Dehydration هم منځته راځي.

پلټنې:

1. کم خوني (Normocytic, Normochromic)، ESR، CRP او Leukocytosis به لوړ وي، د اوسپنې او فولیک اسید کمښت هم تر سترګو کېدای شي، خو Megaloblasic کم خوني عامه نه ده.
2. PANCA به منفي وي.
3. US به د مخاطي غشا ډبلوالی وښیي.
4. Barium Enema به د ژورو ټپونو شتون را په ګوته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. Sigmoidoscopy او Colonoscopy د کمـو یـا ډېـو ژورو ټپونـو ښودنه وکړي، په Ulcerative Colitis کې دروغجوني Polyps هم منځته راتلی شي.
6. CT/MRI د کولمو دپوال ډبلوالی او د لمفاوي غټوالی را په ګوته کړي.
7. د B_{12} د جذب خربوالی د Schilling Test په وسیله کوو.

د Crohn's Disease اختلاطات:

1. Abscess.
2. Fistula (Ileovesical, Ileocolic, Perianal).
3. Strictures Leading to Intetinal Obstruction.
4. Malabsorption (Particularly Vitamin B_{12}).
5. د Crohn's Disease او Ulcertative Colitis توپیري تشخیص په لاندی جدول کې وګورئ.

	لږ	منځنی	شدید
دنس ناستي شمیر په ورځ کې	۴ >	۴-۲	۲ >
په ډکو متیازو کی دوینی شتون	لږ	متوسط	زیات
د نبض شمیر په یوه دقیقه کې	۹۰ >	۹۰-۱۰۰	۱۰۰ >
دتودوخی درجه	نشته	۳۷,۵ >سانتي ګرید	۳۷,۵ حسانتي ګرید
انیمیا	لږ وي	۷۵% >	۷۵%≤
ESR mm/hr	۴۲ ملي متر>	-	۴۲ ملي متر>

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزن بایلل	نشته	۱-۱۰%	۱۰%<
اندوسکوپي	سوروالی، د وعایي حالت کموالی ، خفیف ګرانولیشن	سوروالی ډیر وي وعایي حالت نه وي تپ نه وي	تپونه وي، په خپل سر وینه بهیږي
دهیماتوکریت سلنه	نارمل	۴۰-۴۲	۴۲>
البومین (ګرام)	نارمل	۳،۵-۳	۳>

Carcinoma Colon:

له قبضیت سره یو ځای د پرله پسې نس ناستي منځته راتلل، چې د کولون د سرطاني حالت نبودنه کوي، په تېره د ښي کولون ښایي غایطه مواد وینه ولري.

هر 40 کلن وګړی، چې په تغوط کې یې د عادت خرابوالی رامنځته شو، نو د ازموینو له مخې د سرطاني حالت په هکله ببلا ببلې لارې ولټوي.

Diarrhea without Blood:

Malabsorption:

د جذب خرابوالی د ځینو ځانګړو ناروغیو له کبله، لکه د معدې، پانکراس، Biliary سیستم او کوچنیو کولمو ناروغیو څخه منځته راځي.

لاملونه:

1. Celiac Disease.
2. Tropical Sprue.
3. Lactose Intolerance.
4. Bacterial Colonization of small Intestine.
5. Chronic Pancreatitis.
6. Giardiasis.

(c) ketabton.com: The Digital Library

7. Crohn's Disease.
8. Ileocecal Tuberculosis.
9. Gut Resection.

اعراض:

1. ناروغ به صحتمند نه ښکاري او د تمرکز ساتلو ځواک به يې له لاسه ورکړی وي.
2. ماشومانو کې د ودې خرابوالی ډېره عامه ستونزه ده.
3. سرېخناکه اوبيز ډوله غايطه مواد ، چې Steatorrhea ورته وايي.
4. خپور شوي کوليکي دردونه.
5. د وزن بايلل، د ښې اشتها سره سره.
6. د ويټامينونو او منرالونو د کمښت نښې به غښتلې وي.

نښې:

1. ناروغ به کمخونه وي.
2. ناروغ به ډنګر او کمزوری وي.
3. ګېډه به پرسېدلی وي.
4. ناروغ کې به د پرسوب نښې تر سترګو شي.

پلټنې:

1. له نورمال خوړيز رژيم سره به په ناروغ کې د هېموګلوبين، سيروم، پروټين او کلسيم کچه ټيټه وي، په جذب خرابوالي (Malabsorption) کې د ځيګر او پښتورګو دندې نورمال وي.
2. د خوړيز جذب خرابوالی د ټاکلو لپاره ځانګړي ټيستونه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ileocecal Tuberculosis:

اعراض:

1. ناروغ له نس ناستي وروسته په قبضيت اخته کېږي.
2. د ګېډې خپور شوی درد.
3. ناروغ به د تحت حاد ډول کولمو بندښت درد لري.
4. د بې اشتهايی، لوړې درجې تبې او شپې له خوا د خولې کېدو تاريخچه به هم شته وي.
5. د سږو د توبرکلوز تاريخچه به هم شته وي.

نښې:

1. به نښي Iliac تشه کې به جس کېدونکې کتله پرته وي.
2. د کولمو د بندښت نښې هم سر راپورته کوي.

پلټنې:

1. ESR به لوړ وي.
2. Tuberculin ټيسټ به مثبت وي.
3. ګوګل ايکسری به د سږو د توبرکلوز نښې وښيي.
4. په الټراساوند ازموينه کې به د نښي Iliac تشه يو څه ډبله ښکاري.

Irritable Bowel Syndrome:

ډېر عام سنډروم دی، چې په ځوانانو کې ډېرې پېښې تر سترګو شوي.

اعراض:

1. ناروغ به پرله پسې سره د ګېډې په لاندينی برخه کې درد

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساسوي.

2. د تغوط په شمېر کې ډېر توپیر پېښېږي (ډېرښت، یا کمښت)، ناروغ به د تغوط احساس کوي، خو دروغجونی تګ به وي، ښایي غایطه مواد به مخاط هم لري، غایطه مواد به وینه نه لري.
3. له روحي فشارونو سره په ناروغ کې اعراض ډېرښت مومي.
4. سیستمیک افتونه، لکه تبه او د وزن بایلل منځته نه راوړي.

نښې:
د کولون له پاسه به یو څه حساسیت شتون ولري.

پلټنې:
ټولې ازموینې نورمال وي.

❊❊❊

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپاړسم څپرکی

زېړی

Jaundice

د سیروم بیلوروبین کچې د لوړوالي له کبله د ناروغ پوستکي زېړ رنګه اووختو ته Jaundice وایي، د زېړي ښه فزیکي لیدنه په ورځنۍ روښنایي کې د سترګو په Sclera او د ژبې په لاندینۍ سطحه کې لیدلی شو.
که د Bilirubine کچه ډېره لوړه شي، پوستکی هم زېړ رنګه بڼه غوره کوي.
د Heme میتابولېزم وروستی تولید بیلوروبین جوړوي، د هیموګلوبین کابو 85 سلنه د Reticulo Endothelial سیستم، ځیګر، توري او هډوکو مغز په وسیله ماتېږي، پاتې برخه یې د Heme په ډول کتابولېزم کوي او د Myoglobin پروتین په خبر زېرمه کېږي.
Conjugated پروتین به له البومین سره باندې لري، په اوبو کې نه حلېږي، همدا راز په ادرار کې هم نه شي تېرېدلی، د ځیګر حجراتو په وسیله اخیستل کېږي او د Glucuronyl Transferase انزایم نه زور له Glucuronic Acid سره یو ځای کېږي.
کله چې پورته پروسه سرته ورسېده، نو بیا د صفرا د قناتونو له لارې کولمو ته لېږد ېږي.
Congugated بیلوروبین په اوبو کې حلېږي؛ ځکه په ادرار کې هم تېرېدلی شي.
په کولمو کې د یو شمېر بکتریاګانو په وسیله ماتېږي، چې ډېره برخه یې له غایطه موادو سره یو ځای د Stercobilinogen په ډول اطراح کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې یې بیا د Enterhepatic دوران لـه لارې ځیګـر تـه ځـي، چـې د سیستمیک دوران له لارې په متیازو کې د Urinobilinogen په څېر اطراح کېږي.
په نورمال ډول سره سیروم بیلوروبین Unconjugated وي، پـه ادرار کـې بیلوروبین نه وي، خو یوازې Traces Urobilinogen په کې دي.
زېړی په دري ډول منځته راځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

TYPES OF JAUNDICE

PRE HEPATIC	HEPATIC	POST HEPATIC
Excessive amount of bilirubin is presented to the liver due to excessive hemolysis	Impaired cellular uptake, defective conjugation or abnormal secretion of bilirubin by the liver cell	Impaired excretion due to mechanical obstruction to bile flow
Elevated unconjugated bilirubin in serum	Both conjugated and unconjugated bilirubin may be elevated in serum	Elevated conjugated bilirubin in serum

dr.s.hadi 7

(c) ketabton.com: The Digital Library

TYPES OF JAUNDICE

PRE HEPATIC	HEPATIC	POST HEPATIC
Hemolytic Anemia	Hepatitis, cirrhosis, Crigler-Najjar Syndrome, Dubin-Johnson Syndrome, Rotor's Syndrome	Gallstone, malignancy, inflammation

dr.s.hadi 8

(c) ketabton.com: The Digital Library

TYPES OF JAUNDICE

TYPE	PRE HEPATIC	HEPATIC	POST HEPATIC
Urine color	normal	dark	dark
Stool color	normal	normal	acholic
Pruritus	no	No	yes

dr.s.hadi 10

(c) ketabton.com: The Digital Library

Table of diagnostic tests

Function test	Pre-hepatic Jaundice	Hepatic Jaundice	Post-hepatic Jaundice
Total bilirubin	Normal / Increased	Increased	
Conjugated bilirubin	Normal	Increased	Increased
Unconjugated bilirubin	Normal / Increased	Increased	Normal
Urobilinogen	Normal / Increased	Increased	Decreased / Negative
Urine Color	Normal	Dark (urobilinogen + conjugated bilirubin)	Dark (conjugated bilirubin)
Stool Color	Normal	Normal/Pale	Pale
Alkaline phosphatase levels	Normal	Increased	
Alanine transferase and Aspartate transferase levels		Increased	
Conjugated Bilirubin in Urine	Not Present	Present	
Splenomegaly	Present	Present	Absent

1. *Pre Hepatic Jaundice:*

تر ټولو عام لامل يې بدن کې په ډېره کچه د RBCs ماتېدل (Hemolysis)، چې له کبله يې ډېر بيلوروبين جوړېږي، خو دا ټول د ځيګر په وسيله نه شي Conjugate کېدلی، دې وجهې يو څه وينه کې پاتې کېږي او د Uncojugated Hyper Bilirubinemia لامل ګرځي.

Unconjugted بيلوروبين په اوبو کې نه حلېږي؛ ځکه په ادرار کې هم نه وځي.

Urinobilinogen په ادرار کې ډېرېږي؛ ځکه ډېر بيلوروبين کولمو ته ننوځي، له دې املې د Urinobilingen کچه کولمو کې ډېرېږي او ځيګر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځي (ځیګر له خپله نورمال برید څخه ډېر بیلوروبین نه اخلي)، پاتې برخه يې د سیستمیک دوران له لارې ادرار ته ځي او بهر وځي.

2. Hepatocellular Jaundice:

که ځیګر په افت اخته شوی وي، نو نه شي کولای چې د بیلوروبین نورمال مقدار هم جوړ کړي.

Conjugated بیلوروبین د ځیګر حجراتو (Hepatocytes) په وسیله نه لېږدیږي، له دې امله وایې سیستمیک دوران ته ځي، د سیروم بیلوروبین کچه لوړېږي، یانې دواړه Conjugated او Unconjugated بیلوروبین لوړېږي.

لاملونه:

Conjugated بیلوروبین په اوبو کې نه حلېږي، ادرار کې بهر ته وځي، کله چې Urinobilinagen له کولمو څخه ډېر جذب شي، وینې دوران ته ځي، دا چې د ځیګر حجرات (Hepatocytes) په افت اخته وي، نو نه شي کولای جذب يې کړي.

د ځیګر حجراتو دندو خرابوالي لاملونه:

3. Posthepatic Jaundice:

که د صفراوي سیستم په اوږدو کې بندښت شته وي، نو بیلوروبین په صفرا کې نه شي لېږدېدلی، Conjugated بیلوروبین لوړېږي، دلته به په ادرار کې هم د بیلوروبین کچه لوړه شي، کله چې صفراوي لارې نده شوې، Urinobilinogen بالکل له منځه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Prehepatic Jaundice:

سیروم بیلوروبین به Conjugated وي، په ادرار کې به هم بیلوروبین نه وي، خو Urinobilinogen به لوړ وي.

Hemolysis:

Unconjugated Hyperbilirobinemia اصلي کلنیکي بڼه جوړوي.

Infective Erythropoiesis:

د ویټامین B_{12} او فولیک اسید په کمښت کې RBCs د وینې سرې حجرې په سم ډول نه پخېږي او له پخېدو دمخه تخریبېږي، دې حالت ته Infective Erythropoiesis وایي.

د دې ستونزې به پایله کې بیلوروبین ډېرېږي او ناروغ په Jaundice (زېړی) اخته کېږي.

د Unconjugated Hyperbilirubinemia لاملونه:

1. Hemolysis.
2. Infective Erythropoesis.
3. Gilbert's Syndrome.
4. Crigler-Najjar Syndrome.
5. Neonatal Physiological Jaundice.

Hepatocellular Jaundice:

Active Viral Hepatitis:

پنځه وایروسونه دي، چې په لومړني ډول سره ځیګر اخته کوي، Hepatotropic Viruse ورته وایي، چې نومونه یې A، B، C، (Delta)D او E دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

1. ناروغ به بې اشتهايي (Anorexia)، Nausea او کانګې لري.
2. په ښي Hypochondrium کې به درد ډېر وي.
3. د ناروغۍ له پيل سره ښايي ناروغ د انجکشن، وينې لېږد (Blood Transfusion) تاريخچه ولري.

ښښي:

- ناروغ زېړ وي (Jaundiced).
- ځيګر به غټ او حساس وي، سطحه به يې ښويه او نرمه وي، په شديد Hepatits ځيګر سره راټولېږي، چې له امله يې ځيګر کې Dullness منځته راځي.

پلټنې:

د سيروم بيلوروبين کچه لوړېږي.

Serum Glutamic, (Aspartate Aminotransferase) AST- (Alanin, Oxaloacetic Transaminase) SGOT (Serum Ghutamic pyruvic, Aminotransferasc) ALT.

Transaminase SGPTکچه به لوړه وي.

د Amino Transferase د کچې لوړوالی د ځيکر په شديد تخريب پورې اړه نه لري.

Prothrombin Time اوږدېږي، چې دا د ځيګر ناروغۍ ډېره حساسه ښښه ده.

Chronic Liver Disease:

د ځيګر ځنډنۍ ناروغۍ Hepatitis او Cirrhosis بللی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Chronie Hepatitis:

د ځنډني ځیګر تخریب (Hepatits) د تشخیص ښه لاره دا ده، چې ناروغ کابو شپږ میاشتې د ځیګر ناروغي تېره کړې وي.
Biopsy په مټ یې د نکروزس او Fibrosis درجه څرګندولی شو.
Grade (Necroinflammatory Activity):
لاندې حالتونه به تر سترګو کېږي:

1. Portal Inflammation.
2. Periportal Necrosis.
3. Piecemeal Necrosis.
4. Bridging Necrosis.

Stage (Degree of Fibrosis):

Nofibrosis = o
Mild Fibrosis= 1
Moderate Fibrosis =2
Severe Fibrosis Including Including Bridging Fibrosis =3
Cirrhosis =4

د ځنډني ځیګر التهاب د افت منځته راتلو کلنیک په څلور ډوله ده:

1. ځنډنی وایروسي ځیګر التهاب د Hepatitis B virus (HBV).
2. **Autoimmune (Lupoid) Hepaitis.**
3. د درملو له کبله منځته راغلی ځنډنی ځیګر التهاب.
4. Cryptognic Chronic Hepatits.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Chronic Viral Hepatitis:

Chronic Hepatitis B:

پرته له دې، چې ناروغ د پخوانۍ وايروسي ځيګر التهاب تاريخچه ولري، په ځنډنۍ Hepatitis اخته کېږي.

اعراض:

ستړيا يې عام عرض دی.

intermitteent Jaundice

نښې:

1. کم زېړی به ښکاري.
2. د ځيګر غټوالی :Hepatomegaly
3. د توري غټوالی: Splenomegaly.

پلټنې:

1. د سيروم بيلوروبين کچه هم لوړېږي.
2. Prothrombin Time ډېرېږي.
3. د سيروم البومين د کچې لوړوالی د ناروغۍ په شدت پورې اړه لري.
4. د ځيګر Biopsy ډېره اړينه ده.

د ځنډنۍ Hepatits B د درملنې استطبابات:

. د CHB دتداوي سپارښتنه په لاندې ډول دي :

درملنه	Liver biopsy	Serum HBV	ALT/AST	Anti HBe	HBe antigen	د CHB ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

				DNA		
هر ۳میاشتو کي ALT/AST مانیتورشي	ارتیا نشته	لوړ	<2*upper normal limit(UNL)	-	+	HBeAg+ CHB
تداوي شي	متوسط/شدید CHB کي لوړوي	لوړ	>/=2*UNL	-	+	
هر ۶میاشتوکي ALT/AST مانیتورشي	ضرورت نشته	کم		+/-	-	غیرفعال ناقل CHB
تداوي شي	متوسط/شدید CHB کي لوړوي	لوړ/کم	>UNL	+/-	-	HBeAg- CHB
هر ۶-۳میاشتوکي ALT/AST مانیتورشي	خفیف CHB	لوړ/کم	>UNL	+/-	-	

د ALTاندازي له مخی د ځندني هیپاتیتس بي دتداوي ستراتیژي :

الف : ALT اندازه لوړوي :

۱- ALT اندازه لوړوي او HBe Ag مثبت وي : درملنه د نیوکلیوسید یا انترفیرون سره پیلیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- ALT اندازه لوړ وي او HBe Ag منفي وي: ۱- که HBV DNA (PCR) مثبت وي (DNA >105copies/ml)درملنه پیل کیږي ۲- که HBV DNA (PCR) منفي وي درملنه نه پیل کیږي نورو اسبابو ته کتل کیږي او یا بیا HBV DNA (PCR) تکراریږي

ب : که ALTاندازه نارمل وي : که ALT نارمل وي او HBe Ag مثبت وي ۶ میاشتو لپاره انتظار ایستل کیږي که ۱- که ALT لوړ شو درملنه پیلیږي ۲- که ALT لوړ نه شو نارمل پاتي شو دځیګر څخه بایوپسي د هستولوژیک معایناتو لپاره اخیستل کیږي که په هستولوژیک معایناتو کي که Histologig Activity Index(HAI) ددریو څخه کم و نه تداوي کیږي اوکه ددریو څخه لوړ و تداوي کیږي .

که چیري ALTاندازه نارمل وي ، HBV DNA (PCR) مثبت وي او په سیروم کي anti HBe Antibody مثبت وي (HBe Ag منفي وي) دځیګر څخه بایوپسي د هستولوژیک معایناتو لپاره اخیستل کیږي که HAI ددریو څخه لوړ و تداوي پیلیږي او که HAI ددریو څخه کم ونه تداوي کیږي .

ج: : که معاوضوي سیروزس د HBV DNA > 2000iu/l سره وي تداوي شي .اوکه HBV DNA< 2000iu/l وي او که ALTلوړ وي تداوي کیږي .

د: که سیروزس غیر معاوضوي وي ناروغ تداوي کیږي خو د ځیګر پیوند ضرور دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

Chronic Hepatits: D

له Hepatits D سره د نورو انتاناتو یو ځای کېدل د Hepatits په شدت کې ډېرښت منځته راوړي، نور يې لابراتواري او کلنيکي بڼه د (CHB) په څېر ده.

تشخيص يې د HDV RNA.HDV په وړاندې د سيروم انتي باډي شتون په مټ کوو.

Chronic Hepatits: C:

په ډېرو ناروغانو کې د حاد Hepatits تاريخچه شتون نه لري. ناروغي ډېره ورو پر مخ ځي، ښايي د 20 کالو په اوږدو کې ناروغ په Cirrhosis اخته کړي.

اعراض:

1. ستړتیاو درد.
2. لړزېږوالی.
3. تشخيص يې د Routine Screening پر مهال راوړاندې شي.

نښې:

د Cirrhosis په منځته راتلو پرته نور هېڅ نښه نه لري.

پلټنې:

1. Aminotransfease کچه به لوړه وي.
2. Anti HCV به مثبت وي.
3. د ځيګر Biopsy به د افت درجه په نښه کړي.
4. USG به د ځيګر او توري غټوالي په هکله مالومات راکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د CHC دتداوي ستراتیژي

فکتورونه	اول ګروپ	دویم ګروپ	دریم ګروپ	څلورم ګروپ
Anti- HCV	+	+	+	-
HCV RNA (PCR)	=	+	+	+
ALT	نارمل	نارمل	لوړ	نارمل
تداوي	نه تداوي کیږي	تعقیبیږي	انترفیرون +ریباوایرین	دځیګر بایوپسي اجراکیږي

Autommune Chronie Hepatits:

یو Autommune افت ده، په یوه ډله ناروغانو کې LE Cell مثبت وي، د ې ډول افت ته Chronic Lupoid Hepatitis هم وایي، پېښې یې په ځوانو ښځو کې عامې وي، د ډېرو سیستمونو ناروغي ده، چې ښایي لاندې افتونه هم ورسره ملګري.

1. Lymphadenopathy.
2. Hemolyiuc Anemia(Coomb s positive).
3. Thyoid. Disorder (Myxedema. Thyrotxicosis. Tyroiditis)
4. -Polyarthritis.
5. Pleurisyاو Pulmonaru Infiltrition.
6. -Ulccrative Colitid.
7. -Gomerulonephritis.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

1. ستړیا ، بې اشتهایي او زېړی.
2. تبه او د بندونو درد.
3. Amenorrhea.

نښې:

1. له کم تر ډېر Jaundice.
2. Spider Nevi.
3. Hypatospleenomegahy- .

پلټنې:

1. سیروم بیلو روبین به لوړ وي.
2. د سیروم Aminotransferase کچه به لوړه وي.
3. Prothrombine Time ډېر ږدي.
4. سیروم البومین به ټیټ وي.
5. Globulins به لوړ وي، چې په تشخیص کې ښه رول لري.
6. ANA- (Antinuclear Antigen) به مثبت وي.
7. د رووستي تشخیص لپاره Biopsy.

Cirrhosis:

زېړی به له خفیف څخه تر شدید پورې وي؛ خو ناروغۍ د شدت د سره تړاو نه لري.

سیروزس دځیګر د حجراتو د ځنډنی او نه رغیدونکی ناروغي ته وایي چې دځیګر په پرانشیم کې پراخه فبروزس او ریجینیراتیف (تولیدي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوډولونه مینځته راځي. سیروزس کلک، ژیړ او نارنجي ځیګر ته وایي .دځیګر حجري نکروز او کولاپس کوي. په ځیګر کې منضم نسج ځای په ځای کیږي او د رګونو بستر خرابیږي. دځیګر د فبروزس له کبله پورتل هایپرتنشن او دهغه اختلاطات لکه ګاسترو ازوفاژیل واریزس، توری لویوالی، هایپرسپلینیزم، اسایټس، دځیګر انسفالوپاتي او دځیګر د ژونکو بی وسي مینځته راځي.

:Alcholic Liver Disease

الکولیک ځیګر ناروغی. دریڅ ډولونه لري.

1. Fatty Liver.
2. Alcoholic Hepatitis..
3. Cirrhosis..

اعراض:

1. د Fatty Liver ناروغان ښایي، چې کوم اعراض ونه لري او په ځینو کې د ښي Hypochondrium برخې درد سره یو ځای زړه بدوالی او زېړی. شته وي.
2. د الکولیک ځیګرناروغان به تبه، زېړی او د ښي Hypochondrium د برخې درد لري.

نښې:

1. په Fatty ځیګر کې د ځیګر غټوالی او زېړی نښه نښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. د الکولیک ځیګر ناروغ به زېړی، Spider Nevi او حساس ځیګر غټوالی لري.

پلټنې:

1. Alcoholic fatty liver
   1. سیروم Aminotransferases به یو څه لوړ وي.
   2. Hypertrigly ceridemia او Hypercholstrolemia به شته وي.
   3. Bilirobin به نورمال وي

2.په الکولیک ځیګر کې التهاب:

1. Serum Amino Transferases به څرګند ډول سره لوړ وي، د ALT,AST تر منځ نسبت به له یو (1) څخه لوړ وي.
2. Bilirobin او Alkaline Phosphatase به لوړ وي.
3. Gamma glutamyl transpeptidase is markedly elevated

Non-Alcoholic Fatty Liver Discase:

د نړۍ 3-6 سلنه وګړي یې اخته کړي، چې Cirrhosis منځته راوړي، شدید حالت ته یې Steatohepatits وایي.
مساعد کوونکي فکتورونه یې Diabetes مزیتوب او Hyperlipidemia بلل شوي دي.

اعراض:

ډېر ناروغ څرګند اعراض نه لري؛ خو یوازې په ښي Hypochondrium کې درد حس کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښې:

1- Hepatomegaly په Fatty Liver وګړو کې ډېره وي.

پلټنې:

1. سیروم Aminotransferase په خفیف لوړ وي.
2. Bilirobin به نورمال وي.
3. US په وسیله Fatty Liver ښه تشخیص کېږي.

Drugs:

درملو ته ډېر په ځیګر کې میتابولایز کېږي. ځینې وختونه د درملود کارولو وروسته هم په ناروغانو کې د ځیګر دندې خرابېږي، چې لاندې ښې لري.

1.Idiosyncratic

په کمه کچه درمل هم کولای شي، ځیګر په افت اخته کړي، د ببلګې په ډول:

a. INH.
b. Rifampicin.
c.Pyrazinamide.
d. Chlorpromazine.

2. Dose Related:

د درملو زهریت هغه مهال منځته راتلای شي، چې د درمل نورمال ډوز ډېر کړل شي، د ببلګې په ډول.

1. Paracetamol ډوز ډېرول سره زهریت ډېرېږي، په لوبدیزو سیمو کې د زړه عدم کفایې لوړه کچه جوړ وي.
2. Tertracycline: د ډوز نسبت یې د Fatty Liver سبب ګرځي.

اعراض، نښې او پلټنې یې Viral Hepatitis ته ورته دي، تشخیص یې د تاریخچې په مټ ښه ټاکلي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Malignancy of the Liver:

د خباثت نښه جوړېدونکي او خپرېدونکي ځای ځیګر دی، دواړه دیاني لومړنی او دویمې ډول ځیګرخباثت سره یو ځای به زړه بدوالی، د اشتها کمښت، زېړی، د ګېډې ښي Hypohondrium درد او Hepatomegaly ملګری وي.

Congenital Hyperbilirubinemias:

1. Unconjugated hyper bilirubenemia :

a. Crigler Najjar syndrome ،

b. (Gilbert's Syndrom)

Conjugatedhyper bilirubenemia.

c. Dubin Johnson's Syndrome

d. Rotor Syndrom–Roter Symdrome

د بیلوروبین د میتابولېزم د خرابېدو اصلي برخه جوړوي.

په لومړیو کې ناروغ خفیف لري، زېړیو بیا شدید خواته میلان مومي.

Cholestasis of pregnancy:

د حمل په وروستي Trimeser کې پېښېږي، چې Pruritis يې لومړنی عرض دی، له Steatorrhea سره یو ځای به ناروغ خفیف زېړی هم لري، له زېږون څخه 1-2 اوونۍ وروسته ناروغ ښه کېږي.

په ناروغ کې به Alkaline phosphatase او Protheombin د Time ویټامین k کمښت له کبله اوږد شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Reys,s Syndrome:

په ماشومانو کې کم پېښېدونکې ناروغي ده، د Influenza لـه اعراضـو سره یو ځای به ماشوم کانګې، نارامي، ګنګسیت او کوما لري.

د ځیګر دندیز ټستهونه به غیر نورمـال وي، چې د مـرګ لامـل یـې Cerebral Edema او Coning جوړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Post Hepatic Jaundice

د Post Hepatic Jaundice پلټنې:

1. USG
2. CT scan
3. MRCP
4. ERCP
5. Percutaneoustranshepatic cholagiopancreatography

:Stone in Common Bile Duct

ځپنې وختونه تېږه د صفرا قنات ته تېږېږي، قنات بند وي او ناروغ په زېړي اخته کوي.

اعراض:

1. د ګېډې د پورتنۍ برخې درد.
2. د صفرا دردونو شتون تاریخچه.
3. د Cholangitis له کبله د تبې منځته راتلل.
4. توليز بدن خارښت (د صفرا د مالګې د راټولېدو له کبله).
5. غایطه مواد خاورین رنګ ولري.

نښې:

1. ناروغ به ژور زېړی لرونکی ښکاري.
2. مثانه به جس کېږي، (ځکه د صفرا بندښت له کبله پراخوالی نه کوي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلټنې:

1. سیروم بیلوروبین او Alkaline phospatase به لوړ وي.
2. USG به د صفرا قنات پراخوالی وښیي، که تبړه شته وي؛ نو اصلي موقعیت به یې را په ګوته کړي.
3. په Plain ګډې ایکسری کې تبړه ښه ښکاري.
4. CAholangiography (MRCP, ERCP)او perculaneous Transhepatic ته اړتیا موندل کېږي.

Carcinoma of the Head of the panras :

د پانکراس دا ډول افت په زړښت او سګریټ څکوونکو وګړو کې ډېر پېښېږي.

اعراض:

1. د EPigastric درد به شتون لري، ښایي، چې د ملا خواته هم خپور شي، په مخې خواټیټېدو سره کمښت مومي.
2. اشتها به کمزوری وي.
3. وزن بایلل.
4. د بدن ټولیز خارښت یې پېژندل شوی عرض دی.
5. ناروغ به د سترګو زېړوالی لري.

نښې:

1. ناروغ به ژور زېړی ښکاري.
2. د صفرا کڅوړه ده، جس وړ وي.
3. حبن Ascites به هم شته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلټنې:

1. ESR به لوړ وي.
2. سیروم Bilirobin او Alkaline phosphatase به لوړ وي.
3. د وینې شکر به لوړ وي.
4. USG به پراخ شوې صفرا کڅوړه او صفرا قنات وښیي.
5. CT سکن هم ورته ننبې ښیي، په ERCP به د پانکراس او صفرا قناتو نه بند شوی مالومېږي.

STRICTURE OF the Bile Duct

ښایي چې خبیث یا هم سلیم حالت ولري.

اعراض:

1. ناروغ به زېړی لري.
2. د ګېډې پورتنۍ برخې درد.
3. د صفرا کڅوړې د عملیات تاریخچه.
4. د اشتها کمښت او وزن بایلل په خباثت کې عام وي.

ننبې:

ژور زېړی به شتون لري.

پلټنې:

1. سیروم بیلوروبین او Alkaline phosphatas به لوړ وي.
2. (Endoscopic Retograde Cholangio Pancreatugraphy)
(Megnatic Resonance Cholangio Pancreatography),ERCP
PTC, MRCP به ښه تشخیص غوره کړي.

دژېړي توپیري تشخیص جدول

(c) ketabton.com: The Digital Library

	پـــري هيپاتيـــک ژيړی	هيپاتيک ژيړی	پوســت هيپاتيـــک ژيړی
توټل بيلروبين	نارمل/لوړ	لوړ	لوړ
کنجوګيتيـــــــــد بيلروبين	لوړ	نارمل	نارمل
ان کنجوګيـــــــــت بيلروبين	لوړ	نارمل/لوړ	نارمل
يورو بيلنوجن	لوړ	نارمل/لوړ	ښکته / منفي
تشو متيازو رنګ	تياره	روښانه	تياره
ډکو متيازو رنګ	تياره	نارمل	سپين
الکالين فاسفتايز	نارمل	لوړ	لوړ
امينوترانس فيريز	نارمل	لوړ	لوړ
خارښت	-	+	+
زړه بدوالی او کانګی	-	+	+
وزن کميدل	-	+	+
درد	-	+	+
بي اشتهايي	-	+	+
دځيګر جس	-	+	+

Chronic Pancreatitis:

کله چې د صفرا قنات لاره د بند شوي او پرسيدلي پانکراس سر(Head)په وسيله بنده شي، زيړی زېږوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Hepatitis A:

د وایروسي (Hepatitis) سلیم حالت دی.
د خپرېدو لار: د خولې او غایطه موادو له لارې خپرېږي، له یو سړي څخه بل سړي ته خپرېدنه یې ډېره عامه ده، چې Infective Hepatitis هم ورته وایي.
ناروغ له زېړي څخه ۲ دوه اوونۍ د مخه او یوه اوونۍ وروسته په انتان اخته وي.
د تفریح دوره: 3-5 اوونۍ.
پېښې: زمور په هېواد او ماشومانو کې ډېرې پېښې لري.
انداز: ناروغ په پشړ ډول رغېږي، له ځیګر خندنی التهاب او cirrhosis پېښې کمې وي.
واکسین: په بازار کې موندل کېږي او ګټوره ده، ماشومان باید واکسین شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Hepatitis B:

د وایروسي Hepatitis وپرووونکـی ډول دی، Fulminant Hepatic Failure، Chronic Active Hepatitics، Cirrhosisاو Hepatocellular Carcinomaپېښې منځته را وړلی شي.

د خپرېدو لار:

وینه او د وینې اجزاوې همدا راز عامې لارې یې لاندې دي:

1.Transfusion: د وینې لېږد او د وینې اجزاوې کولای شي چې Virus B انتقال کړي.

2.د سیرونجو ګډ کارول.

3. د غوږ، پزې سوري کول یو منتن توکو.(د روغتیایي کارکوونکو و خزه کېدل د Needle، چاقو او نورو سره)

4.د سلماني دوکاندارانو د ملوثو توکو په وسیله.

5.د تولد پر مهال له مور څخه ماشوم ته.

6.د غاښونو جراحي او نوره غټ جراحي عملیاتونه.

7.په (HBV) اخته ډاکټران ناروغ ته د وایروس کېږدول.

8. IV Drug User ډېره کچه جوړوي.

9. Hemodialysis ډېره وپرووونکی دی.

د تفریح دوره: له 6 اوونیو تر 6میاشتو پورې.

پېښې:

لس (10) سلنه ځوانان، 90 سلنه ماشومان تر 6 میاشتو پورې ویروس لېږدولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Hepatitis C:

د وینې د لېږدونې وروسته منځته راتلونکې ناروغي ده (TransfusionaL Hepatitis Post -) د (HBV) ۸۰ سلنه پېښې له حاد انتان سره ملګرې وي، خو ۵۰ سلنه وګړي ښايي د Cirrhosis خواته د تشخیص پر مهال تلي وي.

Hepatitis D:

یو نا پوره شوی ویروس دی، چې (HBsAg) Hepatitis B Antigen ته اړتیا لري. یوازې هغه وګړي په افت ککړولی شي، چې B Virus د دوی په بدن کې شته وي. ناروغانو کې ځنډنی ځیګر التهاب، حاد او ځنډنی ځیګر ناروغي را ژوندی کولای شي.

Viral Markers:

ېلا ېبل سیرالوژیک ټستونه شته، چې Causative ویروس ښودلی شي، چې اړین یې په لاندې ډول دي:

Antigen: Ag
Hepatits B Surface Antigen: Hb Ag
Hepatits B "e" Antigen: HBe Ag
Hepatits B Core Antigen: HB_C
Hepatits B Virus دري انټي جن لري: HB_e, HB_C,HB_S Ag

دهیپاټیټس بي وایروسي انتان سیرولوژیک اوصاف او دهغه تعبیر

تعبیر	Anti-HBe	HBe Ag	Anti-HBC	i-HBS
حاد هیپاټیټس بي	-	+	Igm	-
ځنډنی هیپاټیس بي وایرل تکثري حالت	-	+	IgG	-
ځنډنی هیپاټیټس بی او خفیف وایرل تکثری حالت	+	+	IgG	-
ځنډنی هیپاټیټس بی د هیټروټیپ Anti HBS	- یا +	- یا +	IgG	+
حاد هیپاټیټس بي	-	- یا +	IgM	-
دهیپاټیټس څخه ښه کیدل (معافیت)	- یا +	-	IgG	+

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکسین (معافیت)	-	-	-	+
کاذب مثبت ډیر لږ معمول	-	-	IgG	-

Hepatitis E

دا د ملوثو اوبو په وسیله لږ ډ بدونکی ویروس دی، له یو وګړي څخه بل وګړي ته نه لږ ډ بږي، تشخیص یې Anti HEV انتي باډي په وسیله کوو، په حاملګی کې د Fulminant Hepatic Failure له کبله د مړینې کچه ډ بره ده. واکسین او څنډني حالت ته تګ نلري.

Hepatitis B اختلاطات

1. Acute Fulminant Hepatic Failure
2. Chrronic Active Hepatic
3. Chirrhosis
4. Hepatocellular Carcinoma

Hepatitis B Vaccination

د B – Virus واکسین شوني ده، محفوظ او ګټوره ده، وړاندې له دې چې وګړي ته واکسین وشي، HBs Ag یې وکتل شي.

HBs Ag ته واکسین نه تطبیق کږي، ځکه دوی په خپله د انتان سرچینه جوړوي، وینه نه شي ورکولای، ماشومان او کورنۍ ته دې معاینات وکړي، چې دوی پر افت نه وي اخته شوي.

Negative HBs Ag ناروغان باید د Anti HBs لپاره وکتل شي، که چیرې دوی انتي باډي درلوده، نو واکسین ته اړتیا نشته، هغوی چې انتي باډي نه لري، واکسین ته یې اړتیا شته دی.

که Anti HBs ونه کتل شي، نو ټولو HBs Ag Negative وګړو ته د واکسین اړتیا شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Vaccination Schedule

درې عضلي ډوزونه لري:

1. Zero days
2. after One Month
3. after 6 Month

Adults: 20Mg په Deltoid عضله کې.

Children: 10Mg په وحشي ورون برخه کې.

یادونه:

1. ټول + HBs Ag ناروغان وینه نه شي ورکولای.
2. که Anti HBs تیست نه شي، نو ټول(ـ) HBs Ag باید واکسین شي.
3. لاندې وګړي باید حتماً واکسین شوي وي:
4. ـ ډاکټران: لابراتوار تیکنیشن.
5. ـ ماشومان چې میندې یې + HBs Ag وي.
6. ـ نرسان: ماشومان او کورنۍ چې + HBs Ag سره مخ وي.
7. ټولې حاملې میندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولسم څپرکی

حبن

Ascitis

په پریتونیم کې د اضافي مایع راټولیدو ته خبن وایي، خبن په دوه ډوله دی:
1.Transudative : پروټیني محتویات یې له 2.5gm\dl څخه کم وي.
2. Exudative: پروټیني محتویات یې له gm\dl2.5 څخه ډېر وي.

لاملونه یې:

A Transudative:

1. Cirrhosis
2. Pericarail Effusion, Constrictive Pericarditis, Right Heart Failure) Cardiac Disease
3. (Starvation, Nephrotic Syndrome) Hypoproteinemia
4. Meig, s Syndrome

B Exudative:

1. Tuberculosis
2. Malignancy
3. Bacterial Peritonitis
4. Chemical Peritonitis
5. Acute Pancreatitis

(c) ketabton.com: The Digital Library

Cirrhosis of Liver.1

Cirrhosis هغه حالت ته وایي، چې په ځیګر کې نکروزس د فایبروزس او Nodular Regeneration سره یو ځای منځته راشي.

لاملونه:

1. الکول.
2. دځیګر ځنډنی وایروسي هیپاتیټس لکه بي اوسي
3. دځیګر غیر الکولي ناروغی.
4. . - اوتو امیون ناروغی. لکه پرایمري اسکلیروزینګ کولانجیټس
5. صفراوي ناروغی. لکه لومړنی او دویمي صفراوي سیروزس.
6. جنتیک ناروغی (هیموکروماتوزس، ویلسن ناروغي، د الفا یو انتي ترپسین لږوالی)
7. . - کرپتوجنیک

اعراض:

1. ـــ تولیزه کمزوري، د ګېډې پرسوب، په کانګو کې وینه(Hematemesis) او سترګو زږوالی یې عام اعراض دي.
2. ـ ناروغ به د Libido له کموالي څخه یادونه کوي.
3. ـ ناروغ به د زږې تاریخچه لري.
4. ـ ناروغ به الکولیک وي.
5. ـ ناروغ به وینې بهېدنې ته ډېر میلان لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښې:

1. ـ ناروغ به زېړ ښکاري.
2. ـ پرسوب هم تر سترګو کېدای شي.
3. ـ Gynecomastia،
4. -د خصیو کوچنیوالی
5. د وېښتانو تویېدل.
6. ـ Palmar Erythema
7. Dupuytren،s Contracture,
8. Spider Angiomas
9. -د Parotid غدې پرسوب هم تر سترګو کېږي.
10. ـ د ګېډې د دېوال وریدونه غښتلي کېږي.
11. ـ ځیګر به غټ او را ټول شوی وي.
12. ـ توری (Spleen)به جس کېدای شي.
13. ـ کله چې ناروغي یو څه پرمختګ وکړي، خبن هم منځته راتلی شي، Fluid Thrill او Shiffting Dullness به مثبت وي.

د ځیګر د ځنډنی کفایي نښې:

1. Palmar Erythema.
2. Dupuytren،s Contracture.
3. Jaundice.
4.Spider Angiomas.
5. Parotid Swelling.
6. Gynecomastia (Alcohol or Spiranolsactone Related).
7. Loss of Hair.
8. Testicular Atrophy.
9. Signs of Portal Hypertension.
10. Ascites.

(c) ketabton.com: The Digital Library

11. Hemorrhagic Tendency.

د Portal Hyper Tension نښې:

1. Prominent Abdminal Veins.
2. Splenomegaly.
3. Esophageal Varices.

هغه فکټورنه چې دCirrhosis له کبله Ascitis ته لار هواروي:

1. Low Serum Albumin (Reduced Plasm Onctic Presure).
2. Portal Hypertension.
3. Increased Central Sympathic Outflow.
4. Increased Hepatic Lymph Weeping From the Surface of Cirrhotic Liver Due to Tortion and Obstruction of Sinussids and Lymphatics.

پلټنې:

1. ـ سیروم Bilirubin او Aminotranferases به نورمال او یا یو څه لوړوي.
2. ـ Prothrombin Time به اوږدوي.
3. ـ Serum Albumin ښکته وي، البومین په ځیګر کې جوړیږي، ځکه نو د ځیګر په تخریباتو کې البومین نه جوړیږي.
4. ـ Serum Globulins به لوړ وي.
5. ـ د خبن (Ascitis) مایع به زیړ رنګه، یاني Transudative به وي.
6. ـ MRI\CT به غیر نورمال حالت په ګوته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Model for Endstage Liver Disease (MELD):

MELD د ځیګر د دندو د ټاکلو او د ځیګر د Transplamt کولو ډېره ښه لاره ده، یو ریاضیکي موډل دی، چې Bilirubin ، Prothrombin Time یې د INR او Creatinine په شکل وجود لري.

د Child's Turcotte Pugh ویشني له مخي دسیروزس انزار:

جدول ددې ویشنې پواسطه د ځیګر د ناروغیو شدت او انزار څرګندیږي.

نمبری	۱	۲	۳
اسایتس	نه وي	لږ	منځنی کچه
انسفالوپاتي	نه وي	لږ	شدید
بیلروبین µmol/L	< ۳۴	۳۴-۵۰	> ۵۰
البومین (gm/L)	> ۳۵	۳۵-۳۸	< ۳۸
پروترومبین تایم په ثانیه	< ۴	۴-۶	> ۶

دپورتنی نمبرو دجمع کیدو څخه دناروغ دژوندی پاتې کیدو دمودی فیصدی معلومیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Cirrhosis اختلاطات:

1. Ascites.
2. Spontaneous Peritonitis.
3. Hematemesis (Variceal Bleed).
4. Hepatoma.
5. Hepatorenal Syndrome.
6. Hepatic Encephalopathy.

:Cardiac Disease.2

د بنې زړه عدم کفایه Constrictive Pericaditis او Pericardial Effusion هم د خبن (Ascitis) سبب ګرځیدلی شي.

:Hypoproteinemia.3

د Hypoproteinemia له کبله تولیز پړسوب او خبن منځته راتلی شي.

Meig,s Syndrome.4

ددې سنډروم کلینک د Pleural Effusion، Ovarian Fibroma او خبن سره یو شان دی.

:Budd – Chiari Syndrome.5

د ځیګر د وریدونو بندښت ته وایي، یا Vena Cava د ځیګر وریدد او بنې دهلیز ترمنځ بندښت ته وایي.

لاملونه:

1. Polycythemia Vera (Thrombosis).
2. Oral Contraceptive (Thrombosis).
3. Invasion by a Fumor (Hepatic Renal).
4. Congenital Web.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

د ښي Hypochondrium په برخه کې شدید درد د ګېډې له پرسوب یو ځای ډ ېربرې.

نښې:

-ځیګر به غټ او حساس(Tender)وي.

-Tense Ascites (Fluid Thrill\ Shifting Dullness) به مثبت وي.

پلټنې:

1. د حبن مایع به Exudative یا Transudative وي.
2. VSG به د ځیګر نورمال وریدنه شي ښودلی، د ځیګر د وریدونو احتقان به شته.
3. -Venography به د بندښت اصلي برخه په ګوته کړي.

Tuberculous Ascites:

د پریتوان توبرکلوز ددې ډول حبن سبب ګرځي.

اعراض:

1. -د ناروغ ګېډه به په تدریجي ډول سره پرسوب کوي.
2. له خفیف تر شدید خپور شوي ګېډې درد به شتون لري.

نښې:

1. -ناروغ به کمزوری ښکاري.
2. خبن به سخت او تنفسي ستونزې به یې هم راولاړې کړې وي.
3. ډ ېرې کتلې ښایي، په ګېډه کې جس شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلټنې:

1. د حبن (Ascitic) مایع به وینه لرونکې وي یانې Exudative بڼه به لري.
2. د خباثت د مالومولو لپاره Cytology ازمویني ښه لاره ده.
3. وروستی تشخیص د پریتوان د Biopsy په وسیله کوو.

Bacterial Peritonitis:

دا افت د کولمو د سوري کېدو یا هم Appendicitis او Enteric Fever له کبله منځته راځي.

اعراض:

1. د ګېډې شدید درد به شتون لري.
2. تبه به په لوړه درجه کې وي.
3. د ګېډې پړسوب، کانګو او فبضیت تاریخچه به شته وي.

نښې:

1. ناروغ به په ټولیزه توګه روغ نه ښکاري.
2. ګېډه به کلکه شوې وي.
3. حساسیت او Rebound Tenderness به شته وي.
4. د کولمو اوازونه له منځه ځي.

پلټنې:

1. د ګېډې Plain ایکسري به د ګېډې پړسوب را په ګوته کړي، که د حجاب جاجز لاندې هوا را ټوله شوې وي، د کولمو د سوري کېدو نښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. د حبن مایع بهه قیچي، Exudative او > Polymorphs
1000\mm^3 وي.

:Chemical Peritonitis

لاملونه يې ښايي چې:

A)Acid(د معدې تېپ څيري کېدل)

B)Bile(د صفرا له جراحي عملياتو وروسته د صفرا کڅوړې څيري کېدل).

اعراض:

1. ناروغ به د معدې تېپ، حاد Cholecystitis، د صفرا قنات جراحي تاريخچه لري.
2. نور اعراض يې Bacterial Peritonitis ته ورته دي.

Table -10 Diffrential Diagnosis of Acsitic Fluid:

نښې:

TABLE 6.1 Causes of ascites

Fluid imbalance (arterial vasodilatation theory)	Exudative
Cirrhosis – common	Exudate-secreting tumours (peritoneal carcinomatosis)
Congestive heart failure – common	Infections (e.g. TB)
Myxoedema	Inflammatory disease (e.g. SLE)
Budd–Chiari syndrome	
Chylous	**Nephrogenic**
Obstruction (e.g. malignant lymphoma)	Haemodialysis
Iatrogenic (e.g. transection of the lymphatics)	Nephrotic syndrome
Retroperitoneal lymph node dissection	

Bacterial Peritonitis ته ورته نښې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلټنې:

1. د ګډې Plain ایکسري په د حجاب حاجز په لاندینۍ برخه کې د هوا نبودنه وکړي، که لامل یې د معدې ټپ خیري کېدنه وي.
2. که د پریتوان مایع را وایستل شي، د صفرا به ورسره ګډه وي.
3. په لومړنیو مرحلو کې د کلچر لپاره کوم ارګانیزم نه دی پېژندل شوي.

Acute Pancreatitis:

وینه بهېدونکی خبن د شدید پانکراس التهاب کلنیکي ګډه نښه ده. ستونزه ده، چې د منځني عمر نښې اخته کوي.

Primary Biliary Cirrhosis:

د ځیګر په دننه کې د صفراوي لارو د Canaliculi ګډه ستونزه ده، چې د منځني عمر نښې اخته کوي.

اعراض:

1. -د بدن ټولیز خارښت یې د پیل عرض دی، چې په وروستیو کې ښایي ناروغ له زیړي سره هم مخ شي.
2. د شحم د جذب خرابوالي له کبله نس ناستې.
3. د Osteomalacia له کبله د هډوکو دردونه او د هډوکو ماتېدنه، لامل یې د Vitamin D د جذب خرابوالی دی.

نښې:

1. -Scratch Marks به شتون لري.
2. په وروستیو کې زېړی هم منځته راتلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. لومړنی کلنیکي برخه کې یې د ځیګر غټوالی دی.
4. کـه د بـاب وریـد فشـار لـوړوالی (Portal Hypertension) منځتـه راشي، د ناروغ توری هم غټوالی کوي.

پلټنې:

1. -سیروم الکالین فاسفاتېز کچه به ډېره لوړه شي.
2. د سیروم Bilirobin کچه لوړیږي.
3. 1gM به لوړ وي.
4. Antimitochondrial انتي باډي به مثبت وي.
5. USG به له ځیګر څخه بهر د صفراوي لارو بندښت را په ګوته کړي.
6. د Lupoid Hepatitis د توپیر ولو لپاره د ځیګر Biopsy واخیستل شي.

Hemochromatosis:

لاملونه یې:

1. Primary.
2. Secondary.

a. Chronic Hemolytic Disorders.
b. Sideroblasitc Anemia
c. Multiple Blood Transfusions.

په پورته حالاتو کې د بدن په اوسپنه کې ډېر توپیر منځته راځي یا نې د بدن په بېلا بېلو برخو کې لکه ځیګر، زړه او پانکراس کې ځای په ځای کېږي.
د Hepatoma پېښې ډېرې تر سترګو شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Primary.1

د جنتیک افتونو د شتون له کبله او سپنه ډ ېره جذ ب ېږي.

Secondary.2

ځینې حالتونه سبب کېږي، چې بدن کې د او سپنې زېرمې ډ ېرې کړي لکه:

1. Chronic Hemolytic Disorders
2. Sideroblasitc Anemia
3. Multiple Blood Transfusions

اعراض:

1. Cirrhosis- ، زړه عدم کفایې او شکر اعراض.
2. د Lipido کمښت او شنډوالی هم شونی دی.

نښې:

1. د Cirrhosis او زړه عدم کفایې نښې به شتون لري.
2. د پوستکي د زېړوالي نښې.
3. د خصیو کوچنیوالی.

پلټنې:

1. د او سپنې سیروم لوړوالی.
2. د سیروم Ferritin لوړوالی.
3. د ځیګر Biopsy تشخیص وروستی بولي ته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Wilson,s Disease:

یوه Autosomal Recessive ستونزه ده، Ceruplasmin یو مس لرونکی پروټین دی، چې په Bile کې مس افرازوي او د Homeostasis دنده په غاړه لري.

اعراض:

-د ځیګر افتونه له حاد Hepatitis څخه ځنډني خواته ځي، دا ځنډنی بڼه د ځیګر Cirrhosis ته لاره هواروي.

نښې:

1. د ځیګر د ناروغیو نښې به شته وي.
2. غیر ارادي خوځښتونو شتون.
3. تر ټولو مهمه نښه يې (Kayser – Fleischer Ring) ده.
4. سیروم Ceruloplasmin به ټیټ وي.
5. د سیروم Copper کچه به ټیټه وي.
6. په ادرار کې د Copper اطراح ډېریږي.
7. د ځیګر په Biopsy کې د Copper کچه ډېره لوړیږي.

Spontaneous Bacterial Peritonitis:

لومړنی پریتونایټس هم ورته وایي، په هغه ناروغانو کې منځته راځي، چې د Cirrhosis له کبله په کې حبن سر را پورته کړی وي.

اعراض:

1. -تبه.
2. د ګېډې درد ونه او د خبن د کچې ډېرښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. د زېړي ډېريدل.

نښې:

1. -د ګډې حساسوالی.

پلټنې:

1. -د خبن مایع کې د Polymorphonuclear Leucocytes کچه به له ۲۵۰ څخه لوړه وي.

Hepatorenal Syndrome:

ناروغان به د Azotemia د Oliguria او سوډیم لېدنې سره یو ځای په داسې حال کې منځته رشي، چې ناروغ به Cirrhosis او خبن هم لري.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتلسم څپرکی

د ځیګر غټوال

Hepatomegaly

د ډیرو ناروغیو د شتون تر ټولو ښه فزیکي نښه د ځیګر غټوالی دی، چې د کتنې پر مهال لاندې برخې له پامه ونه غورځول شي.

1. Liver Size
2. د ځیګر سطحه (ښویه یا غوټه لرونکې).
3. مقویت (نرم، سخت، ګردې).
4. څنډې (تېره، ګردې).
5. حساسوالی Tenderness .
6. Pulsations نبضان.
7. Friction Rub\Bruit

Acute Hepatitis:

د ځیګر د غټیدو عام لامل دی، چې د ځیګر به حساس، سطحه به یې ښویه او مقویت به یې نرم وي.

د ځیګر د غټیدو عام لاملونه :

1. Acute Hepatitis.
2. (Cirrhosis,Chronic Hepatitis)Chronic Liver Disease.
3. (Right Heart Failure)Congestive Hepatomegaly.
4. Amebic & Pyogenic Liver Abscess.
5. Enteric Fever.
6. Malignancy.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Chronic Liver Disease:

ښايي چې د ځيګر ځنډنی التهاب يا Cirrhosis وي.

Chronic Hepatitis:

د ځنډني ځيګر التهاب تر ټولو ښه کلينيکي نښه Hepatomegaly ده، چې د ځيګر به نرم، ښوی او حساس نه وي.

Cirrhosis of Liver:

د Cirrhosis په لومړيو کې ځيګر غټيږي، چې کلک او غوټه لرونکی به وي، خو په وروستيو کې ځيګر سره راټوليږي يا نې غونجيږي (Shrunken).

لاملونه:

Congestive Hepatomegaly

د ځيګر حساس غټوالی، د ښې زړه د عدم کفايي تر ټولو ښه او اړينه فزيکي نښه ده.

د حساس (Tender) ځيګر د غټوالي لاملونه:

1. Hepatitis.
2. Congestive Hepatomegaly.
3. Liver Abscess (Amebic , Pyogenic.
4. Hepato – Cellular Carcinoma.

Parasitic Infections:

Amebiosis or Amebic Liver Abscess

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کولمو څخه بهر د Amebiosis لپاره تر ټولو عام ځای ځیګر دی، چې په ځیګر کې ډیر ښې برخه (Right Lobe) اخته کوي، لومړی ځایي التهاب او وروسته په هماغه ساحه کې خنځه(Absce) جوړیږي.

اعراض:

ناروغ به د لوړه درجه تبې سره یو ځای د ښي (Hypochondrium) په برخه کې درد لري.

ناروغ به په تبره شوې تاریخچه کې (Amebic Dysentry) لري، خو ډیره اړینه نه ده.

Jaumdice شته وي.

نښې:

ځیګر به غټ او حساس وي، چې سطحه یې ښویه او نرمه وي.

د حجاب حاجز د پورته کېدو له کبله به د ښي سږې قاعده **Dull** وي، همدا راز د **Atelectasis**د تشون پر مهال به **Crepitations**هم اوربدل کېږي.

پلټنې:

1. **ESR**به لوړ شوی وي.
2. **Leukocytsis** به شته وي.
3. په ایکسری کې به حجاب حاجز ښې ګنبده پورته شوې وي.
4. په اوبو کې به **VCG**نورمال وي، خو چې کله **Abscess** جوړه شوه، بیا به د **Cystic** افتونو نښې ډیرې غښتلې کېږي، چې په تشخیص کې ښه برخه اخلي.
5. د ابسې مایع بڼه به چاکلیت ته ورته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

6. **Serological** ازموینې په ۹۰ سلنه ناروغانو کې د ځیګر ابسې ټاکلی شي.

Hydatid Cyst:

Hydatid سیستمونه Tapeworm او Echincoccus **Granulosus** د لاروا مرحله ده.

د بدن په هره برخه کې منځته راتلی شي، خو ځیګر یې ځانګړی ځای دی، بالغ شوي چینجیان یې په سپیانو کې وي، چې هګۍ یې په غایطه موادو کې ایستل کېږي او اوبو او نورو توکو د ملوث کېدو څخه وروسته انسان ته لېږد ېږي.

اعراض:

په ښي Hypochondrium ساحه کې به ناروغ د بې درده کتلې د شتون تاریخچه بیانوي.

نښې:

ځیګر به په څرګند ډول غټ شوی وي، سطحه به یې نرمه، بې حساسیته او **Cyst** ډوله وي **Hydatid Thrill** ([1]) به د جس وړ وي.

پلټنې:

په Plain ایکسري کې به Cyst په دیوال کې Calcification ولیدای شي.

VCG کې به **Cystic** افتونه ولیدای شي.

---

1 د پرسوب له پاسه درې ګوتې اېښودل کېږي، د منځنۍ ګوتې په وسیله قرع اجرا کېږي، د قرع سره سم په دواړو ګوتو کې Thrill جس کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

Agglutination Test او CasoniTest به مثبت وي.

Bacterial Infections:

په ځینو بکتریایي انتاناتو کې ځیګر غټیږي.

Enteric Fever:

په Enteric Feverکې د ځیګر یو کمه کچه غټوالی عام وي.

Septicemia:

تبه او د فشار ټیټوالی یې عام کلنیک دی، ښایي چې ځیګر یو څه لوی شوی وي، Leukocytsis او د وینې کلچر یې تشخیص وروستی پولې ته رسولی شي.

Pyogenic Liver Abscess:

د باب وریدانتان د Appendicitis له کبله په ځوانو وګړو کې د Pyogenic Liver Abscess تر ټولو عام کلینینک دی، نور لاملونه یې لکه Amebic Abscess,Infection of Biliry Tree معافیت ځپلي وګړي هم د یادولو وړ دي.

اعراض:

1) ناروغ به په لوړه درجه تبه Hypochondrium درد او که د حجاب حاجز په لاندې برخې تخریش ولري، نو به درد ښي اوږې ته هم ولېږد ورکړي.

نښې:

ځیګر به غټ شوی او حساس وي.

Jaudiceعام نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلټنې:

a) Leukocytsis به شته وي.

b) ESR به لوړ وي.

c) Alkaline Phosphatase به لوړ وي.

d) UCG کې به د خنځو شتون وروستی شي.

e) د پرمختللي افت د شتون سم د Puss ایستل.

f) د وینې کرنه به مثبت وي.

Miliary Tuberculosis :

د ځیګر غټوالی د Miliary نري رنځ یو عام کلینیک دی.

Malignancy:

د خباثت خپریدنه هم له ځیګر څخه شوني ده، (Hepato Cellular Carcinomo) او ثنایي Metastasis سرچینه هم جوړه کړي.

Hepato Cellular Carcinomo:

د ځیګر اړین لومړنی خبیث حالت دی، چې په نارینه وو کې ډېر عام وي. په سیروټیک ځیګر کې ۳ سلنه وېره ده، چې خباثت ته لاړ شي، خو په ځنډني Hepatistic B او Hepatistic C کې ۱۰۰ سلنه خباثت ته ځي.

اعراض:

۱. له درد سره یو ځای به جس کېدونکې کتله په ښي Hypochondrium کې وده وکړي.

۲. زړه بدوالی او د وزن بایلل ډېر عام وي.

۳. د Jaudice تېره شوې تاریخچه به شته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښې:

۱. په وروستیو کې Jaudice زیږی منځته راځي.
۲. ځیګر به غټ او د کلک غیر منظم مقویت لرونکی وي، حساس او Bruit به نه د اوریدلو وړ وي، Friction Rub هم ښایي چې واوریدل شي.
۳. په نیمایي ناروغانو کې خبن Ascitic منځته راځي، چې لامل یې Cirhosis ښودل شوی.

پلټنې:

۱. Alkaline Phosphatase به لوړ شي.
۲. Bilirubin به لوړ شي.
۳. Australia Anitigen مثبت وي، که په ځینو ناروغانو کې Australia Anitigen منفي وي، نو Ant HBc Antibodies به مثبت وي.
۴. Alpha Fetoproteins به لوړ وي(>400mg\ml) خو د ځیګر په Metastasis او Hepatitis پېښو کې یې کچه ښکته کېږي.
۵. USG به د جامدې کتلې ښودنه وکړي.
۶. که افت تر ۲ سانتي متر پورې رسېدلی وي او راډیولویک نښې یې نه شوې ښودلی، اړتیا ده، چې ناروغ ته Biopsy توصیه شي.
۷. **Metastasis** ناروغیو کې د خبن مایع وینه لرونکې وي، چې ورسره یو ځای ډېره کچه Proteins هم لري، خبیث حجرات هم مثبت وي.

هغه حالتونه چې Hepatocellular Carcinoma ته لار هواروي:

1. Cirrhosis Due to Any Cause.
2. Hepatitis B and C.
3. Hemochromatosis.
4. Alchol.
5. NASH (Non Alcoholic Steato Hepatitis).

(c) ketabton.com: The Digital Library

6. Aflatoxin.

:*Metastasis*

ځیګر تر ټولو ډېر عام خپریدونکی ځای دی، چې Metastasis ته اماده ده، په تېره له GUT(Colon, Stomach) څخه.

اعراض:

۱. ژوز زیړی به شته وي.
۲. ځیګر به کلک او غوټه لرونکی وي.

پلټنې:

۱. سیروم بیلوروبین او Alkaline Phosphatase به لوړ شوی وي.
۲. په VCG کې به ډېرې جامدې کلکې ساحې ولیدای شي.
۳. Biopsy تشخیص وروستی پولې ته رسوي.

:*Leukemias*

ځیګر به په کمه کچه غټ شوی وي.

:*Metabolic Disease*

Metabolic Disease او ګلایکوجن زېرمه کوونکې ناروغی په وګړو کې د ځیګر غټوالي سبب ګرزي.

:*Diabetes Mellitus*

شحمي ځیګر (Fatty liver) د Hepatomegaly اصلي لامل دی، چې ځیګر به نرم، ښوی او غیر حساس وي، په کمه کچه نا ارامښت په ښي Hypochondrium کې Fatty liver له کبله د Diabetes Mellitus د کلینیکي نښو ښودنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Glycogen Storage Disease:

Glycogen مرحلـه کـې پېښـېدونکې نـاروغی دي، ښـايي چـې نـاروغ Hypoglycemic حملې ولري، ځیګر به په روښانه توګه غټ شوی وي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم څپرکی

د توري غټوالی

Splenomegly

د توري غټوالی د بېلا بېلو ناروغیو د تشخیص لپاره ښه فزیکي نښه ده، کـه دوه نـیم ځلـه لـه خپـل نورمـال حالـت ډېـر پـر تـوري غـټ شـوی وي، Horizontal افقي جس کېدای شي، په داسې حال کې چې که توری اعظمي غټ شوی وي، جس یې Vercal ډول سره کېدای شي.

لاملونه:

1. Malaria.
2. Enteric Fever.
3. Portal Hypertension.
4. Virtal Hepatitis.
5. Lymphomas.
6. Leukemias.
7. Myeloproliferarive Disorders.
8. Hemolytic Anemia.
9. Miliary Tuberculosis.
10. Systemic Lupus Erythematosis.
11. Infective Endocarditis.
12. InfectiveMononucleosis.
13. Kala Azar.

1. *Malaria:*

په کمه کچه د توري غټوالی په ملاریا کې عـام دی، خو په ځنډنۍ ملاریا کې توری بې کچې غټوالی مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Enteric Fever.2

د توري غټوالی د Enteric Feverیوه عامه کلینیکي نښه ده.

د توري د بې کچې غټوالي لاملونه :

توری ښایي تر ۸ سانتي متر ښکته د پښتیو له څنډو څخه جس شي.

1. Chronic Malaria
2. Chronic Myeloid Leukemia
3. Polcythemia Vera
4. Myelofibosis
5. Kala Azar

3. *Portal Hypertension*

د توري غټوالی د Portal Hypertension تر ټولو بارزه فزیکي نښه ده.

4. *Viral Hepatitis:*

په وایروسي ځیګر التهاب کې هم توری غټوالی مومي.

5. *Lymphomas:*

Hodgkin,s Lymphoma

د توري اخته کېدل په دې مانا چې افت خپور شوی دی، (Stage IV, Stage III) د Splenctmyاو هستالوزیکو ازموینو په مټ باید وختونه د لمفوما پرته هم توری غټوالی مومي، یانې له خپل اصلي اندازې لویوالی کوي، چې دا ډول پېښې په خبیث حالت کې ډېرې وي.

Non Hodgkin,s Lymphoma

د Hodgkin,s لمفوما د اخته کېدو څخه دمخه توری اخته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. Leukemias:

Hematopoietic سیستم خبیث حالت ته Leukemias وایي، چې له مخې یې معافیتي سیستم، وینه او هډوکو مغز او د هغوی حجرات په Neoplastic Cells اوړي، په دوه برخو یانې حاد (Rapidly Fatal) اوړي.
په دوه برخو یانې حاد (Rapidly Fatal) او ځنډني (Sloly Growing) کې ویشل کېږي.

1. Acute Lymphoblastic Leukemia
2. Acute Myeliod Leukemia
3. Chronic Lymphocytic Leukemia
4. Chronic Myeloid Leukemia

Acute Lymphoblastic Leukemia.1

په ماشومانو کې ډېره یوه عامه ناروغي ده.

اعراض:

1. د بدن له ببلا ببلو برخو څخه وینه بهېدنه او تبه یې تر ټولو ښه عرض دی.
2. ناروغ د کمخونې له اعراض و سره یو ځای پرله پسې تبه لري (لمفاوي غوټې غټې شوې وې).

نښې:

1. ناروغ کمخونه وي.
Lymphodenopathy او Hepatosplenomegaly به شته وي.
2. په پوستکي کې Bruises او Petechiae شته وي.
3. د بیضو غټوالی ښایي ولیدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. د CNS ځپنې ننښې هم د لیدلو وړ وي.

پلټنې:

1. هیموګلوبین کچه به ټیټه وي.
2. ESRبه لوړ وي.
3. TLC به لوړه وي.
4. Platelet کچه به ټیټه وي.
5. د هډوکو له مغز څخه په سلایډ جوړولو کې به Lymphoblasts ولیدای شي.
6. د سحایا ډبره اخته کوي او CSF باید Leukemic حجراتو وپلټل شي.

2. *Acute Myeliod Leukemia:*

په ځوانانو کې یې پیښې ډیرې وې، چې د عمر په ډیرېدو سره ډیرښت مومي.

اعراض:

1. ستړیا، زړه بدوالی، دوزن بایلل یې عام اعراض دي.
2. تبه، د بدن له ببلا ببلو برخو وینه بهیدل، خولې کېدل، دهډوکو درد او سر درد.

نښې:

1. Splenomegaly (د توري غټوالی) Hepatomegalyc (د ځیګر غټوالی)، د لمفاوي غوټو غټوالی (Lymphadenopathy)
2. د ستړوم هډوکي شخوالی یې هم یوه نښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. ناروغ به د هضمي سیستم د پورتنیو برخو او ښکتنیو برخو وینه بهیدنه لري، ښایي د سږو په منځ، کوپړۍ دننه او Retina څخه وینه بهیدنه ولري.
4. Retina Infiltration, Papilledema د Cranial اعصابو فلج.
5. په Monocyteleikemia کې د پوستکي نو ډولونه او د Gum (وریو) نو ډولونه غټوالی مومي.

پلټنې:

1. ناروغ به Normocytic او Normo Chronic کمخونې لري.
2. TLC کچه به له $15.000\backslash mm^3$ څخه ډېره وي، خو شونې ده له $5.000\backslash mm^3$ څخه کمه هم شي.
3. Thrombocytopenia به شته وي.
4. په ۹۵ سلنه پېښو کې غیر نورمال Leukemic حجرات پراته وي.
5. د هډوکو په مغز کې Myloblasts شتون به تشخیص تر وروستي بریده ورسوي.

Chronic Lymphocytic Leukemia.3:

په زړو وګړو او منځني عمر خلکو کې یې پېښې ډېرې وي.

اعراض:

1. ناروغ به په کین Hypochondrium ساحه کې د یوې کتلې د شتون احساس کوي.
2. په کین Hypochondrium ساحه کې د توري د مړینې (Infarct) له کبله ناروغ شدید درد احساسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. د میتابولیک ریټ ښکته کېدو له کبله ناروغ کې خولې کېدل، تبه، د وزن له لاسه ورکول ډېر عام اعراض دي.

نښې:

1. ناروغ به خاثف وي.
2. توری به یې کچې غټ شوی وي.
3. ځیګر به هم غټ شوی وي.
4. لمفوي غوټې ډېرې نه اخته کېږي.
5. د میتابولیک ریټ د لوړیدو له کبله ښایي، ناروغ کې جاغور را منځته شي.
6. د ناروغ په ښلا ښلو برخو کې د Thrombosis نښې ښایي ولیدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلټنې:

1. د هیموګلوبین کچه ښکته کېږي، کمخونې به Normocytic Normocytic وي.
2. TLC به ډېره لوړه شوې وي، Blast Cell به له ۱۰ سلنې څخه کم وي.
3. Plateletکچه به نورمال یا لوړه شوې وي.
4. Leukocyte Alkaline Phosphatase به ډېر ټیټ شوی وي.
5. B12 Binding Protein او Serom B12به لوړ شوی وي.
6. د سیروم Uric Acidکچه به لوړه شوې وي.
7. د سیروم LDH کچه هم لوړیږي.

Myeloproliferarive Disorders:

د وینې جوړونکو عناصرو د یو یا څو برخو د ډېرښت ستونزه ده، چې لاندې برخې لري:

1. Chronic Myeloid Leukemia
2. Polycythemia Vera
3. Essential Throbocythemia
4. Myelofibrsis

Chronic Myeloid Leukemia.4:

1. Accelerated phase
   a. Increase degree of anemia due to bleeding and chemotherapy
   b. Blood or bone marrow blast 10-20%
   c. Blood or marrow basophil>20%
   d. Platelate count<100.000/mm3
2. Blastic crisis

(c) ketabton.com: The Digital Library

a. It is acute leukemia feature
b. Bone marrow blast>20%

Polycthemia Vera:

یو Myeloproliferative ګډوډي ده، چې ناروغ به Erythroctosis هم لري.

اعراض:

1. ناروغ به سر خوږ، سرګیدل، د غوږ بنګښ او د لیدلو ګډوډی لري.
2. جاغور او د معدې ټپ اعراض.
3. د وریدي او شیریاني ترومبوزس اعراض.

نښې:

1. سیستولیک فشار لوړوالی.
2. د توري پې کچې غټوالی.
3. د ترومبوزس او جاغور نښې.
4. د Epigastric د حساسیت عامې نښې.

پلټنې:

1. د سرو حجرو ډېرښت.
2. Hemoglobin او Hematocrite لوړوالی.
3. د توري د غټوالي پرته نبه تشخیص نبه Leucocytosis او Thrombocytosis بلل شوی.
4. د سیروم Erythropoietin کچه به نه وي لوړه شوې.

نورې لابراتواري موندنې:لکه Leukocte Alkaline Phosphatase، Serum Uric Acid او $Vitamin\ B_{12}$ کچې به هم لوړې شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Erythroctosis د لوړوالي لاملونه:

1. Poly Cythemia Vera.
2. Hypoxin (Lung Disease).
3. Increased Autonomous Production of Erythroctosis.

Myelofiberosis:

په ځیګر، توري او توري غټوالي کې Myeloid Metplasia، Marrow Fibrosis او Extra Medullary شته وي.

اعراض:

1. ناروغ د کمخونی له اعراضو سره یو ځای په ګیڼ Hypochondrium ساحه کې د کتلې د شتون حس کوي.
2. د توري د مړینې Infarct له کبله شدید درد اا احساسیږي، چې د ساه اخیستلو سره ډېرښت مومي.
3. ناروغ به تبه لري.

نښې:

1. ناروغ به خاسف وي.
2. د ناروغ توری به بې کچې غټ شوی وي.

پلټنې:

1. د هیموګلوبین کچه به ټیټه وي.
2. د TLC او Platelet کچه به تغیره یانې یا به لوړه یا به ټیټه وي.
3. Philadelphia کروموزوم به شتون نلري.

Leukocyte Alkaline Phosphatase به نورمال یا ډېر شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

8. Hemolytic Anemias:

د توري په غټوالي کې Hemoltic وينه لږې عامه وي، ښايي چې د Coomb,s Test هم مثبت وي.

9.Miliary Tuberculosis:

په Miliary نري رنځ کې توری غټوالی مومي، ناروغ به زړه بدوالی، د وزن بایلل او تبه هم لري، د ګوګل په ایکسری کې به Miliary Mottling نښې روښانه لیدای شي، همدارازد ځیګر په Biopsy کې به Caseating Granuloma نښې شته وي.

10.Systemic Lupus Erythematosis(SLE)

د توري کوچنیوالی پېښې په **SLE** کې ډېرې وي، نورې کلینیکي نښې:لکه د محاطي غشا ټپونه، د پوستکي Rash، د بندونو التهاب او ANF مثبتوالی هم د یادولو وړ دی.

11.Infective Endocarditis:

په تبه او د زړه او رګونو ناروغیو د شتون پر مهال د انتاني Endocarditis تر ټولو ښه نښه د جس کېدونکیي توري شته والی دی، د وینې کرنه به هم مثبت وي.

12.InfectiveMononucleosis:

کوچنی جس کېدونکی InfectiveMononucleosis تر ټولو ښه کلینیکي نښه ده، ناروغ به حاده لوړه تبه او د ستوني درد لریو Paul – Bunnel او Monospot Test به مثبت وي.

13.Kala Azar:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ډول ته جداري لشمانیا هم وایي، په هند او بنګله دیش کې عهامي ناروغی دي او لامل یې Leishmania Donovani دی، چې توری تر وروستي بریده غټوالی مومي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم څپرکی

Lymphadenopathy

کله چې لفماوي غوټې غټې شوې وي، د هماغې غوټې لاندې بڼې په نظر کې ونیول شي.

1. Site (ساحه)
2. Size(کچه)
3. Number(شمېر)
4. Tenderness(حساسیت)
5. Discrete or Matted Together
6. Consistency
7. Overlying Skin
8. Any Discharge Sinus

نورې لمفاوي غوټې د ځیګر، توري او نورو برخو هم جس شي.

لاملونه:

1. Infection
2. Tuberculosis
3. Leukemias
4. Lymophomas
5. Viral Hepatitis
6. Sarcoidosis
7. Infection Mononucleosis

1.انتانات او خبیث حالت:

1. غټه شوې لمفاوي غوټې به جس کېږي، لمفاوي غوټه باید د خباثت لپاره وکتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. که د Cervical د برخې لمفاوي غوټې غټې شوې وي، د خولې تشه او د Scalp برخه هم وکتل شي.
3. که د تخرګ د برخې لمفاوي غوټې غټې شوې وي، د بازو او ثدیو (Breast) برخې دې هم وکتل شي.
4. که Pararrtic برخې لمفاوي غوټې غټې شوې وي، په نارینه وو کې د بیضې (Testes) وکتل شي.

Tuberculosis.2

د Cervical د برخې لمفاوي غوټې د افت د اخته کېدو عام ځایونه دي، چې نورې برخې هم اخته کولای شي.

اعراض:

1. د ناروغ د غټې شوې لمفاوي غوټه له یو Sinusڅخه افرازات لري.
2. تبه، د شپې له خوا خولې کېدل به شتون ولري.

نښې:

1. لمفاوي غوټې به حساسې او یو له بل سره نښتې وي.
2. له لمفاوي غوټې څخه د افرازاتو او Scar جوړیدنې تایخچه به شته وي.

پلټنې:

1. ESR به لوړ وي،
2. Tuberculin ټیسټ به هم مثبت وي.
3. په X _ Ray کې به د سږو توبرکلوز نښې موجودې وي.

Leukemias.3

Lymophomas.4

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ډولونه لري:

1) Hodgkin's Lymphoma
2) Non - Hodgkin's Lymphoma

Hodgkin's Lymphoma(a

دا ډول لمفوما په ځوانانو کې ډېر وي.

اعراض:

1) پر غاړه کې د کتلې شتون يې ښه عرض دی.
2) سیستماتیک اعراض:لکه سترپا ، کمزوري، بې اشتهايي، د وزن بايلل، تبه، د شپې لخوا خولې کېدل او عمومي خارښت به شتون ولري.

نښې:

1. اول د Cervical لمفاوي غوټې اخته کېږي، چې ښايي نورې غوټې اخته کړي.
2. ځيګر او توری (Spleen) به غټ شوی وي.

پلټنې:

1. ESR به لوړ شوی وي او Normocytic او Normochromic کمخونې به موجوده وي.
2. Eosinophilia به موجوده وي.
3. د ځيګر په اخته کېدو سره به LFTs غير نورمال وي.
4. د ګوګل X-Rayاو Scan CT کې د Mediastinal Lymphadenopathy ښه تر سترګو کېدای شي.
5. د ګېډې د برخې د لفماوي غوټې د اخته کېدو پر مهال د VCG په وسيله ښه تشخيصيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

6. د لمفاوي غوټو په Biopsy کې به Read – Sternberg حجرات ولیدای شي.
7. د هډوکو مغز کې به لمفاوي حجرات ولیدای شي.

Stages of Hodgkin,s Lymphoma

Non - Hodgkin,s Lymphoma (b

دا ډول لمفوما په ډیر عمره وګړو کې ډیر را منځته کیږي.

اعراض:

1. د کتلې جس په افت ککړ غوټه کې ډیر عام عرض دی.
2. کمزورتیا، د وزن بایلل او تبه هم شونې ده.
3. خارښت نه وي.

د لمفوما اختلاطات:

1. Dysphagia.
2. Respiratory Distress.
3. Superior Vena Cava Obstruction.
4. Inferior Vena Cava Obstruction.
5. Intestinal Obstruction.
6. Ascitis.
7. Paraplegia.
8. Bone Pain.

نښې:

1. ناروغ به کمخونه (Anemic) وي.
2. تولیزه Lymphadenopathy او Hepatosplenomegly به موجوده وي.
3. په وروستیو کې د ګډې لمفاوي غوټې هم اخته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلټنې:

1. ESR به لوړ شوی وي.
2. کمخونې به Normocytic، NormoChronicیا هم Hemlytic وي.
3. د ځیګر په اخته کېدنه LFTs غیر نورمال وي.
4. Mediastinal Lymphadenopathy په ایکسري کې نه لیدل کېږي.
5. USGکولای شي، چې د ګېډې د لمفاوي غوټو نویوالی را په ګوته کړي.
6. له لمفاوي غوټې څخه Biopsy اخیستل تشخیص وروستی کوي.

Viral Hepatitis:

6. Sarcoidosis:

ځنډنی سیستماتیکه Granulomatousناروغي ده، چې ډېر سړي او لمفاوي غوټې اخته کوي.

اعراض:

1. وچ ټوخي یې پیلیز عرض دی.
2. تبه او د بندونو درد هم ډېر وي.
3. د سترګو درد یې هم ښه عرض جوړوي.

نښې:

1. په روښانه توګه لمفاوي غوټې غټې شوې وي.
2. Erythema Nodosum به وي.
3. بندونه به پرسیدلي او Iridcyclits به شتون ولري.

پلټنې:

1. ESR به لوړ شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. د سیروم کلسیم لوړیږي.
3. د ACE سویه لوړیږي.
4. ښه ځانګړنه یې دوه اړخیز Hilar Lymphade Nopathy ده.
5. Tuberculin ټیسټ به مثبت وي.
6. Kveim ټیسټ به مثبت وي.(سارکوئید انتی جن به 0.1ml داخل دپوستکی کی زرق شی په مثبت حالت کی د ۴ هفتو لپاره به ساحه پرسیدلی وی او په بایوبسی کی به سارکوئید افت مثبت وی. نن ورځ نه کارول کیږی.
7. د سږو د بین الخلایي ناروغی له کبله سږې خپله سمه دنده له لاسه ورکوي.
8. د لمفاوي غوټو Biopsy به Non - Caseating Granuloma ښودنه وکړي.

Infectious Mononucleosis:

په ځوانو وګړو کې د EP(Epstein Bar)وایروس له کبله منځته راځي.

اعراض:

لوړه درجه تبه د حادې ناروغی له پیل سره یو ځای ناروغ د ستوني درد هم لري.

نښې:

1. Periorbital Ederma .
2. Cervical لمفاوي غوټې غټوالی.
3. د توري غټوالی(Splenomegely)
4. Petechiae د نرم تالو او سخت تالو د یو ځای کېدو په برخه کې د لیدو وړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. د ستوني درد په درملنه کې د Ampicillin له توصیې څخه وروسته په ناروغ کې Maculop;uar Rash منځته راځي.

پلټنې:

1. د وینې په سلاید کې د Atypical Mononuclear Cells ټیسټونه به مثبت وي.
2. Paul – Bunnel او Monospot ټیسټونه به مثبت وي.
3. LFTs به غیره نورمال وي.

Hilar Lymph Nodes د غټوالي لاملونه:

1. Primary Pulmonary Tuberculosis
2. Hodgkin,s Lymphoma
3. Sarcoidosis
4. Metastases

Evaluation of a Patients with Lymphadenopathy:

په ډېرو وختونو کې سلیمو پېښو کې له کبله لمفاوي غوټې غټیږي، چې Biopsy ته یې اړتیا نه لیدل کېږي.

خو په لاندې حالتونو کې Biopsy ته اړتیا لیدل کېږي.

1. د ۴۰ کلنۍ څخه ډېر عمره وګړي.
2. کله چې افت د Clavicula هډوکي په پوتنۍ برخه کې وي.
3. د لمفاوي غوټې کچه له 2cm2 څخه ډېره وي.
4. غوټه سخته وي.
5. غوټه دردناکه نه وی

په لاندې حالتونو کې Biopsy څخه مخنیوی وشي:

1. له ۴۰ کلنۍ څخه ټیټ عمر لرونکي وګړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. کله چې د غوټې کچه 1cm2 څخه کمه وي.
3. غوټه به سخته نه وي.
4. غوټه به دردناکه او حساسه وي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوویشتم څپرکی

وینه لږي

Anemia

که د اړتیا وړ Hb هیموګلوبین کچه په نظر عمر، نظر جنس ته بسنه ونه کړي، وینه لږي (Anemia) ورته وایي.

په نوي زېږېدلو ماشومانو کې د Hb نورماله کچه 20gm\dl وي، چې په ناڅاپي ډول د ژوند په لومړي کال 10gm\dl ته راښکته کېږي، وروسته بیا تر ځوانیدو پورې په تدریجي ډول په ښځو کې تر 14±2)gm\dl) په نارینه وو کې تر 16±2)gm\dl) ته رسېږي.

وینه لږي به ځکه وي، چې:

1. وینه بهیدنه به شته وي.
2. د RBCs د تولید (جوړیدو) کمښت.
3. Hemolysis

دانیمیا پورې اړوند اصطلاحات:

1. MCV(mean carpuscular volume) د وینې د سري حجرې سایز ښئي.
   a. Normocyte(MCV80-100FL)
   b. Microcyte< MCV80L
      i. IDA
      ii. Thalassemia
      iii. Sidroblastic anemia
   c. Macrocyte> MCV100FL

(c) ketabton.com: The Digital Library

i. Vit-B12 defficiency
ii. Folate deficiency

2. RBC indices
3. Mean corpuscular hemoglobin(MCH)
4. Mean corpuscular hemoglobin concentration(MCHC
5. Normochromic anemia د سری حجری دهیموګلوبین غلظت MCH اوMCHC نارمل وی.
6. Hypochromic anemia د سری حجری MCHC او MCH کم وی .
7. Anisocytosis په محیطی فلم کی د سری حجری سایز یو دبل سره توپیر لری .
8. Poikilocytosis په محیطی فلم کی د سری حجری شکل یو دبل سره توپیر ولری .
9. Reticulocyte (young RBC) په نارمل حالت کی دسری حجری په محیطی فلم کی شمیر يي ۲٪ دی که شمیر يي زیات وی دمخ عظم فعالیت زیاتوالی ښئي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



د وینه لږی اعراض:

د وینه لږی اعراض د وینې د کمښت په پرمختګ او شدت پورې اړه لري، که هیموګلوبین کچه په ورو ورو ټیټیږي، اعراض هم ورو وي، خو که د هیموګلوبین کچه په بیړه سره ټیټیږي، اعراض یې هم ژر ځان رامخې ته کوي.

1. ناروغ به د بدن ټولنیزه کمزوري او زر ستړیا لري.
2. د زړه ټکان او سابندي هم شته وي.
3. بې اشتهایي.

د وینه لږی نښې:

1. خاثفوالی یې اصلي نښه ده، د کتنې نښه ځایونه یې د نوکانو بستر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوستکی (ورغوی)او د ژبې لاندې سطحه.
2. نبض ګړندی وي.
3. د نبض فشار به پراخ وي (Wide Pulse Pressure)
4. په پولنمو نري ساحه کې به د ندیز Ejection Systolic Murmar واوریدل شي.
5. Koilonychia د اوسپنې کمښت وینه لرې کې لیدل شئ.
6. Hemolytic Anemia کې خفیف زیړی تر سترګو کېږي.
7. د هډوکو بد شکلي په Thalassemia وګړو کې منځته راتلی شي.
8. د هډوکو بد شکلي په Thalassemia وګړو کې منځته راتلی شي.
9. د لینګو (Legs)تپونه د Sickle Cell Anemia یوه کلینیکي نښه ده.

د وینه لرې Anemia لپاره اړینې پلټنې:

1. د هیموګلوبین تاکل یې لومړنی ګام دی او معاینه ده.
2. په دوهم قدم کې به Reticulocyte شمېر وتاکل شي.

Reticulocyte ځوانې حجرې دي، چې د هډوکو مغز په وسیله جوړیږي، نورماله کچه٪(۱ـ۲) ده.

:Reticulocyte Index

:Normocytic Anemia

د وینې سرو حجرو **RBCs** نورمال اندازې ته وایي، په دې مانا چې د (Mean Corpuscular Voume)MCV کچه به نورمال ده.

دوه ډوله ناروغۍ دي، چې Normocytic Anemia سبب ګرځي.

Chronic Disease.A
Bone Marrow Problem.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

Chronic Disease.A

نږدې ټولې ځنډنۍ سرچینه لرونکي ناروغۍ د وینه لرې سبب کېږي.

لاملونه:

1. Chronic Infection.
2. Connective Tissue Disorders.
3. Malignancies Without Infiltration the Loone Marrow.
4. Chronic Renal Disease.

پلټنې:

1. هیموګلوبین کچه به ټیټه وي.
2. سرې حجرې به Normocytic او Normo Chronic.
3. د سیروم اوسپنې کچه به نورمال یا ټیټه وي.
4. د هډوکو مغز کتنه به د Paplasia اړوند مالومات راکړي.

: Microcytic Anemia

په دې مانا چې RBCs له نورمال کچې څخه کوچني دي، د هر وخت لپاره Microcytic وي، خو Normocytic هم کېدلی شي.
ددې ډول وینه لرې اصلي لامل د اوسپنې کمښت جوړوي.

لاملونه:

1. Iron Deficiency Anemia.
2. Thalassemia.
3. Chronic Inflammation.
4. Siderobastic Anemia.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Iron Deficiency Anemia

د وینه لږي عام ډول دی.

لاملونه:

1. Menorrhagia.
2. Repeated Pregnancy.
3. Malabsorption.
4. Nutration.
5. Blood Loss Due to.
    i) Hook Worm Infestation.
    ii) Hemorrhhage(Traumatic,Epistaxis,Hemoptysis, Hematemesis, Melana).

اعراض، نښې يې نورو وينه لږي په شان دی، خو د اوسپني په کمښت د خولې چاودیدل د خولې التهاب او Koilonychia یآده ونه ایستل شي.

پلټنې:

1) هیموګلوبین کچه به ټیټه وي.
2) سرې حجرې به Microcytic او Hypochromic وي.
3) د اوسپنې سیروم کچه به ټیټه وي.

د اوسپنې د کمښت کچې تشخیصونه:

1) TIBC(Total Iron Binding Capacity) به ډېره شوې وي.
2) Serum Ferritin به ټیټ وي.
3) Stainable Iron به په هډوکو مغز کې نه وي.

2. *Thalassemia:*

وینه لږي به Microcytic وي، دا به Hemoglobinopathy لرونکي Hemlysis وي، په هکله یې Hemolytic Anemia به کې نور مالومات

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړل شوي.

Microcytic Anemia:

دا په دې مانا چې سرې حجرې (MCV)به له نورمال څخه ډېر شوی وي.
Megaloblastic Anemiaيي اصلي لامل جوړوي.

لامل:

1) Megaloblastic Anemia (B12 Folic Acid Dificiency).
2) Hemolytic Anemia.
3) Liver Disease.
4) Alcoholism.
5) Hypothyroidism.
6) Aplastic Anemia.

Megaloblastic Anemia:

B_{12} Vitاو فولیک اسید د کمښت له کبله افت منځته راځي.
د DNAجوړیدنه ځنډیږي، ډېر وده کوونکي حجرات زیانمنیږي، لکه د Hematopoiticاو په کولمو کې د Epitheliel حجرات.
Devision Cell ورو وي، خو Cytoplasmic پرمختګ نورمال وي، حجرات غټ وي، د DNAپه پرتله RNA نسبت ډېر وي، دې حالت ته Megaloblastic Anemia وایي.

B_{12} Difficieny:

B_{12} ویټامین له حیواني خوړو څخه ډېر لاسته راځي، کمښت یې ځکه ورو په بدن کې منځته راځي، چې د درې کلونو پورې بدن کې زېرمه کېدای شي.
د پېښیدو پر مهال کمخوني شدیده وي، د خوړو له کبله یوازې هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

B_{12} ویټامین کمښت منځته راځي، چې تازه میوې او سبزیجات په رښتیني او پرله پسې ډول ونه خوړل شي، نور اصلي د کمښت یې Malabsorption ببل شوي.

لاملونه:

1. Nutritional Dificeny.
2. Pernicious Anemia.
3. Total Gastrecomy.
4. Bacterial Overgrowth.

اعراض:

1. د وینه لرې عام اعراض.
2. په لینګو کې parasthesia منځته راتلل.
3. ناروغ به پښو او لینګو کې کمزوي احساسوي.

پلټنې:

1. MCV به ډېره شوې وي.
2. نیوتروفیل به Hypersegmentend هستې ولري.
3. سیروم **B_{12}** کمښت.
4. د Schilling ازموینې په د **B_{12}** ویټامین کمښت لامل مالومول.

Folic Acid Dificeny:

د سبزیجاتو او حیواني سرچینې یې دواړه د یادولو وړ دي، فولیک اسید په کمه کچه بدن کې زېرمه کېږي.

لاملونه:

1. Nutritional Dificeny.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. Malabsorption.
3. Increased Requirement(Pregnancy,Hemolytic Anemia)
4. Drugs (Pyrimethamine ,Methtrexate).

اعراض او نښې يې د کمخونې عامې نښې او اعراض جوړوي، خو په ځښنو وګړو کې د ژبې التهاب **(Gossitis)** لړې پېښې او Neurological یو څه پېښې لیدل شوي.

پلټنې:

1. وینه لړي به marocytic وي.
2. سیروم RBC او فولیک اسید کچه به ټیټه وي.
3. Megaloblasts په هډوکو مغز کتنه کې لیدلی شو.



***Hemolytic Anemia*:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وینې سرو حجراتو ډېر تخریب شته وي، ښایي چې Inravascular (هیموګلوبین وینې ته ازادیږي)وي، یا هم Extnravascular (سرې حجرې د ماکروفاژونو په وسیله اخیستل کېږي، په تېره ځېګر او توري کې).

د Extnravascular Hemolysis لاملونه:

1. Spherocytosis.
2. Hemoglobinopathies.
3. Hyperspenism.
4. Trauma.

د Requirement د شمېر لوړوالي لاملونه:

1. Hemolysis.
2. Hemorrhage.

Autommune Hemolytic Anemias:

په دې وینه لرې د RBC په وړاندې په خپله انتي باډي جوړوي.

Coomb،s Test:

د IgG یا C_3(Complement) شتون د RBC_S په سطحه مالوموي.

Worm Antibody Autommune Hemolytic Anemias:

بدن د تودوخې درجه کابو **37^0C** تاکل شوي، ځېنې وختونه انتي باډي ګاني د بدن په یاده تودوخه کې په خپله غیر فعالې کېږي، پېښې یې په ځوانانو او ښځو کې ډېرې تر سترګو شوي.

لاملونه:

1. Idiopatathic.
2. Chronic Lymphocytic Leukemia.
3. Lymphoma.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. Systemic Lupus Erythematosis.
5. Methyldopa.

اعراض:

۱.د وينې لږي ټول اعراض به شته وي.

نښې:

1. ناروغ به خاڅ وي.
2. ښايي زېړی هم شته وي.
3. توری د جس وړ وي.

پلټنې:

1. وينې لږي به Macrocytic وي.
2. د Hemolysis Test به مثبت وي.
3. Coomb,s Test به مثبت وي.

Hemolytic Diseas of the Newborn (Rhesus Incompatibitiy):

که مور (-Rh) وي او پلار (+Rh) وي، کابو ۵۰ سلنه ماشومانو (+Rh) پيدا کېږي. د مور په لومړني زېږون کې د جنين سرې حجرې د مور وينې جريان ته ور دننه کېږي او مور ورسره حساسيت ښيي.

د مور وينه يې په وړاندې Rh(D) انټي باډي جوړوي، کله چې مور د دوهم ځل لپاره حمل اخلي، د مور دې Rh(D) جوړ کړل شوې، انټي باډي د جنين وينې ته لږدول کېږي، نو په جنين کې Hemolysis منځته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

1. ماشومان به خاتف او زېړی لري، (په ماشومانو کې Kericterus هم شوني ده).
2. پړسوب Edema هم شوني ده
3. Hepatosplenomegly به هم شوني وي.

نبني:

1. Hemoglobin به ټيټ وي.
2. د سرو حجرو غټې حجرې به مايکروسکوپ کې تر سترګو شي.
3. Unconjugated Hyperbilirobinemia به وي.
4. Direct comb,s Test به مثبت وي.

Hemoglobinopatheis:

د ګلوبين د زنځير جوړيدو پر وړاندې خنډ ته وايي، دوه ګروپه لري:

1. د امينو اسيد جوړيدل:په پولي پيپاتايد زنځير کې د ګلوبين غير نورمال والی (Sickle Cell Anemia)
2. د پولي پيتايا د ګلوبين زنځير زيانميدل (Thalassemias)

Sickle Cell Anemia:

په ګلوبين زنځير کې د امينو اسيدو غير نورمال سلسله چې Hemoglobinopatheis سره يو ځای وي، Sickle Cell Anemia منځته راوړي، په Sickle Cell Anemia کې (S)هيموګوبين شته وي، خو يو ازې يو امينو اسيد په β زنځير کې غير نورمال وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعراض:

1. د حادو دردونو ، حساسیت، تبې، Tachycardia او وېرې پرله پسې حملې.
2. د کمخونی اعراض.
3. د ودې وروسته پاتې کېدل.
4. دردناک Hematuria
5. د لینګو غنډې ټپونه.

نښې:

1. د لینګو غنډیو ټپونو شتون نښې.
2. ګوتې او د پښو غټه ګوته به پرسیدلې او حساسه وي.
3. راوتلې غاښونه.
4. توری او ځیګر به غټ شوی او حساس وي.

پلټنې:

Peripheral Film به په څرګند ډول Sickle Cell وښیي.

Thalassemias:

په هیموګلوبین کې څلور ډوله زنځیرونه پراته وي.

a) Alpha
b) Beta
c) Gamma
d) Delta
e) Thalassmias ناروغي یو Inheritid ګډوډه ده، چې Alpha زنځیر نیمایي یا بشپړ جوړیدنه پکې نه وي(که الفا زنځیر نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

α – Thalassmias او که β- Thalassmias ورته وایي.

د هیموګلوبین ډولونه:

α – Thalassmias
د زنځیر په جوړیدنه کې افت وي.
β- Thalassmias
β زنځیر په جوړیدنه کې به افت منځته راغلی وي.

Glucose-6-Phosphate Dehydrogenas Dificiency:

دا انزایم د وینې په سرو حجروRBCs کې شتون لري، د داخل الحجروي ګلوکوز په میتابولیزم کې برخه اخلي، کوم چې د RBCsلپاره د انرژۍ سرچینه جوړوي.
کمښت یې X –Linked Recessive ګډوډه ده، چې ځینې انتانات او درملونه د افت په وړاندې بیولوکې لوی لاس لري.

1.(Pyrimethamin Chloroquin,Quinine,Premaquin)Antimalarials
2.(Phenacein,Aspirin)Analgesies
3.(Ciprfloxacin,Nitrofluration,Chloramphenicol,Sulfonamides)Antibioties
4.(Depsone,Vitamin K,Quinidin)Miscellaneos

اعراض:

1) ناروغ به کمخونی وي.
2) ناروغ به خفیف زېړی وي.

پلټنې:

1. د Hemolysis پېښې به تر ستر ګو کېږي.
2. په RBCsکې به د انزایم فعالیت څرګندول ښه تشخیص را په ګوته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Congenital Spherocytosis :

یـو Autosomal Dominant حالـت دی، و وینـې سـرې حجـرې ګـردوال (Spherical) منحني ډوله بڼه غوره کړي.

اعراض:

1. ناروغ به د زېږون پر مهال یو څه وروسته په زېړي اخته شي.
2. د کمخونۍ اعراض به څرګندوي.
3. دزېړي، کمخونۍ او صفرا تیږو کورنۍ تاریخچه به شته وي.

نښې:

1. ناروغ به خاڅف وي.
2. زېړی هم خپلې نښې ښیي.
3. د توري غټوالی.

پلټنې:

1. د Hemolysis پېښې.
2. Gallstones به په USG کې را ښکاره شي.
3. په Peripheral Film کې به SPehrocytes را ښکاره شي.

Malaria:

کله چې د ملاریا پرازیت د ژوند دوره په RBCs کې بشپړ شوه، نو هغوی ماتیږي او د Hemolysis سبب ګرځي.

د Falciparum ملاریا پر مهال Hemolysis ډېر شدید وي، ارار تیاره بڼه د Hemoglobinuria له کبله اختیاروي، چې دې حالت Block Water Fever

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم وایي، په ناروغانو کې يې Acute Tubuler Necrsis هم پرمختګ کوي.

Hypersplensim:

د Hypersplensim درې کلینیکي بڼې شته:

1. Splenomegaly.
2. Anemia or Pancytopenia.
3. Hypercellular.

Schilling Test:

هغه ازموینې ته وایي، چې د **B_{12}** ویټامین د کمښت لامل مالوموي، **B_{12}**د Intrinsisفکټور باندې جوړوي او دمعدې د Partial Cell د مخاط په وسیله افرازیږي، چې وروسته بیا د Terminal Ileum له لارې بدن ته جذبیږي.

د ویټامین B12 د کښمت حالتونه:

1. Nutritional Dificeny.
2. Pernicious Anemia.
3. Total Gastrecomy.
4. Bacterial Overgrowth.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ویشتم څپرکی

د وینې ګډوډي

Bleeding Disorders

په نورمال حالت کې وینه په لاندې ډول کابو کېږي.
۱.د رګونو راتولېدل یا Spasm کول.

لاملونه:

A.Defects of Blood Vesseles:

1. (Scurvy, Henocschonlein Purpura, Stpticemio, Mening Coccal Infection) Vasclar Purpura
2. Hereditary Hemorrhagic Telangiectasia

B. Platelets Disorders

1. Thromocytpenia.
2. Idiopathic (Immune).
3. Secondry.
4. Thrombocythenia.
5. Thromboasthenia.

C. Clotting Disorders

1) Hereditary.
   i) Hemophilia.
   ii) Christmas disease.
   iii) Von Willebrand Disease.
2) Acquired
   (1) Vetamin K Deficeincy.
   (2) Oral Anti Coagulant Therapy.
   (3) Advanced Liver Disease.

(c) ketabton.com: The Digital Library

:Consumption Coagulopathy.D

1) Disseminated Intravascular Coagulation.
2) Platelets Plugs.
3) Coagulation & Fibrin Formation.

لومړي دوه ګامونه کولای شي، چې د شعریه عروقو څخه وینه بهېدنه په بشپړ ډول سره ورودوي، دریم ګام بیا له دوهم ګام څخه یو څه اغېزمن هغه په دې ډول چې دریم ګام د شعریه عروقو څخه د لویو رګونو د وینې دودرولو ځواک لري.

د Platelets او Capillary Dysfunction له کبله به د پوستکي او مخاطي غشا او لوي، جراحي عملیاتو پر مهال د وینې بهېدنې کچه ډېره وي.

که د وینې د علقه کېدو ستونزې ولیدای شي، کله هم ناروغ ته د لارو چارو سنجولو پرته جراحي عملیات نه شي تر سره کېږي.

:Bleeding Time

د شعریه عروقو (Capillary) او Platelets د ګډو ډیو شتون پر مهال Bleeding Time اوږدیږي، خو د علقه کېدو Clotting Time د وینې د بېرن کېدو ستونزو پر مهال اوږدیږي.

هغه ناروغان چې دوینې ګډوډي لري، لاندې ستونزو سره به لاس او ګرېوان وي.

1) Petechia
2) Purpura
3) Echymosis

همدارنګه د ډېرې کمې ضربې وروسته ښایي، ناروغ د وینې بهېدنې له اوریو وینه بهېدنه له پوزې وینه بهېدنې Epistoxis کانګو کې وینه (ادراکي وینه) Hemaruria,Hemoptysis,(Hematemesis) او

(c) ketabton.com: The Digital Library

Menorrhagia د دوه خصیوو تر منځ وین بهېدنه.

تعریفونه:

Petechia.1

داغ ته ورته جوړښت دی، چې کچه یې له **1m>** څخه لږه وي د وینې کوچني.

Purpura.2

د یو غټ داغ لرونکي جوړښت په څېر ښکاري، چې له **1mm** یا له دې څخه یو څه ډېر پراخوالی لري.

Echymosis.3

په غټه کچه وینه بهېدنه چې د پوستکي لاندې په رونبانه ډول ښکاري.
د وینې د رګونو د دیوالونو د کمزورتیا له کبله د وینې رګونه په ټولیزه توګه زیانمنیږي.

Vascular Purpura:

د Purpura پېښې ډېرې د پښتورګو په عدم کفایه Meningococcalسحایا التهاب او Septicmiaپر مهال منځته راځي.

Henoch – Schonlein Purpura:

معافیتي ستونزه ده، چې د تنفسي لارو په پورتنیو برخو کې منځته راځي، ښایي چې Vasculitisهم موجود وي.
کلینیکي نښې یې Arthritis,Skic Rash , Purpura, Glumerolonephritis او د ګېډې د رګونو د اخته کېدو له کبله به ناڅ د ګېډې درد ونه هم ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Scurvy :

دا ناروغي د C – Vit دکمښت له کبله منځته راځي، چې له کبله يې وري(Gums) پرسيدلې، Spongyاو په اسانۍ سره وينې کېږي.
همدارازښايي، چې دوينښتانو د فوليکلو شاوخوا هم د وينې بهېدنې نښې وليدای شي، چې ډېرى مهال د پښو ، لينګيو (Ligs) برخه کې د Echymous نښې هم رامنځته شي.
په ناروغانو کې د پلازما Ascorbateکچه ښکته وي.

Hereditary Hemorrhagic Talangiectasia:

دا ناروغي د Autosomal Dominantپه څېر لېږدېږي، وينه د هغه شعريه عروقو څخه بهېږي، چې تقبض په کې منځته نه وي راغلی.
ناروغان په پرله پسې ډول سره Hemoptysis,Epistxisلري.
شونې ده، چې Talangiectasia په مخ، لاس، د خولې مخاطي غشا ، پوزه، دخولې تشه او د معدې او کولمو برخه کې وليدای شي.

Platelets Disorders:

Platelets کېدای شي، چې د کچې له مخې يا د ځواک له مخې کمزورى وي.

Thrombocythenia:

د Platelets دتوليد د کمښت له کبله منځته راځي، چې Megaccaryocyte به د هډوکو د مغز په وسيله لږ يا بالکل توليد نه شي.
همدارانګه د Platelets د تخريب له کبله هم يا ده ستونزه منځته راځي، Megaccaryocyte به د هډوکو په مغز کې نورمال يا هم ډېر شوى وي.
خپلسرې وينه بهېدنه تر هغه منځته نه راځي، چې د Platelets کچه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

$30.000\backslash mm^3$څخه ښکته شوې نه وي.

Immune Thrombocythenia Purpura:

دا مهال په دوراني Platelets کې شديد کمښت شتون لري، داسې انګېرل کېږي، چې د Platelets له انتي باډي ګانو سره د تماس د کمښت له کبله د مکرو فاژونو په وسيله خاصې حجرې د Platelets له منځه وړل کېږي، په تيرو وختونو کې ورته Idiopathic Thrombocythenic Purpura ويل کېدل.

اعراض:

۱.ناروغ به له Platelets سره يو ځای له پوزې، خولې، هضمي او بولي سيستم څخه وينه بهېدنه لري.

نښې:

1. Purpura او د بدن له ښلا ښلو برخو وينه بهېدنه.
2. توری (Spleen)نه جس کېږي.

پلټنې:

1. Bleeding Time به اوږد شوی وي.
2. Clotting Time به نورمال وي.
3. Platselet Count به ښکته وي.
4. Megakaryocytesبه نورمال يا ډېر شوی وي.
5. Secondry Thrombocythenic Purpura

لاملونه:

1. Marrow Hypoplasia.
2. Marrow Infiltration.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. Hyperspioenism.
4. Megloblastic Anemia.
5. Systemic Lupus Erythematosis.
6. Disseminated Intrvascular Cogulation.
7. Drugs (Cytotxic,Heparins ,Sulfonamides)

کلینیکي بڼه یې له Idiopathic Thrombocythenic Purpura سره یو شان ده، خو بشپړ تشخیص یې د هډوکو د مغز د کتنې او نور معاینات تو په واسطه کوو.

Thrombocytopenia:

د Platselet کچه ډېره شوې وي، یانې تر $10.000\backslash mm^3$ پورې رسېدلی شي.

دواړه یانې Hemorrhagic او Thrombotic حملې شونې دي.

وینه بهېدنه دې ته لار جوړوي، چې د اوعیو په دننه کې کوچني Thrombotic علقې جوړې شي، چې له کبله یې نبایي، ناروغ د (Transient Ishemic Attack)TIA,Migrain او نورې ستونزې رامنځته شي، خو د یادولو وړ ده، چې ناروغ به Splenomegaly هم لري.

Thrombocytopenia:

Platselet د تعداد له مخې نورمال وي، خو ستونزه د هغې په دنده کې منځته راغلې وي، چې Glanzmann،s ناروغۍ یې د یادولو وړ ده، ځنډنۍ Myeloid Leukemios هم د دندې له مخې زیانمنه شوې وي.

Clotting Disorders:

یو یا څو علقه کوونکي فکټورونه به زیانمن شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Hemophilia:

دا یوه X – Linked Recessive ناروغي ده، دا مهال په ناروغانو کې VIII یا اتم فکټور کمښت موجود وي، ناروغي یوازې په نرانو کې منځته راځي او ښځینه کې یوازې د لېږدونکي (Carrier) دنده لري.
په بندونو او نرمو انساجو ته د وینې میلان ډېرښت مومي.

اعراض:

1. ناروغان به د بندونو شدید درد سره یو ځای د زنګون (Joint knee)له درد څخه ډېر سر ټکوي.(له کمې ضربې سره ډېره وینه بهېدنه منځته نه راځي).
2. نور اعراض یې له لږې ضربې وروسته وینه بهېدنه، د نرمو انساجو دردناک پړسوب، د عضلاتو Hematomaاو د کولمو وینه بهېدنه بللی شو.

نښې:

1. په افت ککړ شوی بند به پړسېدلی او حساس وي.
2. پړسوب او حساسیت به په نورو برخو کې هم موجود وي.
3. په عضلاتو کې به د Hematoma او عصب تخریبات د لیدو وړ وي.

پلټنې:

1. Bleeding Time به نورمال وي.
2. Clotting Time به اوږد شوی وي.
3. د Platselet شمېر به نورمال وي.
4. د اتم فکټور د (Factor VIII) ټاکل د تشخیص وروستی برید ټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Christmas Diseases :

د (XI) نهم فکټور کمښت ته وایي، چې Hemophilia ته ورته ناروغي ده.
دې ناروغۍ ته Hemophilia A یا Hemophilia B هم وایي.

Von Willebrand,s Disease:

یوه Autosomal Dominant ناروغي ده، چې دواړه نارینه او ښځینه اخته کولای شي، Platselet د عدم کفایي او علقه کېدنې افتونو سره یوځای ناروغان د VIII فکټور د کمښت سره مخ وي.

اعراض:

ښایي، برسېرن او ژور وینه بهېدنه شتون لري.

پلټنې:

1. د وینې بهېدنې وخت (Bleeding Time) ډېرښت مومي.
2. د وینې د علقې کېدو وخت (Clotting Time) ډېرښت مومي.
3. د Platselet کچه به نورمال وي.
4. د Platselet دندې:لکه Adherence او Aggregation بـه غیـر نورمـال وي.
5. VIII فکټور به کمزوری وي.

Vitmin K Deficiency:

ویټامین په ځیګر کې د IX,VII,II او Xفکټور لپاره ډېر اړین دی، د Vit K کمښت هم مهال منځته راځي، چې په بدن کې د شحمو جذب زیانمن شوی وي، نـاروغ بـه د ۲۴ سـاعتونو پـه اوږدو کـې لـه ډېـرې وینـې بهېـدنې Prothrombinوخت ډېرېدنې څخه هدف هغه مهال رمټ شي، چې د غوښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لارې يې ډوز Vit K واخلي.

Anticoagulant Therapy:

د Heparin يا هم د خولې له لارې د Anticoagulant د ډوز د ډېرښت له کبله په ناروغ کې ډېره وينه بهېدنه منځته راځي، چې ښه تشخيص يې د ناروغ د تاريخچې په مټ کېږي.

Advanced Liver Disease:

د وينې د علقه کېدو ډېر فکټورونه د ځيګر په وسيله جوړېږي، نو د ځيګر په پرمختللو نارغيو کې د وينې بهېدنې پېښې هم ډېرښت مومي.

Disseminated Intravascular Coagulation(DIC):

هغه حالت ته وايي، چې د وينې د علقه کېدو او د Fibrinد Lysis پروسه په وينه کې يو شان پرمختګ کوي.

لاملونه:

1. (Dead Fetus in Utero,Eclampsia,Abruptio Placenta ,Amniotic Fluid Embolism) Obstrical Conditions.
2. Malignancy.
3. Sever Truma.
4. Septicemia.

اعراض:

په توليزه توګه وينه بهېدنه ډېره وي.

نښې:

1. په مخاطي غشا کې به وينه بهېدنه، Purpura، Echymoses شتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري.

2. ناروغ به په څرګند ډول ناروغ ښکاري(مړي ته ورته څېره).

پلټنې:

Bleeding Time، Clotting Time، Prothrombin Time به اوږد وي

Table – 12 Diffrential Diagnosis of Platelet Disorder & Clotting Disorder

feature	Platelet disorders	Clotting
Bleeding site	Supperfacial (skin,mucose membrane,)	Deep(subcutaneous tissue ,muscle,joints,body cavities
Relation with injury	Immediated after injury	Hour to days after injury
Effect of local therapy	Bleeding usually stops	No effect
Bleeding time	Prlongged	Normal
Clotting time and other test of clotting system	Normal	Prolong

:Thromotic Thrombocytopenia Purpura (TTP)

په نوي بالغو شويو جينکو کې ډېره عامه ناروغي ده، چې د بېلا بېلو غړيو په رګونو کې Platelet Thrombi منځته راځي.

1. ناروغان به Anemia Hemolyiuc، د سپينو کرويـاتو Thrombocytopenia, Fragmentation ځايي هم خپاره عصبي زيانونه، د پښتورګو اخته کېدنه او تبه لري.
2. د علقه کېدو اړوند ازموينې به نورمال وي.

:Hemolytic Uremic Syndrome

1. دا سنډروم **TTP** ته ورته ده، خو دلته په پښتورګو پورې اړونده ستونزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

